# احمد شاه مسعود او روسان

## وسله، نېشه يي توکي او قيمتي ډبرې





راټولوونکی او ژباړن: پولاد افغان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احمد شاه مسعود او روسان

## وسله ، نېشه يي توکي او قيمتي ډبرې

راټولوونکی او ژباړن

پولاد افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوی او ښښونکی خدای (ج) په نامه

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: احمد شاه مسعود او روسان

راټولوونکی او ژباړن: پولاد افغان

چاپکال: ۱۳۹۱ل/۲۰۱۲ز کال

چاپشمېر: ۱۰۰۰ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن سریزه

پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد یرغل او په افغانستان کې د نوموړي هېواد د پوځونو څه کم لس کلن شتون زموږ د هېواد د اوسني تاریخ یو تر ټولو ډېر خونړی پېر ګڼل کېږي. د دغه خونړي پېر په اړه ګڼ شمېر روسي لیکوالو، په تېره بیا په افغانستان کې د جګړې ګډونوالو ډېر کتابونه لیکلي، چې ځینې یې پښتو ته راژباړل شوي او چاپ شوي هم دي. خو په روسیه کې تر اوسه په ځانګړي ډول د جهادي ډګري بولندوی احمد شاه مسعود او روسانو ترمنځ پټو اړیکو په اړه داسې کوم کتاب نه دی چاپ شوی، چې دغه پټ اړیکي دې په بشپړ ډول ډاګیزه او بربنډ کړي او فکر نه کیږي چې په راتلونکې کې دې هم دا کار وشي. په دې اړه یوازې ځینو بهرنیو او په دې لړ کې پخپله ځینو روسي سرچینو خپرونې کړې، د بېلابېلو لیکنو (مقالو)، یا هم ځینو مستندو فېلمونو په اډانه کې یې دغه پټ اړیکي افشا کړي دي. په دې کتاب کې هم له همدغو بېلابېلو چاپي او برېښنايي سرچینو څخه توکي راټول شوي او دا کتاب ترې اوډل شوی دی.

هغه لاسوندونه چې په دې کتاب کې راټول شوي، ډېری یې له داسې روسي چاپي او برېښنايي خپرونو څخه دي، چې ناپېیلې یا نیمه ناپېیلې دي، ځکه خو یې د پېښو انځورنه په عیني ډول کړې ده. په دې شمېر کې دا خپرونې ګډون لري لکه د روسیې «کومېرسانت»، «نېزاویسیمایا ګزېته»، د «ورېمیه نووستی»، «کامسامولسکایا پراودا»، «ارګومېنتي نېدېلیې»، «اتکریتایا اېلېکترونایا ګازېته»، د «مسکوفسکي کامسامولېڅ»، «نووایا ګازېته» ورځپاڼې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

«پروفیل» اوونیزه مجله، د «یتوګي» مجله، د «سپېڅناز-رو» اوبپاڼه، د «ار. بي. کې» خبرې اژانس اوبپاڼه، د «اې. پي. اېن» سیاسي خبرونو اژانس اوبپاڼه، د «سېم دنېی» اوونیزه خپرونه، د فرغانې خبري اژانس اوبپاڼه، د بي بي سي راډیو د روسي څانګې اوبپاڼه، د قزاقستان د «کانتینېنت» مجله او داسې نورې نامتو سرچینې.

ما په لومړي سر کې دومره تمه نه درلوده چې زه دې د دغې سکالو په اړه دومره توکي راټول کړای شم، هغه هم له روسي رسنیو څخه، خو زما د یو کال په بهیر کې پرله پسې هلو ځلو او پلټنو ښه پایله ورکړه او زه وتوانېدم چې د یو کتاب د اوډلو په موخه ښایسته ډېر توکي له بېلا بېلو سرچینو راټول کړم.

اړینه ده وویل شي چې په ډېری روسي رسنیو کې مسعود د یو ستر، برجسته شخصیت په ډول انځور شوی. روسي رسنیو له ده څخه ملي اتل جوړ کړی. په روسي رسنیو کې د مسعود لپاره بېلا بېل نوم ونه، ویاړلي لقبونه کارول شوي او کارېږي، لکه جنرال مسعود، د طالبانو ضد شمالي ټلوالې پوځي مشر، «د پنجشېر زمری»، «د پنجشېر شپږم زمری» او داسې نور.

په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د ناکام سیاست او د شوروي پوځونو له څه کم لس کلن ناکام او خونړي شتون، چې هیڅ ډول کومې پایلې یې ور نه کړې، روسان په دې فکر کې کړل چې د افغانستان په څېر یو وروسته پاتې هېواد او ملت څنګه وکولای شول چې د شوروي په څېر یوې سترې او پیاوړې امپراتورۍ پر وړاندې دومره کلک مقاومت وښیي. شوروي اتحاد د افغانستان د جګړې په مسله کې پر نړیوال کچ ډېر کم راغی او یو نړیوال شرم یې په برخه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر افغانستان باندې د نوموړي هېواد تېرى او د دغه تېري ناکامې پايلې په نړيوالو رسنيو کې په ويتنام کې د امريکا د متحده ايالاتو له پاتې راغلې جګړې سره پرتله شوې. ښکاره خبره وه چې د شوروي اتحاد او راوروسته بيا د روسيې د لوړو سياسي کړيو لپاره دا پرتله د منلو وړ نه وه. پېښنو داسې وښوده چې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو تر وتلو وروسته، له افغانستان څخه د کسات اخيستلو پلان او ستراتېجي جوړه شوې وي.

په منځنۍ اسيا او افغانستان کې د روسيې د بهرني سياست لپاره ارزښتناکه سکالو په دغه سيمه کې د خپل اغېز ساتل او پياوړي کول وو او ده. روسيې غوښتل چې له يوې خوا د سيمې هېوادونه تر خپل اغېز لاندې ولري، له بلې خوا د افغانستان کړکېچ له خپلې سويلې پولې څخه لرې هماغلته په افغانستان کې ساتلى پاتې شي.

پر افغانستان باندې د روسيې د اغېز لپاره اړينه وه چې په دغه هېواد کې داسې مخور کسان خپل لور ته راجلب کړي چې هم په اسانۍ د جلبېدو وړ وي، هم په هېواد کې که د ډېرو نه، نو د يو شمېر وګړيو ملاتړ ورسره وي، د دې لپاره چې په راتلونکې کې پرې خپل شوم پلانونه پلي کړي. شورويانو په دې برخه کې په افغانستان کې ان لا د خپل تېري پر مهال خپل کار کړى او ځانګړې ستراتېجي يې جوړه کړې وه. په دې لړ کې احمد شاه مسعود يو له هغو کسانو څخه وو چې روسانو پرې حساب کاوه او دا يې په پام کې نيولې وه چې په دغه هېواد کې خپل شوم پلانونه د ده او ده ته ورته کسانو پر مټ پلي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خونړۍ پېښې چې په افغانستان کې پر ۱۳۷۱ لمریز (۱۹۹۲) ز کال واک وڅواک ته د مجاهدینو تر رسېدو وروسته د دغه هېواد په پلازمېنه کابل او نور ټول هېواد کې رامنځته شوې، نه یوازې له افغان ولس څخه، بلکې د روسانو پر ګډون د نړۍ له هیڅ یو ولس څخه پټې پاتې نه شوې او پاتې کېدای هم نه شوای. روسان په دې پوهېدل چې دغه خونړۍ پېښې د برهان الدین رباني او د هغه د ډګري بولندوی مسعود د واکمنۍ پر مهال له نورو سیالو جهادي تنظیمونو سره په جګړه کې ترسره شوې، نو ښکاره خبره ده چې د افغان ولس په وړاندې دوی پړه دي او په هېواد کې د دغه خونړي ناورین ټوله پازه به د دوی او د دوی د نورو سیالو جهادي تنظیمونو پرغاړه وي. د دغو خونړیو پېښنو او وحشت په رامنځته کېدو سره نه یوازې نورو جهادي تنظیمونو او د هغوی مشرانو، بلکې مسعود هم لږ و ډېر نوم چې درلود له لاسه ورکړ، د هېواد د خلکو له خوا پرې بېلا بېل بد لقبونه او نومونه کېښودل شول او پر وړاندې یې کرکه راپیدا شوه.

روسان په دې پوه شول چې د دوی پخوانی ملګری مسعود نور هغه لږ نوم، چې درلود له لاسه ورکړ، نو یې دې ته ملا وتړله چې د نویېمو زېږدي کلونو په نیمایي کې د طالبانو غورځنګ تر راپیدا کېدو وروسته ورسره پټ اړیکي بیا ټینګ کړي، پټې لیدنې کتنې ورسره وکړي، له خپل دې جنګسالار ملګري څخه یو لوی شخصیت جوړ کړي او د افغانستان پر خلکو یې د یو درغلي اتل په توګه وتپي.

د روسیې «راسیسکایا ګازېته» ورځپاڼې پر ۲۰۰۱ ز کال د مسعود تر وژنې وروسته په یوه لیکنه کې، چې لیکوال یې رسنوال «ولادیمیر سنېګیرېف» وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیکل: «افغانستان په خپل اوسني تاریخ کې تر ټولو ستر سپه سالار له لاسه ورکړ.»

د ۲۰۰۳ ز کال د سیپټمبر پر ۹ د «پراودا . رو» برېښ ورځپاڼې په «دوه کاله بې مسعوده» لیکنه کې څرګنده کړه: «که چیرې مسعود ژوندی پاتې وای، د طالبانو کار به یې اوس ورختم کړی وای.»

روسي رسنوال «پاول بوداکیموف» په خپله یوه لیکنه کې، چې «لومړی پنجشېر» نومېده ولیکل: «احمد شاه مسعود د میلیونونو افغانانو لپاره یو سپېڅلی شخصیت وو.»

په دې ډول په نورو ګڼ شمېر ورځپاڼو، مهالنیو، ټلویوزیوني چینلونو کې نورې ډېرې داسې خپرونې خپرېدې او خپرېږي چې په هغوی کې له یوه ډګري بولندوی او جنګسالار څخه یو سپېڅلی شخصیت، تر ټولو پیاوړی پوځي، سپه سالار او اتل جوړېږي او نږدې دی چې د فرانسې مارشال دېګول، د هند مهاتماګاندي، او د سویلي افریقا جمهوریت نېلسن ماندېلا ترې جوړ کړي. په روسیه کې له مسعود څخه د شخصیت جوړولو کمپاین اوس هم روان دی او د دې کار لپاره د ده د وژنې کلنی تلین ښه پلمه ده.

له یو ډګري جنګسالار بولندوی څخه د اتل جوړولو کمپاین د افغانستان په جمیعت ګوند کې هم روان وو او دی. موږ او تاسې یې په خپلو سترګو لیدلای شو چې په مصنوعي ډول له مسعود څخه د شخصیت جوړولو هلو ځلو څومره افراطي بڼه غوره کړې ده. په افغانستان کې په تېره بیا په پلازمېنه کابل کې نږدې په هر واټ، په هره لویه څلورلارې، هره لویه موسسه او نږدې هر دوتر کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود بې شمېره ځوړند انځورونه سړي ته په پخواني شوروي اتحاد کې د ولادیمیر لېنین بې شماره مجسمې او انځورونه په یاد راولي. په شوروي اتحاد کې کمونیستي زورواک رژیم له لېنین څخه د شخصیت کېش جوړ کړی وو. په هره لویه دولتي موسسه یا د هغې په مخ کې به د لېنین پژۍ (مجسه) ولاړه وه. د هر ښار په مرکزي برخه کې به د ده پژۍ جوړه شوې وه. د هر ښار لوی او مرکزي واټ به د لېنین په نامه یادېده. خو کله چې پر ۱۹۹۱ ز کال شوروي اتحاد له منځه ولاړ او پر ځای یې ۱۵ خپلواک دولتونه رامنځته شول، نو نه یوازې چې په پخوانیو شوروي جمهوریتونو کې، بلکې پخپله په روسیه کې د لېنین ټولې پژۍ ړنګې او له منځه یوړل شوې، یوازې په یو نیم ځای کې یې کومه یوه نیمه پژۍ پاتې ده.

مسعود پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل او د افغانانو د مقاومت پر کلونو له شورویانو سره روغه جوړه وکړه او له هغوی سره یې پټه دوستي ټینګه کړه. مسعود یو داسې پټ پلان درلود چې د روسانو او ایرانیانو په مرسته د افغانستان په شمال کې د «مسعودستان» په نامه یو داسې تاجک ژبی دولت جوړ کړي چې پښتانه پکې نه وي. په دې ډول افغانستان دوه ټوټې او کمزوری کړي. په دې کتاب کې په دې اړه ځینې لاسوندونه راغلي او لوستونکي به یې ولولي.

مسعود لا د جهاد پر کلونو له روسانو سره د همکارۍ ژمنه وکړه او له هغوی څخه یې دا هیله وکړه چې د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند او ځینو نورو سیالو جهادي تنظیمونو پر ضد له ده سره مرستې وکړي. په دې ډول یې د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد او هېودوالو پرضد د يو بهرني يرغلگر هېواد او يرغلگر پوځ ملگرتيا خپله کړه. مسعود او د ده نورو ملگريو د ۱۳۷۱ لمريز (۱۹۹۲) ز کال په پسرلي کې د هېوادمشر ډاکتر نجيب الله د حکومت له کمزورۍ نه په کار اخيستنې سره، د دغه حکومت د يو شمېر ياغي جگپوړيو چارواکيو او جنرالانو په مرسته د ملگرو ملتو سازمان د سولې پلان شنډ کړ او له دې لارې يې وکولای شول چې پر کابل يرغل وکړي.

په دې کتاب کې راټول شوي او راژباړل شوي لاسوندونه دا په ډاگه کوي چې د پخواني شوروي اتحاد د دفاع وزارت د ستر درستيز د کشف او پوځي څارگرۍ دوه افسران له مسعود سره د پټو اړيکو ټينگولو ته گومارل شوي ول. له دغو دوو افسرانو څخه يې يو ډگرمن «اناتولي تکاچيوف» او بل ډگرمن «دميتري وېرېټېنيکوف» ول. «اناتولي تکاچيوف» چې کله لومړی ځل د ۱۹۸۲ ز کال د جنوري پر لومړۍ نېټه له احمد شاه مسعود سره په پنجشېر کې پټه ليدنه کتنه وکړه، نو بيا يې په دې اړه د شوروي اتحاد دفاع وزارت ته رپوټ ورکړ. دی په دې اړه داسې وايي: «ما د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد د دفاع وزارت لومړي مرستيال «س. سوکولوف» ته، له احمد شاه سره د کار کولو د پايلو د رپوټ ورکولو پر مهال وويل چې مسعود د کارمل د حکومت پر وړاندې دوښمنانه چلند لري. «سوکولوف» وپوښتل: «په افغانستان کې له چا سره کېدای شي چې سړی جوړ راشي؟» ما په ځواب کې ورته وويل چې په هېواد کې تر ټولو ډېر اغېزمن او باا توريته سړی احمد شاه دی او له ټاکليو شرايطو سره کېدای شي چې سړی ورسره جوړ راشي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال «وارېنيکوف» د يوې روسۍ ورځپاڼې له رسنوال سره په مرکه کې د مسعود په اړه ويلي وو: «دی د دولت د کچې سړی دی. له ده سره سړی کولای شي سمې خبرې وکړي او سړی ورسره جوړ راشي.» (دا مرکه په همدې کتاب کې لوستلای شئ. ژ)

د هېواد او ټولنې لپاره يو ځوک هغه مهال شخصيت کېدای، برجسته کېدای، يا هم اتل کېدای شي چې خپل هېواد او ولس ته يې په رښتيا هم ستر او نه هېرېدونکي خدمتونه کړي وي. نن ورځ په هېواد کې دننه د مسعود ټول واکمن پلويان همدا نارې وهي چې دی يو ملي اتل دی. خو هيچا هم تر اوسه دا ثبوت نه کړه چې هېواد او ټولنې ته د کوم خدمت په مقابل کې ده ته دا اتلولي ورکړ شوې؟ د ده او رباني د واکمنۍ پر مهال نه يوازې چې يو پول هم نه دی جوړ شوی، بلکې هغه څه چې شتون يې درلود هغه ټول له بېخه او بنسټه ړنګ او ويجاړ شول. ده له خپل استاد رباني سره د څلور کلنې واکمنۍ په بهير کې په هېواد کې له نورو سيالو وسله والو جهادي تنظيمونو سره د واک وځواک پر سر خونړيو جګړو کې په لسګونو زره بې ګناه خلک په وينو کې ولمبول. هغه وحشت چې په افغانستان کې په څلور کلنه (۱۹۹۲-۱۹۹۶) جهادي واکمنۍ کې پر دغه هېواد او د دغه هېواد پر غمځپلي ولس تېر شوی د هيچا د هېرېدو نه دی او زموږ د هېواد تاريخ به يې هم په خپله حافظه کې د همدې ډول يو پېر په توګه ثبت کړي.

نن ورځ د مسعود او د هغه د سيالو تنظيمي ډلو د کړنو په اړه ګڼ شمېر لاسوندونه شتون لري چې ځينې يې چاپ شوي او ځينې نور يې د وخت انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library

باسي. سرببره پر دې، زمونږ درانه هېوادوال او لوستونکي کولای شي، د دې موضوع په اړه د انټرنېټ په «یوټوب» کې پر لیکه شوي مستند فېلمونه هم وګوري. دا فېلمونه په دې وروستیو کلونو کې پر لیکه شوي او ښه غږیز او انځوریز لاسوندونه دي. د دغو مستندو فېلمونو برېښنایي پتې په لاندې ډول دي:

-**Afghanistan war Kabul 1992**

-**Kodata-e 1371**

-**Afghanistan, Kabul/war 1992, Babrak Karmal KGB & ISI**

-**Kodata 1992/1371-** در امتداد فاجعه سقوط

-**Kodata e 1992**-۱۳۷۱ صحنه های از جریانات کودتای

-**Dr.najibullah** د ۱۳۷۱ کال د کودتا جریان

همدا راز اړینه ده وویل شي چې پر ۲۰۰۹ ز کال د روسیې د «رېن . ټي . وي» ټلویزیوني چینل له خوا د احمد شاه مسعود او روسانو تر منځ د پټو اړیکو په اړه یو نوی مستند فېلم جوړ شوی. دغه فېلم په نوموړي ټلویزیوني چینل کې ښودل شوی او پر ۲۰۱۰ ز کال په یوټوب کې هم پر لیکه شوی دی. فېلم په روسي ژبه دی چې پېښځه برخې لري او ښايي چې تر اوسه پښتو یا دري ژبې ته نه وي راژباړل شوی. په یوټوب کې د دغه فېلم برېښنایي پته داسې ده:

**Ahmad Shah Massoud - док.фильм Ахмад Шах Масуд**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسعود له ټول هویت سره سره چې خلکو ته څرګند دی، د «افغان نیوز» خبري اوبپاڼې له خبرونو سره سم، پر ۲۰۰۲ ز کال د لویې جرګې په ترځ کې افغان هېوادمشر حامد کرزي ده ته د ملي اتل لقب ورکړ او د مړینې تلین یې هر کال په هېواد کې لمانځل کېږي. دا چې ښاغلي حامد کرزي دا کار د کومو بهرنیو یا کورنیو فشارونو لامله، د مصلحتونو پر بنسټ او یا یې هم په خپله خوښه کړی کوم توپیر نه لري. خو دا ښکاره ده چې ده مسعود ته د دې لپاره د اتلولۍ لقب ورکړی چې له پلویانو څخه یې غوړونه ارام وي، په ارامۍ سره د افغانستان پر پلاز پاتې شي او خپله واکمني وکړي. دا په بشپړه توګه یو بې نیاوه (غیر عادلانه) ګام، له هېواد، ټولنې او تاریخ سره جفا او خیانت دی. د حامد کرزي دغه پرېکړه د افغان ولس له سخت منفي غبرګون سره مخ شوې او غندل شوې ده.

هېوادمشر حامد کرزي په لومړیو کلونو کې په هر ځای کې، په هره وینا کې همدا نارې وهلې چې غواړي هېواد او ټولنه له جنګسالارۍ څخه وژغوري، خو د کړن په ډګر کې هر څه معکوس پلي شول. نن ورځ موږ ټول افغانان په خپلو سترګو وینو چې په هېواد کې واک و ځواک د احمد شاه مسعود د ملګریو او یا هم هغه ته ورته جنګسالارو په لاس کې دی. حکومت د همدغه پرونیو تش په نامه جهادي مشرانو او ډګري بولندویانو له خوا په بدې خوړلو او فساد کې ښکېل او افغان ولس یې یرغمل کړی دی. زموږ رسنۍ او هېوادوال د حکومتي چارواکیو له داره سپین ویل نه شي کولای. په هېواد کې له ځینو بریالیتوبونو سره سره چې رامنځته شوي، یوه مافیایي فضا واکمنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د وزیرانو شورا ، ولسي جرګې او مشرانو جرګې سږ کال د وږي د میاشتې ۱۸ ، چې د مسعود د وژنې ورځ ده، په هېواد کې د شهیدانو د ورځې په نامه نه، بلکې یوازې د یو کس یانې مسعود په نامه ونوموله. په دې اړه د لوستونکیو پام د پژواک خبري اژانس دوو خبرونو ته را اړوم:

# ولسي جرګې خپله پرېکړه ماته کړه

خبریال اباسین زهیر. ۲۰۱۲ / ۵ / ۱۹

کابل، پژواک، ۱۳۹۱ لمریز د غويي ۳۰

ولسي جرګې خپله پرېکړه ماته کړه او د وږي ۱۸مه یې د«ملي اتل شهید احمدشاه مسعود او شهیدانو ورځې» په نوم ونوموله.

ولسي جرګې د غويي پر ۲۷ مه د وزیرانو شورا هغه مصوبه رد کړه چې له مخې یې د وږي ۱۸مه د احمدشاه مسعو په نوم نومول شوې وه او دغه ورځ ملي رخصتي وه. جرګې د غويي په ۲۷مه د رایو په اکثریت پرېکړه کړې وه، چې د وږي ۱۸مه دې د « شهیدانو ورځې» په نوم ونومول شي او عمومي رخصتي دې وي.

احمدشاه مسعود د ۱۳۸۰ کال د وږي په ۱۸مه په تخار ولایت کې د دوو عربو له خوا په ځانمرګي برید کې ژوند له لاسه ورکړ او وروسته په لویه جرګه کې د ملي اتل لقب ورکړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي جرګې په نننۍ عمومي غونډه کې د کابل استازي محمد یونس قانوني وویل چې د ملي یووالي په موخه باید د احمد شاه مسعود نوم په کلیزه کې شامل کړای شي. قانوني زیاته کړه چې د تېرې ورځې په پرېکړه کې یو شمېر وکیلان سهوه شوي دي. هغه وایي: «وکیلانو فکر کړی چې د شهیدانو د ورځې سره د احمدشاه مسعود نوم هم شامل دی، ځکه یې مثبته رایه ورکړې ده.»

د قانوني دا غوښتنه په داسې حال کې ده، چې د ولسي جرګې د داخلي دندو د اصولو په ۲۷ ماده کې راغلي: "د جرګې د یو ثلث حاضرو غړیو په غوښتنه او د ټولو غړیو د دوو ثلثو په تصویب هغه موضوع، چې وړاندې ولسي جرګې تصویب کړې وي تعدیل او یا له منځه تلای شي. "

قانوني په داسې حال کې، چې د جرګې په نننۍ غونډه کې ۱۲۹ تنه حاضر وو او د ټولو غړیو دوه ثلثونه پوره کوي ، وویل : "د دې لپاره، چې ملي یووالی مو ساتلی وي پروا نه کوي که د کورنیو دندو اصول پرې مات شي. "

په ولسي جرګه کې د ننګرهار استازې ارین یون غوښتل چې د قانوني پر خبرو نیوکه وکړي، خو په جرګه کې د تخار استازي رییس عبدالباقي ملک زاده د میز په ډبولو سره د یون خبرې پرې کولې. په دغه جرګه کې د پکتیکا استازې ناجیه بابکرخېل ارګونوال له ملک زاده څخه غوښتنه وکړه چې د مېز په ډبولو سره دې مزاحمت نه کوي، تر څو یون خپل اعتراض وړاندې کړي.

وروسته د تالار په منځ کې شور ماشور جوړ شو، امنیتي کسان هم د غونډو تالار ته ننوتل ، خو د محمد یونس قانوني په غوښتنه شور ماشور غلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي جرگې لومړي مرستیال ظاهر قدیر، چې ننني غونډه یې تر مشرۍ لاندې جوړه شوه وویل: «احمدشاه مسعود یوازې د پنجشیر نه، بلکې د ټول افغانستان شهید دی.» ده زیاته کړه، هغه کسان چې غواړي د مسعود نوم دې بیرته په کلیزه کې داخل شي شنه کارتونه دې پورته کړي.

د اداري پلاوي د معلوماتو له مخې، په جرگه کې له ۱۲۹ حاضرو وکیلانو څخه ۱۲۸ تنو شنه کارتونه پورته کړل. یوازنی وکیلې، چې سور کارت یې پورته کړی و، په دغه جرگه کې د ننگرهار استازې ارین یون وه. یون پژواک خبري اژانس ته وویل چې د ولسي جرگې ننني پریکړه د دې جرگې د داخلي دندو خلاف کړې ده. یون پرته له دې چې د چا نوم واخلي، وویل: "د دې پریکړې د کولو لپاره د جمعې په شپه میلمستیاگانې شوې، پیسې ویشل شوې او نورې وعدې ورکړل شوې دي.»

د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د معلوماتو له مخې، د وږي ۱۸مه د ۱۳۹۰ کال د مرغومي پر ۱۱مه د وزیرانو شورا د پریکړې له مخې د "ملي اتل شهید احمدشاه مسعود " په نوم ونومول شوه او دغه ورځ عمومي رخصتي شوه. سرچینه زیاتوي، د وزیرانو شورا د پریکړې له مخې هغه اوونۍ هم د شهیدانو په نوم یاده شوه چې د وږي ۱۸مه په کې راځي.

# مشرانو جرگې هم د وږي ۱۸مه د احمدشاه مسعود او شهیدانو ورځې په نوم تایید کړه

خبریال اباسین زهیر. ۲۰۱۲ / ۵ / ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل، پژواک د ۱۳۹۱ لمریز کال د غبرگولي ۷

مشرانو جرگې هم تایید کړه چې د وروړي ۱۸ دې د "ملي اتل شهید احمدشاه مسعود او شهیدانو ورځې" په نوم ونومول شي او عمومي رخصتي دې وي.

د وزیرانو شورا تېر کال د مرغومي په میاشت کې پرېکړه وکړه چې د کار د قانون په ۴۱ ماده کې دې ورزیاته شي چې د وروړي ۱۸ دې د "ملي اتل شهید احمدشاه مسعود او شهیدانو ورځې" په نوم ونومول شي او عمومي رخصتي دې وي. د وزیرانو شورا د دې مصوبې له مخې هغه اوونۍ دې هم د شهیدانو په نوم یاده شي چې د وروړي ۱۸ په کې راځي.

خو ولسي جرگې د غوبيي په ۲۷ پرېکړه وکړه چې د وروړي ۱۸ دې د "شهیدانو ورځې" په نوم ونومول شي، عمومي رخصتي دې وي او هغه اوونۍ دې هم د شهیدانو د اوونۍ په نوم شي چې د وروړي ۱۸ پکې راځي.

ولسي جرگې د غوبيي په ۳۰ خپله پرېکړه ماته کړه او د وروړي ۱۸ یې بېرته د "ملي اتل شهید احمدشاه مسعود او شهیدانو ورځې" په نوم ونوموله.

په مشرانو جرگې که هم نن ځیني کسانو ویل چې دغه ورځ دې د "شهیدانو" په نوم ونومول شي خو ځینو نورو د ولسي جرگې د پرېکړې ملاتړ کاوه. په دغې جرگه کې د کندهار استازي حاجي امان الله وویل چې افغانستان ډېر شهیدان ورکړي او که یوازې د یو شهید نوم یادیږي دا به ملي یووالي ته زیان ورسوي. د هغه په وینا، د وروړې ۱۸ دې د افغانستان د ټولو شهیدانو په نوم ونومول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امان الله زياتوي: "د هر شهيد لپاره که يوه يوه ورځ رخصت اعلان کړو اخر به ټولې ورځې رخصت شي او دولت ته به د کار يوه ورځ هم پاتې نه شي. "

په دغې جرگه کې د هلمند استازی شبر محمد اخندزاده هم وايي چې د شهيدانو ورځ بايد د يو کس لپاره ځانگړې نه شي؛ ځکه افغانستان په ميليونونو شهيدان ورکړي دي. هغه زياتوي: "که چېرې د يو کس په نوم د شهيد ورځ نوموو، د احمدشاه مسعود پر ځای بايد د استاد رباني په نوم يوه ورځ ونومول شي؛ ځکه چې رباني د مسعود رهبر وو. "

وروسته د مشرانو جرگې په نننۍ غونډه کې له حاضرو **۵۳** تنو څخه يې **۲۹** رايه ورکړه چې د وږي ۱۸مه دې د "ملي اتل شهيد احمدشاه مسعود او شهيدانو ورځې" په نوم ونومول شي. مشرانو جرگې هم تاييد کړه چې دغه ورځ دې عمومي رخصتي وي او هغه اوونۍ دې هم د شهيدانو د اوونۍ په نوم ياده شي چې دغه ورځ په کې راځي.

له پورتنيو خبرونو څخه څرگنده شوه چې په هېواد ، حکومت او پارلمان کې واک د داسې کسانو په لاس کې دی چې تر پرونه پورې د جهادي مشرانو او بولندويانو په نامه يادېدل، خو له اره جنگسالاران دي او هويت يې زموږ ټولو افغانانو ته څرگند دی. هغه کومې پرېکړې چې دوی غواړي پلې شي او د دوی په گټه وي، هغه د مېلمستياوو ، پيسو او ان وسلې په زور هم په خلکو منلای شي.

دلته به د مسعود په اړه د افغانستان د تاريخ حکم ته د درنو لوستونکيو پام راواړوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسعود په اړه د افغانستان د تاریخ حکم

اسد الله جلال ،کابل

د افغانستان په معاصر تاریخ کې که یوازې دوه- درې څېرې هم داسې وي چې زموږ د ویاړلي وطن د تاریخ پاڼې پرې شرمېدلی شي، بې له شکه چې یوه دغسې څېره د احمد شاه مسعود ده.

نن چې د سیپټمبر نهمه نېټه او د دغې څېرې د مرګ له کالیزې سره برابره ده، زموږ نږدې ټول هېوادوال د هغه په مرګ اوښکې نه تویوي، دا ځکه چې هغه د خپل واک د ټینګښت لپاره د ډېرو بېګناه افغانانو وینې او اوښکې بهولې دي.

هغه د شوروي په وړاندې د افغانانو د سپېڅلي مقاومت په جګړو کې ستر خیانت وکړ او د جهاد او مقاومت په هماغو ګرمو او اورنیو شېبو کې یې له روسانو سره نه یوازې دا چې د ورورۍ تړون لاسلیک کړ، د افغان مقاومت د نورو ټولو ډلو په ځپلو او له منځه وړلو کې یې هم ورسره د بې دریغه ملاتړ رسمي ژمنه وکړه چې له نېکه مرغه ټول هغه اسناد چې خپله روسانو هم خوندي کړي او بیا بیا خپاره کړي دي.

په راوروسته کې د ملګرو ملتونو د سوله ییز پلان د شنډولو لپاره د هغه او یو شمېر کمونیستي او ستمي کړیو توطیئه د افغانستان د داسې بربادۍ سبب شوه چې ټول افغانان یې له نږدې څخه شاهدان وو او لا دي. د هغه او ملګرو له برکته یې ټول افغانستان په کنډواله بدل شو او یوازې په کابل کې پنځوس زره بې ګناه افغانان ووژل شول. نوموړی په افغانستان کې د قومي او ژبنۍ تفرقې او کرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤسس او قهرمان دی او له همدې امله یې ټول افغانان د افغانستان د ملي خائن په توگه پېژني.

دا چې سږ کال هم په کابل کې ځینو ځانگړیو ډلو او حلقو د بېلابېلو موخو او یا د مصلحتونو له مخې د هغه دروا غجنې لمانځنې وکړې، زموږ د خلکو کرکه یې د هغه په وړاندې نوره هم زیاته کړه. کاشکې د مسعود پېژندنې په داسې غونډو او سیمینارونو کې د وطن ریښتینو بچو او د تاریخ څېړونکو ته هم د څه ویلو موقع ورکړل شوې او د سر د امن تضمین یې شوی وای، بیا به نو زموږ خلکو ته داسې څېړې او کړه وړه یې په ښه توگه بربنډ شوي وای.

زموږ ولس د دومره کمزورې تاریخي حافظې لرونکی نه دی چې خپل ریښتیني اتلان او دروا غجن اتلان سره جلا نه کړای شي.

که خدای (ج) کول ډېر ژر به د داسې ملي خاینانو یادنښې رنگې او تصویرونه به یې د وطن د اصیلو بچو په لاسونو د اور د لمبو خوراک شي او دا به د مصلحتونو خبره نه وي، دا د افغانستان د تاریخ حکم دی.

دغسې یو حکم نن په کابل کې د افغانستان د یو گڼ شمېر تاریخ پوهانو په یوه پټه غونډه کې د احمدشاه مسعود په هکله صادر شو او غواړو چې د هېواد په دننه او بهر کې ترې ټول هېوادوال خبر کړو. د تاریخ دغه حکم وایي:

مسعود د افغانستان د تاریخ یو ملي خاین دی، هغه د پردیو یو غلام و او غلامان هیڅکله هم نه دي اتلان شوي. هغه په افغانستان کې د ملي تفرقې اتل او د افغانستان د ملي وحدت غلیم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ـ د ۱۳۸۳ کال د سنبلې ۱۹

د ۲۰۰۴ کال د سیپټمبر نهمه

له لرا او برا وبپانې څخه

د افغانستان د تاریخ دغه حکم په ځینو اوبپانو کې خپور شوی او ګڼ شمېر لوستونکي ترې خبر هم دي. دلته یې متن ځکه اړین وبلل شو چې د دې کتاب له موضوع سره ټینګ تړاو لري او د هغو هېوادوالو لپاره د یو ځل بیا خبرتیا په توګه هم دی چې تېروتي دي، تر اوسه یې لا زموږ د هېوادني اوسمهاله تاریخ پېښې سمې، رښتونې او عیني نه دي شنلې.

اړینه ده وویل شي چې د دې کتاب په دویمه برخه کې په نیشه یې توکیو او د هېواد د قیمتي ډبرو ، په تېره بیا پنجشېر زمردو په را ایستنه او سوداګرۍ کې د مسعود لاس لرلو په اړه توکي راغلي دي. په کتاب کې ټول راټول شوي لاسوندونه له بشپړې امانتدارۍ سره راژباړل شوي چې درانه لوستونکي یې د لوست لپاره رابولم. هیله من یم چې د ټولو لپاره به ګټور واقع شي.

زموږ په جګړه ځپلي هېواد افغانستان کې د یوې تلپاتې سولې په هیله.

په درنښت

د ۱۳۹۱ لمریز کال د وږي ۱۲

د ۲۰۱۲ ز کال د سیپټمبر ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

# احمد شاه مسعود او روسان

## د مسعود لنډه پېژندنه

احمد شاه مسعود (۱۹۵۳ ز-د ۲۰۰۱ ز کال د سیپټمبر ۱۰) یو افغان ډگري بولندوی او د برهان الدین رباني د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د دفاع وزیر وو. مسعود د ده لقب وو چې په عربي ژبه کې د «نېکمرغه» مانا لري. دا لنډ نوم ده پر ۱۹۷۵ ز کال د ځان لپاره غوره کړی وو، هغه مهال کله چې ده د پنجشېر په دره کې د هغه مهال افغان حکومت پر ضد بغاوت وکړ.

مسعود پر کام تاجک وو. دی د پنجشېر ولسوالۍ د جگدلک په کلي کې د ډگروال دوست محمد په کور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل په استقلال لېسه کې پای ته رسولې. پر ۱۹۷۳ ز کال د کابل د پولي تخنیک انستیتوت د ودانیزو چارو په پوهنځي کې شامل شو، خو پر ۱۹۷۳ ز کال د شاهزاده داود خان تر کودتاه وروسته د پاکستان پېښور ته کډوال شو او هلته له اسلامي اپوزیسیون، چې مشري یې برهان الدین رباني کوله، سره یو ځای شو.

پر ۱۹۷۵ ز کال یې په پنجشېر کې په هغه ناکام پاڅون کې برخه واخیسته چې د داود خان پر ضد شوی وو. د دغه پاڅون د ناکامۍ په پایله کې مسعود پر پښه تېښه او د جوارو په پټیو کې یې ځان پټ کړ. د پلټنې پر مهال یې سرتېري پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ تېر شول، خو دی يې ونه موند ، بخت يې ملګری وو او د سرتېرو له نېونې يې وکولای شول چې ځان وژغوري.

مسعود پر ۱۹۸۸ ز کال د خپل نږدې مرستندوی له لور سره واده وکړ، په پايله کې يې شپږ اولاده وزېږېدل چې د هغوی له شمېر نه يې يو زوی دی چې احمد نوميږي او د ايران د مشهد په ښار کې يې زده کړې کړې دي.

دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې مسعود پر ۱۹۸۲ ز کال (ياني په شوروي اتحاد کې د اندروپوف د واکمنۍ په لومړيو کې) له شوروي پوځونو سره روغه جوړه وکړه.

ده له رباني سره په ګډه د افغانستان د اسلامي جميعت ګوند مشري کوله. دغه ګوند د ۱۹۹۰ ز کلونو په لومړيو کې اعلان وکړ چې غواړي د افغانستان په شمال کې يو داسې بېل دولت جوړ کړي چې پښتني نه وي، ياني پښتانه پکې نه وي.

پر ۱۹۸۹ ز کال له افغانستانه د شوروي پوځونو تر وتلو وروسته يې د افغانستان شمال ختيځه سيمه لکه پروان، تخار، بغلان، بدخشان سيمه تر خپل لاس لاندې وګڼله، د دغې سيمې پلازمېنه يې تالقان وټاکه او هغه يې د «مسعودستان» په نامه ونوموله. دغې سيمې خپل حکومت، خپلې پيسې او وسله وال پوځ درلود چې شمېر يې ۲۰ ( شپېتو زرو ) ته رسيد.

پر ۱۹۹۲ ز کال د مسعود او دوستم ځواکونو کابل ونيو، د نجيب الله حکومت يې راوپرزاوه او مسعود د دفاع وزير شو. په همدغه وخت کې يې له ګلبدين

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمتیار سره، چې دا مهال کابل ته نږدې ځای پر ځای وو، مخامختیا او ډغرې پیل شوې.

د ۱۹۹۴ ز کال په جنوري کې ګلبدین حکمتیار له دوستم سره یو ځای په یوه اتحاد کې پر کابل باندې واک وځواک ته د رسېدو په خاطر له احمد شاه مسعود سره پوځي جګړه ییزه مخامختیا پیل کړه. [ایا په دغه جګړه کې د احمد شاه مسعود ګډون د واک ځواک په خاطر جګړه نه وه؟ ټولو افغانانو ته څرګنده ده چې د دغې جګړې او په هغې کې د لسګونو زرو افغانانو د وژنې پازه نه یوازې د نورو، بلکې د مسعود پر غاړه هم ده. ژ]

وروسته تر هغه کله چې پر ۱۹۹۶ ز کال په افغانستان کې مرکزي واکمني د طالبانو لاس ته ورغله، «مسعودستان» بیا په پښو ودرېد او د شمالي ټلوالې په تشکیل کې شامل شو. د شمالي ټلوالې مشري احمد شاه مسعود په خپل لاس کې واخیسته. [دا خبره هم د روسي سرچینې مبالغه ده چې کړې یې ده. په شمالي ټلواله کې داسې مشران هم ول چې د احمد شاه مسعود مشري یې کورټ نه منله. دغه ټلواله د څو ډګري خپلواکو یا نیمه خپلواکو جهادي بولندویانو یو اتحاد ته ورته کوم څه وو. ژ]. مسعود له ۱۹۹۹ ز کاله راهیسې له سي. ای. اې سره ټینګه همکاري درلوده.

د ۲۰۰۱ ز کال د سیپټمبر پر ۹ د مرکې پر مهال پر احمد شاه مسعود ځانمرګی برید وشو. ځانمرګو برید کوونکیو ځانونه د رسنوالو (ژورنالیستانو) په بڼه چمتو کړي ول، چاودېدونکي توکي یې په ویډیویي کمره کې پټ کړي ول. تر چاودنې وروسته مسعود سخت ټپي شوی وو چې د دې بلې ورځ، یانې سیپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ۱۰ مړ شو. پر راتلونکي لنډ مهال د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو له خوا په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد عملیات پیل شول چې د شمالي ټلوالې ځواکونو یې هم ملګرتیا وکړه. په پایله کې د طالبانو واکمني پای ته ورسیده او «مسعودستان» هم له منځه ولاړ.

۲۰۱۱ ز کال، د اپرېل ۲۲، روسی برېښنايي پوهنغونډ (۱)

# «زما د ایجنټانو په شمېر کې شوروي جنرالان هم شامل ول»

له مسعود سره د نامتو روسي رسنوال «ولادیمیر سنېګیریوف» مرکه:

[...] مسعود لا شل کلن شوی هم نه وو چې خپله لومړۍ ډله یې جوړه کړه. دغه ډله یې هم د ده په څېر زده کړيالو نه جوړه وه ، او هماغه مهال یې د محمد داود د حکومت پرضد جهاد پیل کړ.

پوښتنه: داود خو سم مسلمان وو ، تاسو یې ولې پرضد جهاد پیل کړ ؟ له هغه سره جګړه کول څه مانا درلوده ؟

ځواب: مسعود زما د پوښتنې په ځواب کې وویل: تاسو تېروتنه کوئ. هغه پر خپل ځان کمونیستان راټول کړي ول او په اصل کې یې شوروي تېري ته زمینه مساعده کړه. خو زما اصلي او لویې جګړې هغه مهال پیل شوې ، کله چې تره کي په کابل کې د واک واګې په لاس کې واخیسې. هغه مهال زموږ د ډلې شمېر ۲۰ کسه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: اوس مو څومره وسله وال کسان تر لاس لاندې دي ؟

ځواب: دا یو پوځي راز دی ، چې نه غواړم افشا یې کړم. یوازې دومره تاسو ته ویلای شم ، چې زموږ پوځي ډلې د افغانستان په ۱۲ ولایتونو کې جنګیږي او په اتو ولایتونو کې زموږ خلک مطلق ډېری دي.

پوښتنه: بیا نو بله پوښتنه. هغه سیمه چې ستاسو تر کنترول لاندې ده ، په هغې کې څومره افغانان ژوند کوي ؟

ځواب: په تخمیني ډول د افغانستان د ټولو وګړیو دریېمه برخه.

مسعود د دریو ساعتونو په بهیر کې زما ټولې پوښتنې ځوابولې. ما دې ته پام وکړ ، چې هغه له شوروي پوځ سره د جګړو په اړه پوښتنو ته خورا په مینه مینه ځوابونه ویل. دی د خپلو جګړو لپاره تر ټولو بریالی ۱۹۸۴ زېږدي کال بولي ، کله چې له یو کال روغې جوړې او پوخلاینې وروسته څلوېښتم اردو وپتېیله ، چې حسابونه یې ورخلاص کړي.

مسعود : روسانو لویې او پرېکنده جګړې ته د لوی او کره چمتووالي لپاره له اوربند څخه کار واخیست. د دوی پلان دا وو ، چې [ د پنجشېر . ژ ] دره کلابنده کړي ، له ټولو لوریو پر دره بریدونه وکړي او په پایله کې په بشپړه توګه زموږ ځواکونه له منځه یوسي. د تېرو کلونو غمجن درسونه یې په یاد ول ، نو ځکه یې د عملیاتو تفصیلات پټ ساتلي ول ، تر دې چې ان د کابل جګپوړې مشري یې هم پرې نه خبروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه کال پسرلی اوږد وو ، کوتلونه او غاښي له واورو ډک ول ، نو د دوی په اند له همدې کبله به موږ ونه شو کولای ، چې له پنجشېر نه کومې خواته ووزو . خو هر څه په سرچپه ډول سره پای ته ورسېدل . هو ، دا تر ټولو ډېره سخته او زموږ لپاره تر ټولو ډېره ویارمنه جګړه وه .

پوښتنه : اجازه راکړئ ...نو شوروي جنرالان خو وايي ، چې همدغسې وو ، خو په چپه ډول ، یانې چې په هغه جګړه کې تاسو ته زیان اوښتی وو . د ساري په توګه د یوه جنرال لید د " تېري " په کتاب کې هم راغلی دی . هغه برخه به یې تاسو ته اوس ولولم : «د عملیاتو په بهیر کې موږ څو زره کسه یاغیان له منځه یوړل ، ګڼ شمېر مو یرغمل ونیول او کابل ته مو واستول . زموږ د سرزیان ډېر لږ وو . ډېره ولجه مو لاس ته راغله . "

مسعود نری موسکا وکړه ، په کتاب پسې یې لاس را اوږد کړ . دا کتاب ما او " د . ګای " په ګډه لیکلی دی . دی له خپل یوه هغه سکرتر څخه ، چې روسي ژبه یې زده ده ، هیله کوي ، چې د دې کتاب ټولې هغه برخې چې د پنجشېر په عملیاتو پورې اړه لري ، د ده لپاره تر سبا سهاره پورې وژباړي .

ځواب : د سرزیان په اړه به وروسته وغږېږو . اوس نو که تاسو مخالف نه یاست زه به خپلو خبرو ته دوام ورکړم . هغه مهال د دوو لاملونو له مخي بری زموږ وو . لومړی دا چې ، خدای پاک له موږ سره مل وو . دویم ، پر هغه کال چې اوربند او روغه جوړه اعلان شوې وه ، موږ هم لاس تر زنې لاندې ناست نه وو . موږ په بشپړه توګه د دوښمن په ټولو اړخونو ځان پوه کړ ، موږ تر کوشنیو جزیاتو پورې خپله ستراتېجي وسنجوله بیا مو د هغې پر بنسټ خپلې کړنې پر مخ بوتلې . په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ستراتېجۍ کې زموږ د کړنو او کارندتياوو بېلابېل ځېلونه ( وريانتونه ) په پام کې نيول شوي ول ، البته له هغه څه سره سم ، څه چې دوښمن په پلان کې لرل. هغه مهال موږ ته دا هر څه روښانه ول ، چې موږ بايد خپلې اضافي اډې وکاروو ، هغه اډې چې موږ د همدې لپاره له درې څخه د باندې په ګاونډيو ولايتونو کې جوړې کړې وې. موږ پرېکړه وکړه ، چې د روسانو لپاره جبهه اوږده کړو.

د هغو عملياتو له پيل څخه ۲۴ ورځې مخکې ، ما ستاسو د بولندويي د پلانونو په اړه بشپړ مالومات درلودل ، زه له ټولو جزياتو څخه خبر وم: هغه دا چې ، کوم کوم ځايونه به بمباري شي ، کله او چېرته به ديسانت راښکته شي ، د بريد کوونکي پوځ شمېر به څومره وي ، او کوم ډول وسله به وکارول شي. دا ټول جزيات ان ستاسو د بولندويانو تر نومونو پورې ماته مالوم ول.

پوښتنه: بېخي هېښنده خبره ده. نو تاسو خو مخکې وويل ، چې دا عمليات ډېر پټ چمتو شوي ول. ؟

ځواب: هو ، همداسې وه ، خو ما په هر ځای کې خپل خلک درلودل ، له هغه شمېر نه ستاسو د افسرانو په منځ کې مې هم خلک درلودل. د هغوی له شمېر څخه يې ځينو په پيسو کار کاوه ، ځينو نورو يې په دې خاطر راسره همکاري کوله ، چې په پټه يې له موږ سره لېوالتيا درلوده. يو مهال به خپل يادښتونه چاپوم ، په دغو يادښتونو کې به په دې اړه مفصل بيان وکړم. سربېره پر دې ، موږ د کابل په سفارتونو کې خپل مخبران لرل. زموږ يوه له ډېرو ښو سرچينو څخه د هند په سفارت کې وه.

پوښتنه: په شوروي سفارت کې مو هم مخبران درلودل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: هو ، هلته هم ځینو خلکو زموږ لپاره کار کاوه.

هغه څوک چې دې خواته راځي ، داسې احساس کوي ، چې دلته سم کلک دفاعي حالت چمتو شوی دی. په اصل کې په دره کې یوازې څو ۱۵ یا ۲۰ کسیزې ډلې پاتې دي. دغو ډلو ته امر شوی وو ، چې پاس په غرونو کې ځای پر ځای شي ، او هلته په پټه څار وکړي.

کله چې ستاسو پوځونو ولیدل ، چې په دره کې د خدای یو بنده هم نشته ، نو لومړی وارخطا شول ، او بیا په غوسه شول. موږ په دغه وخت کې له پنجشېر څخه بهر په څو شوروي پوځي ځایونو باندې څو گوزارونه وکړل. موږ دوښمن تېر ایست. شورویانو یو څه مهال هڅه کوله چې موږ تعقیب کړي ، خو ډېر ژر ستړي شول او دا کار یې پرې ښود. دا جگړه موږ وگټله.

پوښتنه: ښه ، نو د سرزیان مو څومره وو ؟

ځواب: زما د وژل شویو مجاهدینو شمېر ، چې د پنجشېر په دره او نورو سیمو کې د جگړو په ټوله موده کې وژل شوي ، له ۷۰۰ کسو څخه زیات نه دی. ښکاره خبره ده ، چې سوله ییز وگړي ډېر وژل شوي. په لومړي گام کې همدغه سوله ییز وگړي د هوایي بمباریو ، توغندیو او توپچي له گوزارنو څخه ډېر کړېدل.

مسعود له ډېرې لېوالتیا سره د خپلو پوځي بریالیتوبونو په اړه کیسه کوله ، او داسې یې دوام ورکړ : اوس نو ماته څرگنده شوه ، چې ستاسو بولندویي به تاکتیک بدل کړي ، هرو مرو به هڅې وکړي ، چې د چورلکو دیسانت په ښه ډول سره وکاروي. همداسې هم وشول. زه غواړم ووایم ، چې که چیرې د تېرې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړيو کلونو کې داسې پېښې شوي وای ، نو دې تاکتيک به موږ ته ډېر زيان رااړولی وای ، خو اوس وخت له وخته تېر وو . [...]

زما ډلې تل له دې خبرې وې ، چې ديسانت به پر کومه لاره تېر شي . هغوی د کمين لپاره مخکې له مخې مناسب ځايونه نيول . معمولا يې دوښمن پرې ښوده ، چې تېر شي ، بيا يې وروسته ناڅاپي ګوزار پرې کاوه او پخپله په غرونو کې تيتېدل . شورويانو ته د سر ډېر زيان ورواوښت او دوه درې مياشتې وروسته د لوبې له ډګره ووتل .

پوښتنه : ايا په دومره موده کې له يو وړ دوښمن سره هم نه ياست مخامخ شوي ؟ ما دا پوښتنه ترې وکړه ، خو مسعود ډېر بې رحمه دی :

ځواب : نه ، يو وړ دوښمن مې هم ونه ليد ! شوروي بولندويان د درسي کتابونو له مخې جنګېدل ، هغه درسي کتابونه ، چې دوی په اکاډميو کې لوستي ول . خو په دغو درسي کتابونو کې په دې اړه هيڅ هم نه وو ليکل شوي ، چې د چيريکيانو پر وړاندې څه ډول بايد جګړه وشي ، هغه هم په تېره بيا په غرونو کې .

پوښتنه : مهرباني وکړئ ووایاست ، د ۸۹ زېږدي کال په فبرورۍ مياشت کې ، زموږ د پوځونو د وتلو پر مهال څه پېښ شوي ول ؟ ويل کيږي ، ستاسو او هغو شوروي پوځونو ، چې د سالنګ په سيمه کې مېشت ول ، تر منځ د اوربند اعلان او هوکړه شوې وه ؟ دا اوربند دواړو لوريو مراعت کړی وو ، خو وروسته ، لکه څنګه چې زه خبر شوی يم ، د نه پوهېدو وړ څه پېښ شول : هغه دا چې ، زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي ځواکونو د لويې لارې په اوږدو کې پر کليو باندې ډېره سخته او درنه بمباري کړې وه. دا رښتيا ده ؟

ځواب : شورويانو څو څو واره موږ په ډېرې مکارۍ سره تېر ايستي يو . د سالنګ بمباري هم له همدغو تېرايستنو څخه يوه تېرايستنه وه . د پوځونو تر وتلو مخکې د پروفيسر رباني له سلا سره سم موږ هر ډول پوځي عمليات بند کړل. په سالنګ کې زموږ بولندوی له شوروي جنرالانو سره وکتل ، هغوی ده ته ډاډ ورکړ ، چې پر مجاهدينو به ډزونه نه کوي. خو يوه ورځ ګهيځ وختي هوايي ځواکونو د شوبلو او توپچي په مرسته لارې ته نږدې د لسګونو کليو پر بمبارۍ پيل وکړ. زموږ د شمېرنو له مخې ، هغه مهال تاسو څه د پاسه ۷۰۰ کسه سوله ييز وګړي ووژل. ماته ووايا ست ، ولې دوی ووژل شول ؟

...ما نو څنګه کولای شوای ، چې د ده ځواب ورکړم او څنګه يې ورته تشريح کړم ؟ پخپله په افغاني جګړه کې زموږ ګډون يو جنايت وو . هره ورځ کوشني او لوی جنايتونه ترسره کېدل. داسې هم پېښې شوي ، چې ځينې سرتېري ، واړه ضابطان او بريدمنان محاکمه شوي ، او ان چندماري شوي هم دي. خو هيچا ، هيڅ وخت دا هڅه نه ده کړې ، چې د ډله ييزو وژنو د پېښو پلټنه وکړي ، د داسې ډله ييزو وژنو پېښې ، لکه په سالنګ کې چې شوې وه. [...]

پوښتنه : تاسو د هغو پروسو په اړه څه ليد لرئ ، چې اوسمهال په پخواني شوروي اتحاد کې پېښېږي ؟

ځواب: موږ د شوروي امپراتورۍ ړنګېدل ډېر ښه ګڼو ، او دا پخپله د مسکو د امپراتوريز سياست د پای مانا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسنوال: ښکاره خبره ده ، چې ما به هم پر مسعود باندې د باټو ( باټې وهونکي ) فکر کړی وای ، که چیرې تر دې دمه له دې خبر نه وای ، چې پر ۱۹۸۵ زېږدي کال زموږ د بهرنۍ ځارگرۍ له خوا د ده د ایجنټورۍ شبکه افشا شوې وه . د ایجنټورۍ دغې شبکې د افغانستان د ستر درستیز د کشف په اداره کې پټ کار کاوه . مشر یې هم د کشف ریس جنرال خلیل وو . وروسته د کې . جي . بي یوه جگپوړي افسر ماته په دې اړه وویل ، چې د شوروي افسرانو په منځ کې د مسعود د ایجنټانو د پیدا کولو او افشا کولو کار له پاسه کوم چا په لوی لاس ځنډاوه او په دې لاره کې یې خنډونه اچول. هغه مهال له ما سره مجلس کوونکي داسې اټکل وکړ : " داسې ښکاري ، چې هلته ډېرې غټې پیسې په کار اچول شوې دي. یا هم قیمتي ډبرې. داسې ، چې غټه برخه یې مسکو ته ځي. "

فاکټ بیا هم فاکټ پاتې کیږي: د نړۍ ټول کمپاین په اوږدو کې ، له ټولو هغو پرېکړو ، چې زموږ د بولندویي له خوا به کېدې ، څخه مسعود خبرېده. [...]

پوښتنه: تاسو څو عرادې شوروي پوځي تخنیک نیولی او له منځه وړی ؟

ځواب : څومره چې مو له منځه وړی د هغه په اړه هلته په مسکو کې پوښتنه وکړئ ، هلته به یې هغوی ته شمېر کره مالوم وي ، چې څومره وو . زر عرادې. موږ په لومړي سر کې دروند تخنیک له ځان سره نه بووه ، هغه زموږ لاسونه او پښې راتړلې ، خو کله چې موږ پیاوړي شولو ، نو بیا مو شوبلې هم درلودې ، زغره وال گاډي ( ۲۰ - پي . پي ) مو هم درلودل ، او توپونه مو هم . ان دوې چورلکې مو هم وې. موږ ټوله هغه وسله چې تاسو کابل ته رالېږلې وه ، درلوده ، البته پرته له " سکاډ " توغندیو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: دا ټول کلونه زموږ د ځانګړیو دندو پوځونه ، پوځي کشف او هوایي ځواکونه ستاسو په ښکار پسې راوتلي ول. څه شي له تاسو سره مرسته وکړه ، چې له مرګه وژغورل شوئ. ؟

ځواب: موږ الله وژغورلو ، ښه د کشف ضد کشف او بخت. موږ هیڅ مهال پر یو ځای ډېر وخت نه پاتې کېدلو . لس ځلي به یې زما د بولنتون ( قرارګاه ، قوماندانۍ ) سیمه بمباري کړې وي ، شاوخوا به خلک ووژل شول ، خو زه ان ټپي شوی هم نه یم. هر څه په خدای پاک پورې اړه لري. د هر چا د ژوند موده خدای پاک ټاکي.

یوه ورځ مې د روخې کلي ته نږدې په مخابره کې د ( ایف ایم ) په څپو کې له خپل یوه بولندوی سره خبرې کولې. ده له ما پوښتنه وکړه ، چې زه اوس چېرته یم ؟ ما له همدغه ځایه چې زه پکې وم ، یو کیلومتر لرې د بل کلي نوم ورته یاد کړ ، چې هلته یم. لس دقیقې وروسته اته جګړه ییزې الوتکې راغلې او هغه کلی یې په خاورو او دوړو بدل کړ.

زه پوهېږم ، چې اوس تاسو ډېرې ستونزې لرئ ، ژوند ستونزمن دی ، خو زه په دې باور یم ، چې پیل شوي بدلونونه به په راتلونکې کې ښه پایله ورکړي.

پوښتنه: ویل کیږي ، چې تاسو مسکو ته د مجاهدینو د پلاوي د سفر ملاتړ ونه کړ او د خبرو اترو په وړاندې مو منفي غبرګون وښود ...؟

ځواب: برعکس. موږ د سیاسي روغې جوړې د ایډیې ملاتړ کوو ، او له هغو پایلو سره ، چې پلاوی له مسکوه راستون شو ، هغه مو ښې وارزولې. موږ هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

من یو ، چې خبرې اترې به پایینه ( ادامه ) وموممي او لاس ته راغلې هوکړې به پلې شي.

پوښتنه : له دغو هوکړو څخه یوه هم زموږ د یرغملو په اړه ده . دغه یرغمل له تاسو سره هم شته. دغه هلکان [ موخه یې هغه شوروي پوځي یرغمل دي ، چې له مسعود سره ول. ژ ] څه مهال کولای شی ، چې هېواد ته راستانه شي ؟

ځواب: زه نیت نه لرم ، چې له دې څخه کوم پټ راز جوړ کړم ، یا خو د یرغلمو پر مسله سوداګري وکړم. ستاسو د هغو پخوانیو سرتېرو ، چې له موږ سره دي ، بشپړ نوملیک ما پروفیسر رباني ته ورکړی دی. په دغه سیمه کې چې اوس موږ او تاسو سره ناست یو او خبرې کوو ، څو کسان شته ، چې تاسو کولای شئ له هر یوه سره یې خبرې وکړئ ، او په دې ډاډمن شئ ، چې ټول روغ او جوړ دي. کوم کالي چې موږ اغوندو دوی یې هم اغوندي. کومه ډوډۍ چې موږ خورو ، دوی یې هم خوري. هر کله چې یې موږ ووینو ، چې تاسو رښتیا هم کابل ته د شوبلو ( ټانکونو ) ، توغندیو او چورلکو ورکول بند کړل ، نو دغه یرغمل به هم خوشي شي. د دوی برخلیک اوس په بشپړه توګه په تاسو پورې اړه لري.

احمد شاه مسعود پر خپله خبره ودرېد او پر دې بله ورځ موږ کولای شول ، چې زموږ د هلکانو له یوې ډلې سره وګورو ، هغه هلکان ، چې د افغانستان جګړه لا د دوی لپاره پای ته نه ده رسېدلې. په دې اړه به په بله ګڼه کې خبرې کوو.

ولادیمیر سنېګیرېف، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «ترود» ورځپاڼه، ۲۲/۱/۱۹۹۲ ، ( ۲۱۵۳۸ ) ۱۴ ګڼه. د دې ليکنې بربښنا يي بڼه د **۳۴۵** شمېرې د پسانت غونډ په اوبپاڼه کې خپره شوې ده. (۲)

# ځوک ، ځوک دی؟

له مسعود سره د " ساوېرشېننه سيکرېتنه " خپرونې لپاره د روسي رسنوال (ژورناليست) " ميخاييل سېرديوکوف " مرکه

[...] موږ د پنجشېر درې په منځ کې ليدنه کتنه وکړه ، د جنګلک کلي په سيمه کې ، د يو لوړ غره له پاسه. دلته پر دې لوړ ځای يو ختېين - ډبرين کور هم وو ، داسې کور چې د دې سيمې لپاره بشپړ يو عادي کور وو او سړي ته يې نيمه ړنګه شوې کلا ورپه يادوله. د غره په اړخ کې يوه باغچه وه ، چې د انګورو تاکونه ، د مڼو ، الوچو ، شلتالو او خوبانيو ( زرد الو ) ونې پکې ولاړې وې. باغچې ته نږدې يو ارام سړی ، لږ څه د خلکو خندنی سړی ، چې نه بدلېدونکی پکول يې پر سر او تسپې يې په لاس کې وې راتېر شو. ماته يې وچ لاس او کلک ورغوی را اوږد کړ. ما د ده نسواري سترګو ته وکتل ، هغوی موسکۍ وې ، نو پوه شوم ، چې ژوندی به پاتې شم. ځکه زما دا کيسه په ياد وه ، چې يو مهال په همدغسې يوه صحنه کې ، له يو سړي سره د مخامخېدو پر مهال د احمد شاه له سترګو ناڅاپه بربښنا رابنکاره شوه ، ځکه چې هغه سړی ځارګر وو او ده يې په وړاندې دا ډول غبرګون وښود. دا سړی ده ته د ده دوښمنانو د رسنوال په بڼه رالېږلی وو.

پوښتنه: ستاسو کومه بوختيا تر ټولو ډېره خوښيږي ؟

ځواب: لوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: د شپې پر مهال څه شی لولئ ؟ البته پر ته له اوپراتيفي خبرونو.

ځواب: که شونتيا وي ، نو د هادېر اثار لولم. دا يو ډېر ښه پارسي شاعر دی. د ده شعرونه زما سندره ده ، پر ما ښه لګيږي.

پوښتنه: نن ورځ ستاسو دوښمن څوک دی او دوست مو څوک ؟

ځواب: د افغانستان دوښمنان زما دوښمنان دي. زه تل هغه ځواکونه دوښمنان بولم ، چې زموږ پر ولس جګړه تپي. دا ځواکونه نن ورځ پاکستان او هغه څوک دي ، چې د ده تر شا ولاړ دي. اته کاله مخکې هم شوروي اتحاد وو ، خو کله چې مجاهدين بريالي شول او ستاسو پوځونه ووتل ، نو له روسيې سره زموږ اړيکي ډېر ښه شول. نن ورځ په مسکو کې د افغانستان سفارت کارنده کار کوي. موږ له روسي ولس ، د دغه ولس د " نوې څپې " له سياستوالو سره ګټورو دوه اړخيزو اړيکو ته لېوال يو ، هغه سياستوال ، چې زموږ پر هېواد باندې يې شوروي تېرى غندلى دى. ...زه ۴۳ کلن يم. زما ټول نيکونه پوځيان ول ، د افسرانو په توګه يې دنده درلوده. زما پلار د ډګروالۍ تر رتبې ورسيد ، خو څه موده مخکې د يوې ناوړه پېښې په ترځ کې ووژل شو. هغه نه غوښتل ، چې زه د دود له مخې " کورني کسب " [ يانې د افسرۍ مسلک . ژ ] ته ادامه ورکړم ، نو هغه وو چې له ښوونځي وروسته د کابل په پوليتخنيک انستيتيوت کې شامل شوم. دوه کاله نېکمرغي وه: زده کړه ، شعرونه ، موسيقي ...ورپسې پاچا ظاهر شاه راوپرزېد او د داود کودتاه وه. په هېواد کې ګډوډي راغله ، نو ځکه خو دې ته اړوتم ، چې وسلې ته لاس کړم.

پوښتنه: تاسو پخپله کوم ډول وسله تر ټولو ښه ګڼئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: د کلاشنيکوف ماشينګنه. دې ماشينګنې زما لپاره د درسي کتابونو او قلمونو مانا درلوده او د هغوی بلونج (بدیل) وو.

پوښتنه: نن تاسو افسوس نه کوئ، چې زده کړې مو خوشې کړې دي؟

ځواب: ښکاره خبره ده، هر سالم انسان غواړي، چې ښې زده کړې ولري، په پوهنه کې پر خپلو بریالیتوبونو وویاړي، نه دا چې پر ژوندیو ننښو باندې د ډزونو پر کولو ...په ډېرې خواشينۍ سره، حالاتو زه دې ته اړ ايستم، چې پر جګړې لاس پورې کړم.

پوښتنه: تاسو خپل ځان يو شتمن انسان ګڼئ؟

ځواب: زه شتمني نه لرم.

پوښتنه: د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو له اتحاد سره د جګړې پر مهال، ستاسو پلرني ټاټوبي، پنجشېر درې ته دوه ځلي شوروي پوځونه ننوتي ول، له دې سره سره چې په ټنو ټنو درنې شوبلې يې درلودې، خو بيا هم له تاسو ډاربدل، ولې؟

ځواب: په دې اړه اړینه ده له هغه چا پوښتنه وشي، چې له هغه سپين سترګي تېري څخه ژوندي پاتې دي.

پوښتنه: نو ايا تاسو پخپله نه شئ کولای، چې له شوروي اتحاد سره د مقاومت پر کلونو خپل خدمتونه وارزوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: غوږ ونیسئ. دا د کوم یو شخص خدمت نه ، بلکې د ټولو مجاهدینو د پرله پسې سختې مبارزې پایله ده ، د هغو مجاهدینو ، چې د خپلواکۍ لپاره د خپلو سپېڅلو ارمانونو په خاطر وژل کېدل ، خو دوښمن ته نه تسلیمېدل. تاسو دا ومنئ ، چې زموږ مورال او روحیه د هغو پوځیانو ، چې د پردي دولت د نیولو لپاره رالېږل شوي ول ، له مورال څخه تو پیر درلود .

پوښتنه: ایا په ټوله کې په جگړه کې مورال او اخلاق شته ؟

ځواب: زه په دې ډاډمن یم ، هغه څوک تل ریښتوني دي ، چې د خپل هېواد دفاع کوي . همدا اوس هم د طالبانو تر بیرغونو لاندې په ډېرې سپین سترگۍ سره پاکستانیان روان دي ، خپل کار کوي ، او موږ دا کړنې یو تېری بولو . دا چې حالت په دې ډول رامنځته شو ، نو اوس هر مجاهد پوهیږي ، چې جگړې ته د څه لپاره ځي او که د الله پاک رضا وه ، نو پکې وژل کیږي به هم . طالبان پر خپله ریښتیاینه دا ډول ډاډ نه لري او نه شي کېدای چې ویې لري. [...]

پوښتنه: ستاسو لپاره داسې کوم تاریخي شخصیت شتون لري ، چې تاسو ورته د درناوي سر ټیټ کړئ ؟

ځواب: هو ، هغه دې گول دی.

پوښتنه: له اوسنیو سیاستوالو څخه څوک ستاسو د درناوی وړ دی ؟

ځواب: له اوسنیو څخه ؟ هیڅوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: ستاسو پرضد داسې روسي جنرالانو جګړې کړې ، لکه " وارېنیکوف ، ګروموف ". ایا تاسو غواړئ ، چې اوس ورسره برعکس دوستانه اړېکي ولرئ ؟

ځواب : " وارېنیکوف " ماته دا اخطار راکړې وو ، چې که پر لاس ورغلم ، نو سولۍ ( اعدام ) به مې کړي . اوس دا ټول څه تېر شوي ، هغه مهال حالات همدغسې ول... موږ ګڼ شمېر روسي افسران یرغمل کړي ول . کله کله به کوم جنرال هم یرغمل شو . د هغوی په وړاندې هر څه چې وو ، موږ هڅه کوله ، چې له بشردوستۍ څخه کار واخلو . د وخت په تېرېدو سره مو ټول خوشي کړل. زه فکر کوم ، که چیرې یې " وارېنیکوف " ماته یرغمل راوستی وای ، نو هیڅ کوم بد چلند به ورسره نه وای شوی.

پوښتنه : خو که چیرې تاسو ده ته پر لاس ورغلي واست ، نو هرو مرو به یې سولۍ کړي واست ، یا خو به یې تاسو ته " د تېښتې هڅه " چمتو کړې وای ! تاسو ته لاس نه رسېدل ( یانې چې چا نه شو کولای چې چېرته مو یرغمل ونیسي ) ، ستاسو دا فانتازي توب په څه شي کې وو ؟ امریکایانو خو تاسو ان د " نه نیول کېدونکي جو " په نامه یاد کړي واست.

ځواب: ما ډېر لږ په یوه کور کې دوې شپې سر پر سر تېرولې. هڅه مې کوله ، چې له یوه شوا روزه ډېر وخت په خلاص ډګر کې تېر نه کړم.

پوښتنه: ټول راز په همدې کې وو ؟

ځواب : نه ، راز په بل څه کې وو . ما هیڅ مهال پر یوه ځای دایمي بولنتون ( قرارګاه ) نه درلود ، په تېره بیا مرکز خو مې کوربټ تل پر یو ځای نه وو . بله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې ، له پیاوړو اطلاعاتي خدماتو پرته به ښایي چې یوه ورځ هم ژوندی نه وای پاتې شوی . کشف د هرې جګړې خدای دی ، په تېره بیا په چیریکي ( پارتیزاني ) شرایطو کې ځانګړې ارزښت لري . نه غواړم د ځان ستاینه وکړم ، خو دا فاکټ دی ، چې د کې . جي . بي او شوروي اتحاد د کشف ادارې مو څو ځلې تېر ایستلې دي .

پوښتنه : په څه ډول ؟ ایا ستاسو دا خبره دا مانا نه لري ، چې په شوروي ځانګړیو خدماتو کې مو خپل کسان درلودل ؟

ځواب : همدا مانا لري . هم په کې . جي . بي کې ، هم مو ستاسو په ستر درستیز کې خپل خلک درلودل . ډېرو یې له موږ سره د پیسو په خاطر مرسته نه کوله ، وړیا یې کوله . څومره چې د ایجنټ درجه لوړه وه ، هغومره لږ غرضي وو . ان تر دې ، چې ستاسو ځینو جنرالانو داسې ګڼله ، چې ببرک کارمل د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد مشري تېره ایسته او دا په اصل کې نبوا کګر کمپاین دی ، چې له ټولیز بشري لید ټکي څخه په هیڅ صورت نیاومن نه دی . د قیمتي مالوماتو په خاطر یوازې ټیټو عادي څارګرو پیسې غوښتې . په هر ډول چې وو ، خو زه له همدې لامله د شوروي بولنتون ( قوماندانۍ ) له ټولو ستراتېجیکي پلانونو څخه یوه اوونۍ مخکې خبرېدم او کله کله د دغو پلانونو له پلي کېدو څخه دوې اوونۍ مخکې خبرېدم .

پوښتنه : ایا تاسو کولای شئ ، چې په شوروي ځانګړیو خدماتو کې ، یا هم د شوروي اتحاد د دفاع وزارت په ستر درستیز کې له هغو کسانو څخه ، چې ستاسو لپاره یې کار کاوه ، د کوم چا نوم واخلئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: زه نه غواړم ، چې د هغوی نومونه تاسو ته افشا کړم.

پوښتنه: تاسو امید لرئ ، چې بیا به مو هم په کار شي ؟

ځواب: فکر نه کوم. د دوی ارامي ګډوډول نا اخلاقي کار بولم.

پوښتنه: ویل کیږي ، چې ستاسو په ساتندویانو کې یو روسی ساتندوی هم شته ، چې ستاسو ځاني ساتندوی دی. دا سړی هم زموږ د ځانګړیو خدماتو استازی دی ؟

ځواب: نه. هغه له یرغملو څخه یو کس دی. د وخت په تیرېدو سره خوشي شو ، دا شونتیا یې تر لاسه کړه ، چې د پنجشېر په دره کې تګ راتګ وکړای شي. هر ځای ته چې یې زړه غوښتل ، هلته تلای شو. له خلکو سره یې کتلای شو ، خبرې یې ورسره کولای شوای. ورو ورو موږ ته رانږدې شو. موږ په ده باندې باور وکړ. وروسته یې له ما څخه هیله وکړه ، چې د خپل ځان د ساتندوی ( باډي ګارد ) په توګه یې وګومارم. د ساتندویي چارې یې لا پخوا زده کړې وې. ما هم هوکړه وکړه ، پرې تېر نه وتم ، دا یو ژمن سړی وو.

پوښتنه: نوم یې څه وو ؟

ځواب: اسلام الدین. د هغه روسی نوم زما په یاد نه دی. څو کاله مخکې زړه تنګی شو. له ده سره بېلتون زما لپاره یو افسوس وو ، خو زه پرې پوهېدم...موږ اجازه ورکړه ، چې د ساتندویي دنده خوشي کړي او هېواد ته ستون شي. اوس یې زه هم په خاطر خوشاله یم ، چې اسلام الدین بالاخره دا شونتیا پیدا کړه ، چې له خپلو خپلوانو سره وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: روسي سرتېري ستاسو خوښ شول ؟

ځواب: ځيني ځيني پوځيان مې خوښ شول ، هغوی په رښتيا هم جنگيالان ول ، خو د وسله وال پوځ د جوړښت ، د جگړې د پرمخ بيولو تاکتيک ، زموږ په غرنيو شرايطو کې د وسلې کارونه يې زما په اند له بشپړتيا څخه لرې دي . شوروي اردو د چيريکي جگړې پر مخ بيولو ته چمتو نه وو...دا يې بدبختي وه .

پوښتنه : له شوروي پوځي بولندويانو څخه په ځانگړي ډول څوک ستاسو ډېر خوښېده ؟ لکه چې تاسو وړانديز کړی وو ، او يا خو مو مجاهدينو ته امر کړی وو ، چې له افغانستانه د وتلو پر مهال د "گروموف" پر پوځ غرض ونه کړي ؟

ځواب : له جنرال " گروموف " سره ما داسې کوم ځانگړي اړيکې نه لرل . سيده تړاوونه مې هم ورسره نه درلودل ، خو د شوروي پوځونو له وتلو مخکې ستاسو سفير " ورونځوف " له رباني سره وکتل . هماغه مهال دا هوکړه وشوه ، چې د شوروي پوځونو د وتلو په مخ کې به زموږ له لوري کوم خنډونه نه اچول کيږي . ما ټولو جبهو ته ځري ( قاصدان ) واستول ، په راډيو کې مې اعلان وکړ ، چې پر شورويانو نور غرض مه لرئ . بس دی ! جنرال " گروموف " خپل کسان ماته راواستول ، ما هغوی ته يو وار بيا هم ډاډ ورکړ ، خو وروسته په خواشينۍ سره ، د "گروموف" په بولنتون کې کوم چا امر وکړ ، چې څو کلي دې سخت بمباري شي . هو ، هلته مجاهدين هم ول ، هغوی له جگړو وروسته دمه کوله . څه يې وکړل ؟ وروسته يې بيا ډېرې سختې ښښنې غوښتلې . وگړي ، له هغه شمېر نه کورتې ناپوځي خلک ووژل شول ...خير ، په هره توگه ، موږ دې ته اړوتو ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل هوډ په خپل سوک کې سره راټول کړو او خپله غوسه په خپله سینه کې سړه کړو. ستاسو د پوځ وتل په ښه ډول ترسره شول، پرته له کومو ستونزو.

پوښتنه: ستاسو له لیده، په افغانستان کې د طالبانو، چې تاسو ورسره په ټولو جبهو کې دومره سخت جنګېږئ، واک وځواک ته د رسېدا خطر د روسیې لپاره په څه شي کې دی؟

ځواب: طالبان اسلامي فاشیزم دی. د دوی ځانغوښتنې نه مړېدونکې دي. د طالب مشرانو په سرونو کې د نړیوالې واکمنۍ فکرونه ګرزي. دوی نه یوازې له افغانستانه غېږ تاووي، بلکې د منځنۍ اسیا نږدې پرتو هېوادو، لکه تاجکستان، تورکمنستان او ازبکستان ته یې هم زړونه ښه کړي دي. که چیرې دوی دا کار وکړای شي، نو د قزاقستان او قرغزستان نوبت به هم راشي. هلته ورته بیا روسیه هم نږدې کېږي. په دې صورت کې به د روسیې د ګټو سپکاوی هم وشي.

کله چې طالبان په بشپړ ډول واک وځواک ته ورسیږي، نو سملاسي به له روسیې څخه دا هم وغواړي، چې پر افغانستان باندې شوروي اتحاد تېری کړی وو، لکه څنګه چې روسیه د شوروي اتحاد میراث خوړونکې ده، نو د جګړې غرامت باید افغانستان ته ورکړي. د جګړې دا مادي تاوان په سلګونو میلیارده امریکایي ډالره دی. موږ خو روسیې ته دا ډول کومې ادعاوې نه واړندې کوو. موږ په دې پوهېږو چې نوې روسیې د تېري فاکټ غندلی، زموږ لپاره همدومره بس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: نو په غندلو خو سړی نه مړیږي. زه له پټو سرچینو څخه خبر شوم ، چې تاسو څه موده مخکې د روسیې د دفاعي شورا له منشي " یوري باتورین " سره لیدنه کتنه کړې. که چیرې د راز خبره نه وي ، ستاسو ترمنځ د څه شي په اړه خبرې وشوې ؟

ځواب: په اصل کې دا خبرې یو راز دی. ما داسې فکر کاوه ، چې دا یوه پټه لیدنه کتنه وه ، نو دا چې تاسو ترې خبر یاست....هو ، " باتورین " په الوتکه کې ماته د پنجشیر درې ته راغی. ما په ده پسې خپله چورلکه تاجکستان ته لیږلې وه. هغه موږ ته دا ډاډ راکړ ، چې روسیه به زموږ سیاسي ملاتړ وکړي. همدا راز موږ کولای شو ، چې د بشري مرستو حساب هم پرې وکړو.

پوښتنه: تاسو پر " باتورین " باور وکړ ؟ ستاسو په پراکتیک کې داسې لاملونو شتون درلود ، چې د هغوی پر بنسټ باید پر روسانو دومره باور ونه کړئ...؟

ځواب: خو سیاسي ملاتړ ، لکه څنګه چې یې ژمنه راسره شوې وه ، هماغسې کیږي. د وټندویې ( اقتصادي ) مرستې مزه نشته ، دا مرسته نه راسره کیږي.

پوښتنه: نو هغه وسله او مهمات چې له تاجکستانه تاسو ته راروان دي ، ایا له روسیې څخه نه راځي ؟

ځواب: روسیه له موږ سره هیڅ ډول کومه پوځي مرسته نه کوي. وسله موږ په نورو هیوادو کې رانیسو.

پوښتنه: د بېلګې په توګه ، په کومو هیوادو کې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: په چک کې ، البانيا کې ، بلغاريا کې.

پوښتنه: دا به ډېرې غټې پيسې غواړي ؟

ځواب: هو ، څه وکړو ، ښکاره خبره ده ، چې ډېرې پيسې پرې ورکوو.

پوښتنه: تاسو دومره ډېرې پيسې له کومه کوئ ؟ هېواد مو تل په جګړه کې ښکېل دی ، هيڅ کوم توليدات نه لري. اړينه ده وويل شي ، چې د اينټرپول د مالوماتو له مخې ، يوازې د تېر کال په بهير کې په افغانستان کې دوه زره ټنه نېشه يي توکي راټول شوي او د هېواد پولو ته لېږدول شوي دي. دا خبره رښتيا ده ، چې ستاسو د هېوادنۍ وټې يوه له ډېرو لويو عايداتي څانګو څخه همدغه نېشه توکي دي ؟

ځواب: دا خبره کره نه ده. د بېلګې په توګه ، زموږ په ولايت کې يې تاسو پخپله کولای شئ وګورئ ، چې نېشه يي توکي نشته ، خو په خواشينۍ سره زه نه شم کولای ، چې د افغانستان د نورو ولايتونو په اړه هم تاسو ته همدا ويل وکړم. تر هغو پورې چې په هېواد کې ګډوډي وي ، نظم به رامنځته نه شي. دا حالت نورو مشرانو ته هم دا شونتيا ورکوي ، چې د خپل جېب د ګټې په خاطر نېشه يي توکي توليد کړي. په دې برخه کې دولت يو لوري ته دی.

پوښتنه: تاسو ولې د دغسې ناوړه او نومبدې سوداګرۍ مخنيوی نه کوئ ؟

ځواب: ځکه چې جګړه روانه ده او زه د دې کار لپاره وخت نه لرم ، خو کله چې مو د طالبانو کار ورختم کړ او مرکزي حکومت جوړ شو ، نو د نېشه يي توکيو د سوداګرۍ ستونزه به هم هواره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: څنګه او په څه ډول ؟

ځواب: موږ به دغه ټوله سوداګري له منځه یوسو .

پوښتنه: تاسو داسې ګڼئ ، چې په دغه خطرناکه چاره کې به هیڅ ډول ستونزې ونه لرئ ؟

ځواب: زه په دې ډاډه یم ، چې هیڅ ډول ستونزې به نه وي.

پوښتنه : ټول خبر دي ، چې تاسو له خپلو هغو هم قومیانو سره نه پوخلاکېدونکي یاست ، چې د شریعت قانون ماتوي . د ساري په توګه ، نه یوازې نېشه توکي کاروي ، الکول څښي ، بلکې عادي تمباکو څکوي ، سګرېټ څکوي ، خو وایي چې قوانین د دې لپاره جوړېږي ، چې خلک یې مات کړي . تاسو هغو خلکو ته چې یاد قوانین ماتوي څنګه سزا ورکوئ ؟

ځواب: هر څوک چې وي ، ډېره سخته سزا ورکول کیږي.

پوښتنه: ښاغلیه مسعوده ، تاسو پخپله یې هم کوم مهال خوند څکلی ، د ساري په توګه د نېشه یي توکیو کوم سګرېټ مو څکولی ؟

ځواب: نه ، هیڅ وخت مې نه دی څکولی ، او نورو ته یې هم د څکولو سلا نه ورکوم.

پوښتنه: ستاسو کوم ډول خواړه خوښیږي ؟

ځواب: ټول هغه څه ، چې له شیدو سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: له مېوو څخه مو کوم څيز خوښېږي ؟

ځواب: مڼه.

پوښتنه: تاسو ډېر دوښمنان لرئ ؟

ځواب: زه يې نه تعقيبوم ، خو فکر کوم ، چې ډېر نه دي.

پوښتنه: ستاسو امنيتي خدمات خو وايي ، چې ستاسو د له منځه وړلو هڅې تل کيږي. زه خبر يم ، د ساري په توګه يوازې نجيب الله ، چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد په مرسته واک وځواک ته رسېدلی وو ، ستاسو د له منځه وړلو لپاره يو ميليون ډالر لګولي ول...

ځواب: نجيب الله وژل شوی دی.

پوښتنه: دی طالبانو سولی کړ. تاسو د خپل سر دوښمن د مړينې په اړه څه اند او چلند لرئ ؟

ځواب: هو ، موږ پخپل منځ کې دوښمنان وو ، خو کله چې حالات بدل شول ، شوروي پوځونه له افغانستانه ووتل ، زموږ تر منځ اړېکي نرم شول. د طالبانو له خوا د کابل تر نيولو لږ مخکې نجيب الله د ملګرو ملتو په استازيتابه کې پټ شو . موږ نه غوښتل چې ده ته زيان ورسيږي. له ښاره تر وتلو لږ مخکې ما ده ته ځرې ورولېږه ، او وړانديز مې ورته وکړ ، چې له موږ سره يو ځای شي. له موږ سره دې ووزي او هلته يې ټولې ځلور خواوې پر مخ پرانيستې وې ، کولای يې شوای ، چې هند ته ، خپلې مېرمنې او خپلوانو ته تللی وای...خو ده ونه منله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: د دې لېپاره به يې کوم دليل درلود ؟نجيب الله پر تاسو باور نه کاوه ؟

ځواب: د دې لپاره داسې کوم بنسټ نه وو. داسې وخت راغلی ، چې موږ ورسره د خوراکتوکيو مرسته کړې ... او همدا ځل يې هم له ما څخه ، زما د وړانديز په خاطر مننه وکړه. ده له موږ څخه يوه هيله وکړه ، هغه دا چې دوه کسه ساتندويان دې ورسره پاتې شي. ده وويل ، چې دی د ملگرو ملتو سازمان مېلمه دی او کوم گواښ ده ته شتون نه لري ، خو په هر حال ، بيا هم پرېږده چې زما خلک ورسره وي. هغه کسان چې ورسره پاتې شوي ول ، هغوی يې هم وروسته ووژل ...نجيب الله په دې هيله وو ، چې دی پښتون دی ، طالبان هم پښتانه دي ، ياني خپل خلک دي او د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد په مرسته پخواني واک و ځواک ته رسېدلي واکمن باندې به غرض نه کوي. سربېره پر دې ، داسې ويل کېدل ، چې نجيب الله داسې پلان درلود ، چې د طالبانو په مرسته په هېواد کې بيا واک وځواک ته ورسيږي او د افغانستان ولسمشر شي. [...]

پوښتنه: ښاغليه مسعوده ، تاسو پخپله کوم مهال خلک وژلي ؟

ځواب: ما د ډزو پر پرتله بولندويي ډېره کړې ، خو ډېر داسې پېښ شوي ، چې ډزونه به مې هم کول.

پوښتنه: کوم مهال داسې پېښ شوي ، چې د شوروي يرغملو د چندمارۍ امر مو ورکړی وي ؟

ځواب: ما هيڅ يو يرغمل نه دی وژلی ، نه مې يې امر ورکړی او نه مې هم پخپله په گولۍ وژلی. نه کوم روسی او نه هم ناروسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: نن ورځ هم تاسو د طالبانو د یرغملو په وړاندې، چې ډېر پاکستاني افسران هم پکې دي، همدغسې د بشردوستۍ سلوک کوئ؟

ځواب: که پاکستانیان ول او که طالبان، هیڅ یو یرغمل یې زموږ له خوا نه دی وژل شوی. په دې اړه تاسو کولای شئ د طالبانو د غورځنګ له مشرانو هم وپوښتئ. د دوی ځینې مشران هم یرغمل دي. [...]

یادونه: له مسعود سره د دغې مرکې ټلویزیوني بڼه به د سیپټمبر پر ۱۴ د «ار. ټي. ار» ټلویزیوني چینل له لارې د «ساوېرشېننه سیکرېتنه» په خپرونه کې وښودل شي.

میخایل سېردیوکوف

د **۳۴۵** شمېرې پاراشوټي-دیسانت غونډ اوبپانه. (۳)

# د روسیې او تاجکستان پوځي همکاري

[...] **۵/۴/۱۹۹۹**، د روسیې د دفاع وزیر «سېرګېیف» په تاجکستان کې د روسیې د پوځي اډې د جوړولو په تړاو خبرو اترو لپاره دغه هېواد ته ورسېد.

**۷/۴/۱۹۹۹**، د دفاع وزیر «سېرګېیف» په دوشنبه کې د افغان طالبانو په مخامختیا کې ولاړې ټلوالې له یو مشر احمد شاه مسعود سره وکتل. مسعود هیله ښرګنده کړه چې روسیه به «په افغانستان کې په مخامختیا کې ولاړو لوریو باندې مثبت او سوله ییز اغېز وښندي او په عشق اباد کې به د طالبانو او شمالي ټلوالې ترمنځ د خبرو اترو د دویم پړاو په بریې سره ترسره کېدو کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

" سېرګېيف " دوشنبې ته د درې ورځنې سفر په ترځ کې د تاجکستان او روسيې ترمنځ د پوځي - تخنيکي همکارۍ په اړه يو هوکړه ليک هم لاسليک کړ [...] .

د نړيوال ټولنيز فوند «تخليقي ازمايښتي مرکز» د «ښتر کورګيانيانه» خپرونه، ۱۹۹۹ ز کال، ۵ ګڼه. (۴)

# افغانستان يو ځل بيا په اور کې

له يو کلنې چوپيتا وروسته د جنرال مسعود او طالب ځواکونو تر منځ د جګړې ييزو عملياتو اور له نوي زور سره بل شو .

پوره يو کال موږ ته له افغان پوځي او جګړه ييز ډګره کوم اند ښمن خبرونه رارسېدل. د پروسږ کال په اګسټ او سيپټمبر کې د طالبانو غورځنګ له پوځي برياوو وروسته ، په افغانستان کې لنډمهاله چوپيتا رامنځته شوه. هغه مهال ، يو کال مخکې ، طالبانو د افغانستان شمال ته ځانونه وايستل ، هغې سيمې ته ، چې ډېره موده د طالب ضد شمالي ټلوالې تر لاس لاندې وه. د ۱۹۹۸ زېږدي کال په اګسټ کې افغان اوزبکان د طالبانو لوري ته ورواوښتل. دوی خپلې مورچلې تسليم کړې ، جبهه يې پرانيسته او طالبانو ته يې دا شونتيا ورکړه ، چې د احمد شاه مسعود د جبهې شاته ځانونه وباسي. طالبانو په هماغه اګسټ - سيپټمبر کې يو بل طالب ضد وسله وال جوړښت ، يانې شعيه هزاره وو ته ، چې د تهران له ملاتړ څخه برخه من ول ، هم ماته ورکړه . دا د طالب ضد جبهې ماته وه او د طالبانو غورځنګ د ايډيې نږدې بشپړ بری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ۱۹۹۸ ز کال د طالبانو په مخ کې یوازې یو پوځې ځواک پاتې شو ، چې هغه د احمد شاه مسعود وسله والې ډلې وې . د شوروي تېري پر مهال ، د شوروي اتحاد پرضد د افغانستان په لس کلنه جګړه کې مسعود د افغان مجاهدینو یو له ډېرو ماهرو او تکړه ډګري بولندویانو څخه وو . اوسمهال د افغانستان په خاوره کې احمد شاه مسعود د روسیې او منځنۍ اسیا د ځینو هېوادو یوازینی متحد دی . تر هغو چې دی په افغانستان کې د طالبانو غورځنګ پر ضد مبارزې ته دوام ورکوي ، کېدای شي وویل شي ، چې روسیه به د منځنۍ اسیا پر ټوله سیمه خپل اغېز وساتي . که چېرې مسعود د طالبانو په وړاندې ماته وخوري او طالبان پر ټول افغانستان خپل کنټرول ټینګ کړي ، په دې حالت کې به د روسیې اغېز یوازې پر یوه تاجکستان محدود شي .

وروسته له هغه ، کله چې د روان کال په پسرلي کې اوزبکستان د ډله ییز امنیت د تړون له سازمان څخه ووت ، څرګنده شوه ، چې په منځنۍ اسیا کې د روسیې د شتون شرایط پېچلي شول . په تاجکستان کې د روسیې پیاوړی پوځې ځواک په هغو مواصلاتي لارو پورې اړه لري ، چې د اوزبکستان او قرغزستان له خاورو تېرې شوې دي . د ۱۹۹۸ ز کال په سیپټمبر کې د " اوش " پېښې په پایله کې په ښکاره وښودل شوه ، چې په تاجکستان او ټوله منځنۍ اسیا کې د روسیې شتون د بیشکېک او تاشکند په سیاست پورې اړه لري . هغه مهال قرغزي ځانګړیو خدماتو د " اوش " ښار د وسپنې لارې په تمځي کې د رېل ګاډو یو داسې کتار ونیو ، چې پوځي پیټي پکې بار ول . د رېل ګاډو دغه کتار د اوزبکستان او قرغزستان له خاورو تېر شوی وو . د قرغزستان ځانګړیو خدماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلي ، چې په رېل ګاډیو کې دغه پوځي بارونه د احمد شاه مسعود لپاره ول او هغه ته ورلېږل کېدل.

ستونزمنه ده باور وشي ، چې زموږ د قرغزي وروڼو دې ناڅاپه یوازې همدا اوس دې مسلې ته پام شوی وي ، چې د افغانستان شمال ته د وسلې او مهماتو ورلېږدول له کومو لارو سرته رسیږي. داسې مالومیږي ، چې د وسلې د لېږدولو دغې لارې تل شتون درلود . وروسته له هغه ، کله چې د ۱۹۹۸ ز کال په اګست کې د تاشکند په ښکاره اغماض سره ، د افغانستان اوزبکانو یو ځل بیا د جبهې کرښه بدله کړه او د طالبانو غورځنګ ته ورواوښتل ، افغانستان ته د افغان - اوزبک په پوله کې د حیرتانو له لارې د پوځي بارونو رسول ناشونی شو . نو د دې کار لپاره بله یوازینۍ لاره د " اوش " ښار له لارې ، د تاجکستان له خاورې او د پامیر له لارې ، وړاندې د بلخ ولایت او د افغانستان شمال ته تللې ده . د افغانستان شمالي سیمه د احمد شاه مسعود تر کنټرول لاندې وه.

د احمد شاه مسعود وسله وال جوړښتونه په اصل کې یوازینی ځواک دی ، چې کولای شي په سیمه کې د روسیې او ایران له ګټو دفاع وکړي. په افغانستان کې د دغه ځواک د شتون په خاطر ، دغه ځواک چې کولای شي د طالبانو پرضد ودریږي ، مسکو او تهران پر ۱۹۹۷ زېږدي کال تاجکي سیال لوري دې ته راواړول چې په خپل منځ کې سره پوخلا شي. د تاجکي اپوزیسیون لپاره د ایران اوتوریته پرېکنده او مهمه واقع شوه ، په داسې حال کې چې مسکو ولسمشر رحمانوف دې ته اړایست ، چې له اپوزیسیون سره روغې جوړې ته حاضر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاجکستان کې د کورنۍ جګړې د پای ته رسولو موخه دا وه ، چې د احمد شاه مسعود د وسله والو ډلو د جبهې شاتنۍ برخه ډاډمنه شي .

## د ۱۹۹۹ ز کال تود اګست:

د ۱۹۹۹ ز کال تر دوبي پورې د افغانستان په شمال کې پوځي - ستراتېجيکي وضعه رچنده وه او په یو حال نه وه . په تېر کال کې طالبانو ونه شو کولای ، چې مسعود د تاجکستان له پولې رابېل کړي او لويې مواصلاتي کرښې بندې کړي . سربېره پر دې ، د طالبانو د اګست مياشتې د تعرض په تاوده حالت کې ، مسعود کابل ته نږدې د جلال اباد ښار په سيمه کې خپلې مورچلې ټينګې ساتلې وې . د ۱۹۹۸ ز کال په پای کې ، د يوبل پر ضد ولاړو ځواکونو پوځي - ستراتېجيکي انځور عجيب ښکارېده . مسعود د پخوا په څېر د افغانستان پلازمېنې کابل ته ګواښېده . طالبانو همهال هڅه کوله ، چې د شمال له لوري ، د افغان - شوروي پخوانۍ پولې په اوږدو کې د مسعود اردو په ستراتېجيکي ډول کلابند کړي .

د ۱۹۹۹ ز کال تر دوبي پورې وضعې کوم ځانګړي بدلونونه ونه موندل . د جولای په مياشت کې د مخالفو لوريو تر منځ د ۲ + ۲ ډلې په اډانه کې خبرې اترې پيل شوې . دا ډله پر ۱۹۹۸ ز کال جوړه شوه ، چې له افغانستان سره همپوله شپږ هېوادونه ، همدا راز روسيه او د امريکا متحده ايالات پکې شامل دي . خبرې اترې په تاشکند کې ترسره شوې ، خو د اګست په پيل کې طالبانو ناڅاپه کابل ته نږدې د مسعود پر درېځونو تعرض پيل کړ او له پلازمېنې شمال لور ته په شل کيلومترۍ کې يې د بګرام هوايي اډه ورڅخه ونيوله . د نور وړاندې تګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعرض په بهیر کې طالبان د پنجشېر درې ، یانې د مسعود تر لاس لاندې سیمې د زړه خولې ته نږدې شول. د طالبانو په مخ کې ستونزمنه دنده پرته وه ، چې هغه له پنجشېر څخه د مسعود شړل وو.

تر هغو پورې چې طالبانو هڅې کولې ، پنجشېر ته ننوزي ، مسعود په لغمان ولایت کې پر طالبانو ځوابیه ګوزار وکړ. هلته د مسعود ډلو وکولای شول ، چې د پاکستان او افغانستان تر منځ یوازینۍ لویه لاره بنده کړي. له دې وروسته داسې خبرونه راپیدا شول ، چې د مسعود ډلو د کابل په لور تعرضي ضد تعرض پیل کړی او د بګرام پوځي هوایي اډې په سیمه کې سخته جګړه روانه ده.

په افغانستان کې جګړه دا څووم ځل دی چې مخالفتي (اپوزیسیوني) ځانګړنه خپلوي. د لوریو پوځي شونتیاوې ان د ۱۹۹۸ ز کال په پرتله کمې شوې دي. په تېره بیا دا حالت په طالبانو کې ، چې د افغانستان د خاورې په سلو کې نوي (۹۰ ) برخې تر خپل کنترول لاندې لري ، ښه لیدل کیږي. [...] د طالبانو غورځنګ کارنده وسله والو ډلو شمېر له ۲۵ تر ۳۰ زرو زیات نه دی او د پخوا په څېر د پاکستان له دریځ سره تړاو لري. اړینه ده وویل شي ، چې د طالبانو غورځنګ ټولې پخوانۍ پوځي شونتیاوې او د هغوی پیاوړتیا ، ان له ۱۹۹۴ ز کاله راهیسې له پاکستان ، د دغه هېواد له اردو او پوځي څارګرۍ سره تړاو لري.

دا پوښتنه ، چې په افغانستان کې د جګړې دوام د چا په ګټه دی ، او د هغې پای ته رسول د چا په ګټه ، تر اوسه بې ځوابه پاتې ده. په دغه هېواد کې جګړه د یو مهم جیوپولیتیک فاکتور په توګه پاتې کیږي ، له هغه شمېر نه د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د منځنۍ اسیا د دولتونو لپاره هم. د قزاقستان لپاره هم دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې توپيره نه ده ، چې په دغه سيمه کې به راتلونکې پېښې په کوم لوري وده مومي ، او د سيمې د امنيت مسلې به کوم ځواکونه ټاکي. [...]

سلطان حکيم بېکوف

الما اتا

د «کانتينېنټ» مجله، د ۱۹۹۹ ز کال د سيپټمبر مياشت، ۴ (۵) ګڼه. (۵)

# مسعود د روسيې پر پلوی جنګيږي

پرون د طالب ضد شمالي ټلوالې مشر احمد شاه مسعود د طالبانو هغه وړانديز رد کړ ، چې له شمالي ټلوالې سره يې د پوځلاينې او د " چېچنيا له ورور ولس " سره يې د مرستې په خاطر کړی وو . په افغانستان کې د شوروي پوځونو د شتون پر مهال د شوروي پوځونو يو له ډېرو ځلانده دوښمنانو څخه نن ورځ په افغانستان کې د روسيې يوازينی ملاتړ کوونکی دی.

د روغې جوړې په اړه هغه وړانديز چې د طالبانو غورځنګ احمد شاه مسعود ته کړی ، د دې هڅې لپاره دومره نه دی شوی ، چې له " چېچني ورونو " سره مرسته وکړي ، بلکې په اصل کې يې موخه د افغانستان په دننه کې وضعه ده. خبره دا ده چې مسعود د افغانستان په منځ کې د پنجشېر ستونزمن لارې دره نېولې ده . دغه دره کابل ته نږدې او کولای شي ، چې له سويل نه د شمال په لور د طالبانو د وړاندې تګ مخه ونيسي ؛ همدارنګه کولای شي ، چې د نښه يي توکيو ، وسلې مخه هم ونيسي او د همګتې هېوادو په لور يې د لېږد مخنيوی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رارسېدونکي ژمي په شرايطو کې د مسعود د ځواکونو پر وړاندې د پراخو او لويو عملياتو سرته رسول ناشوني کيږي او په غرونو کې د تېرېدو راتېرېدو لارې هم کميږي. سربېره پر دې ، پوخلاينې به طالبانو ته دا شونتيا ورکړې واى ، چې چارې داسې سمې کړي ، چې په هېواد کې تولېزه ملي روغه جوړه راشي. دې کار به له طالبانو سره دا مرسته کړې واى ، چې له لوېديځ سره خپل ساړه اړېکي تاوده کړي او د دوى رژيم په نړيوال کچ په رسميت وپېژندل شي.

خو احمد شاه مسعود يو ځل بيا طالبانو ته د راپرزولو پښه کښنوده. د طالبانو د مشر ملا محمد عمر وړانديز ته د مسعود له خوا ورکړ شوى ځواب پرون په لندن کې خپور شوى دى. د پنجشېر د زمري په اند " په افغانستان کې خپلې ستونزې هم ډېرې دي ، اړينه ده چې هغه هوارې شي ، چېچنيا ته وزګار نه يو. " [...]

په دې ډول د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد پخوانى سرسخت دوښمن ، چې په زرګونو شوروي سرتېري يې په پنجشېر کې وژلي ، داسې وينا کړې ، لکه د روسيې د ستراتېجيکي متحد په توګه. مسکو په دې رښتيااينه باندې لا پخوا خبر دى او تل په پټه له مسعود سره پوځي مرستې کوي ، د دې لپاره چې وکولاى شي له طالبانو سره مخامختيا او پر وړاندې يې مقاومت وکړي. پخواني شوروي پوځي بولندويان د افغاني جګړې کلونه يادوي او د مسعود په ستاينه نه ستړي کيږي.

واسيلي ميخايلوف

د «کومېرسانت» ورځپاڼه، ۱۹۹۹/۱۱/۱۱، ۲۰۸ (۱۸۵۲) ګڼه. (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طالبانو مات کړي اردو ته تاجکستان کاغوشونه جوړوي

«موږ دومره ډېره موده مسعود ته ډوډۍ ورکړې چې اوس مو زړه پر سوځي چې یوازې یې پرېږدو»

د طالبانو له خوا د تخار ولایت د منځۍ تالقانو او د شمالي ټلوالې د مهم بولنتون د نیولو خبر پرون د روسیې فدراسیون د بهرنیو چارو وزارت ، د روسیې د دفاع وزیر " یګر سېرګېېف " او په تاجکستان کې د روسیې د کډوالو ادارې د سرچینو له خوا پوخ شوی دی . خو اړینه ده وویل شي ، چې دغو ټولو موسسو ډاډ څرګند کړی ، چې دا د شمالي ټلوالې لنډمهاله ناکامي ده. همدا راز په تاجکستان کې د احمد شاه مسعود ماته خوړلې اردو ته وخته کاغوشونه جوړ شوي دي.

طالبانو د تالقانو پر نیولو بسنه نه ده کړې . تعرض په ګاونډي بدخشان ولایت کې ادامه لري . د تالقانو شمال ختیځ لورته ، د کشم ښار ته نږدې سخته جګړه روانه ده. طالبانو ویلي ، چې دوی د فرخار ښار او کاپیسا ولایت یوه برخه نیولې ده. سربېره پر دې ویل کیږي ، چې طالبان مخ پر وړاندې تللي ، د خواجه غار له ښاره ، چې د تاجکستان پولې ته نږدې دی ، تېر شوي دي. په دې وړاندې تګ سره طالبانو هغه لویه لار بنده کړې ، چې پر هغې باندې د شمالي ټلوالې ځواکونه سمبالېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو د طالبانو لپاره د پنجشېر درې ته ، چې د مسعود د ځواکونو لوی تکیه ځای دی ، سیده لار پرانیستل شوې. د طالبانو مشر ملا محمد عمر ویلي ، چې " پر راتلونکي لنډ مهال به موږ شمالي ټلواله په بشپړه توګه ماته کړو ، ورپسې به د نورو چاره هم وکړو. "

له نورو څخه يې موخه د تاجکستان پر پوله د روسیې پوله وال ( سرحدي ، پوله ساتی ) پوځ دی. په دغه پوځ کې د مسکو ، پنج ، قلعه خوم ، خروګ ، او مرغاب سرحدي پوځي ټولګي او د دوشنبې د هوايي ډګر پوځي ټولګی شامل دی. اوسمهال په مسکو کې په دې اړه فکر کوي او دا موضوع هواروي ، چې د طالبانو له ډاره د مسعود تښتېدلي سرتېري تاجکستان ته راپرېږدي او که نه. په دوشنبه کې یوه جګپوړي روسي افسر داسې څرګنده کړه ، چې : " موږ دومره اوږده موده مسعود ته ډوډۍ ورکړې ، چې اوس مو زړه پر سوځي چې یوازې یې پرېږدو. "

تاجک پوځیانو دا مسله وخته هواره کړې : که چیرې د افغانستان له لوري د طالبانو له خوا د شمالي ټلوالې ځواکونه په تنګ شي او بله هیڅ چاره ونه لري ، نو د مسعود د وسله والو ډلو لپاره په شور آباد او فرخار کې وخته پنډغالي ( کمپونه ) چمتو شوي دي. لکه څنګه چې د ورځپاڼې خبریال " تویوردي زناک " ته د تاجکستان د دولتي پولې د ساتنې د درستیزوالۍ په کومېټه کې خبر ورکړ شو ، دا مسله ان لا د ۱۹۹۷ ز کال د مارچ په میاشت کې هغه مهال حل شوې وه ، کله چې مسعود په کولاب کې هممهال د تاجکستان د اپوزیسیون د اتحاد له ډګري بولندویانو او د حکومتي اردو له استازو سره خبرې اترې کولې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجکستان ولسمشر امام علي رحمانوف او د تاجکستان اپوزیسیوني اتحاد هغه مهال پخپل منځ کې په جګړه کې ول ، خو دواړو لوریو د مسعود ملاتړ کاوه . هغه مهال د سید شاه شامولوف افسرانو د مسعود ساتنه کوله. خو نن ورځ دی برید جنرال دی ، د سرحدي لوا بولندوی دی او هم ده ته دا دنده ورکړ شوې ، چې د احمد شاه مسعود شاته راتلونکې ( عقب نشیني کوونکې ) وسله والې ډلې له پولې تر شورآباده بدرګه کړي.

ان لا تېره اوونۍ د شمالي ټلوالې مشر ته دا خبر ورکړ شوی وو ، چې چمتو دي د شمالي ټلوالې پوځونه ومني ، هغه مهال ، کله چې په دوشنبه کې ، تالقانو ته نږدې د جګړه ییزو عملیاتو د بهیر په اړه خبرې کېدې. مسعود هغه مهال تاجکي مشرتابه ته دا ډاډ ورکړ ، چې تر پایه به وجنګیږي. ښکاره خبره ده ، چې ده د طالبانو د یوبل مخالف جنرال رشید دوستم په مرسته باندې هم حساب کاوه . دوستم د منځنۍ اسیا پر هېوادو وګرزېد او ژمنه یې وکړه ، چې که چیرې ده ته پیسې ورکړل شي نو دی به له احمد شاه مسعود سره مرسته وکړي. خو ده ته پیسې ور نه کړل شوې. په منځنۍ اسیا کې دا پېښه د ټولو ښه په یاد ده ، چې دوه کاله مخکې دوستم په ډېرې وارخطایي سره خپل سرتېري په مزارشریف کې پرې ښودل او په اوزبکۍ الوتکه کې تاشکند ته وتښتېد . کله چې د تېښتې کوونکې الوتکه په تاشکند کې کېناسته ، نو له ده سره چا خبرې هم نه کولې ، پټه خوله یې په بله الوتکه کې سپور کړ او تورکیې ته یې واستاوه.

یوري چېرنوګایف ، دوشنبه

د "کومېرسانت" ورځپاڼه ، ۲۰۰۰ / ۹ / ۸ ، (۲۰۵۲ ) ۱۲۷ ګڼه. (۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغاني ناروغۍ د نښو له منځه تګ

روسي پوځيان د کابل پر لور لاره غځوي

مسکو د افغانستان په تړاو له اوږده بې توپيره چلنده وروسته ، يانې د افغانستان په خاوره کې د شوروي پوځونو له لس کلن شتونه وروسته ، بيا داسې اړمونو ته لاس اچوي ، چې د کابل پر سياست د کارنده اغېز شونتيا ورکولای شي . د طالب پلويانو کړنې نه يوازې کرېملين ته ، بلکې د همګتې هېوادو ټولنې د منځنۍ اسيا ملګرو هېوادو ته يې هم ګواښ ورښيي . د دغې ستونزې د هواري په وړاندې يوازې سوچه ديپلوماتيک چلندونه کم اغېزه ول : په داسې حال کې چې نن طالبان نږدې ټول افغانستان تر خپلې څارنې لاندې لري ، له طالب واکمنۍ سره اړيکې ډېر پرېښودل شوي او بې پامه ځنډول شوي دي . لکه څنګه چې څرګندېږي ، داسې پرېکړه شوې ، چې د اړيکو له مخکينۍ مخببلګې سره سم ، په دوه اړخيزو اړيکو کې پر روسي پوځيانو حساب وشي.

پرون په هغه هيجان راپاروونکې ليدنه کتنه کې ، چې د روسيې د دفاع وزير " ايګر سېرګېيف " او د طالب ضد ټلوالې له مشرانو څخه له يوه مشر احمد شاه مسعود سره وشوه ، د افغانستان په شمال کې د وضعې ، د طالبانو له غورځنګ څخه د راپيداشوي ، راپيداکېدونکي ګواښ او د دغه ګواښ پرضد د کارندتياوو په اړه خبرې وشوې. دغې ليدنې کتنې نارسمي ځانګړنه درلوده او د خبرو اترو منځپانګه يې هم ډېره پټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا پوره څرګنده ده ، چې په ليدنه کتنه کې د احمد شاه مسعود د وسله والو ډلو د پوځي ملاتړ په اړه خبرې کېدې . د مسعود وسله والې ډلې اوسمهال په هېواد کې يوازينۍ کارنده اپوزيسيوني ډله ده . په دې وروستيو کې دا ښه په ډاګه شوې ، چې دغه وسله واله ډله کمزورې شوې او مادي - مالي مرستې ته اړتيا لري . اړينه ده په پوره ډاډ سره وويل شي ، چې د مخکښ افغان اپوزيسيوني مشر او د روسيې د لومړۍ درجې جګپوړي پوځي چارواکي ترمنځ پر دې مسلو مفصلې خبرې وشوې او تر ژورې څېړنې لاندې ونيول شوې . نور نو راتلونکې پرېکړې د کرېملين پر غاړه دي .

په ليدنه کتنه کې احمد شاه مسعود ته د مرستې لېږدولو لاره هم وټاکل شوه . مالوميږي ، چې دا لاره به د ايران له خاورې تېره شي . مارشال " سېرګيېف " د ايران د بهرنيو چارو له وزير سره هم پټه ليدنه کتنه درلوده .

د دې پر پرتله چې د طالبانو تېري کوونکو هڅو ته د همګټو هېوادو پر پوله ځواب ورکړ شي ، د روسيې لپاره دا کار ګټور دی ، چې کړکېچ او ترېنګلتيا د افغانستان په دننه کې وساتل شي . په دې ډول د طالبانو جګړه ييزه کارندتيا په هېواد کې دننه سره غوټه کېږي . لکه څنګه چې د روسيې د دفاع وزير د [ تاجکستان په پلازمېنه . ژ ] دوشنبه کې څرګنده کړه : " له نړېوالو ترهګرو سره له يوازيني اسلامي مرکزه ، چې په کندهار کې دی ، مالي مرسته کېږي . " د ده پر ګروهه ، اسلامي افراط غوښتونکي هڅه کوي ، چې د منځنۍ اسيا نقشه بدله کړي . د دوی مشران ، په تېره بيا اسامه بن لادن د نړۍ ټول مسلمانان دې ته رابولي ، چې د ده تر رپې لاندې سره راټول شي . يوازې په روان کال کې ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځنۍ اسيا کې د نړيوالو ترهګرو د پټو کارندتياوو لپاره ، د اسلامي منځۍ له خوا له ۶۰۰ څخه تر ۷۰۰ میلونو ډالرو پورې پیسې بېلې شوې دي . مارشال " سېرګېېف " همدا راز په چېچنيا کې د دغو ترهګرو د کارندتياوو او بېلتون پالو د عملياتو د فاکتونو يادونه وکړه . [...]

واديم سولويوف

د «نېزاويسيمايا ګزېته» ورځپاڼه، د ۲۰۰۰ / ۱۰ / ۲۷ نېټې ګڼه. (۸)

# د مارشال پلان

## يګر سېرګيېف د لوی مجاهد ملاتړ کوي

افغان طالبي غورځنګ داسې اعلاميه خپره کړې ، چې د " پر روسيه باندې به وقايوي ګوزار وکړي " مانا لري . د کابل رسمي استازي عبدالحی مطمن پرون له روسيې څخه غوښتنه وکړه ، چې " د افغانستان په کورنيو چارو کې له لاسوهنې لاس په سر شي . " " ملا مطمن وويل ، چې په برعکس حالت کې به يې پايلې د روسيې لپاره ډېرې جدي وي . مونږ کولای شو د روسيې لپاره ډېرې ستونزې راپيدا کړو او ډېر زيان ورواړوو . "

د طالبانو له لوري دومره کوټلي غبرګون د هغې ليدنې کتنې په تړاو شوی ، چې په دوشنبه کې د روسيې د دفاع وزير " يګر سېرګېېف " او د افغانستان د طالبانو ضد شمالي ټلوالې پوځي مشر احمد شاه مسعود ترمنځ شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارشال «سېرګېيف» لومړنی جګپوړی روسی پوځي دی ، چې پخپله له مسعود سره يې ليدنې کتنې ته زړه کړی دی. [...]

دغه ليدنه کتنه وړمه ورځ په دوشنبه کې د همګتېې هېوادو د دفاع وزيرانو د شورا غونډې تر پيل مخکې ترسره شوه . د همګتېې هېواودو د دفاع وزيرانو د شورا د غونډې يوه بنسټيزه سکالو ، د تاجکستان پولو ته د افغان طالبانو د رانږدې کېدو په تړاو د متحدينو د پوځي ځواکونو همغږي کول وو . پوځيان په پراخه پيمانه خبرې کوي او وايي ، چې " د همګتېې هېوادو سويلې پولې دې کلکې شي . " خو د همګتېو هېوادو دوه غړي هېوادونه اوزبکستان او تورکمنستان ، چې د افغانستان له لوري يې پولې دا ډېر وخت کيږي چې د طالبانو له خوا تر څارنې لاندې دي ، دا ښه ګڼي ، چې سويلې پولې د خپلو ځواکونو په واسطه کلکې کړي. عشق اباد او تاشکند ( يو يې مخکې بل يې په دې وروستيو کې ) دې پايلې ته رسېدلي ، چې له سويلي لوري د خپل ځان امنيت سمبالول يوازې له يوې لارې کېدای شي ، چې هغه د هر ډول افغان پوځي ډلو له اختلافونو څخه لاس اخيستل دي.

په دوشنبه کې د مارشال " سېرګېيف " او مسعود ليدنه کتنه هماغومره هيجان راپاروونکې پېښه ده ، لکه څومره چې قانونمنده ده . افغان ډګري بولندوی په داسې حال کې چې اوس هم په سرسري ډول د برهان الدين رباني په حکومت کې د دفاع وزير ګڼل کيږي ، په افغانستان کې رښتونی واک څه د پاسه څلور کاله پخوا له لاسه ورکړی دی. دی د روسيې د دفاع له وزير سره د خپل هېواد له پولو بهر ، په تاجکستان کې ليدنه کتنه کوي . د تاجکستان جمهوريت همهال له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې خوا د روسيې لپاره يو پوځي تکيه ځای دی او له بلې خوا په افغانستان کې د شمالي ټلوالې ، چې مسعود او رباني يې مشري کوي ، لپاره د جبهې شاته تکيه کوونکې اډه ده. شمالي ټلواله په داسې حال کې چې د طالبانو د واکمنۍ د پراختيا پر وړاندې جنګيږي ، د همدغه تاجکستان له لارې پوځي ، مادي - تخنيکي مرستې په لومړي ګام کې له ايران او روسيې څخه تر لاسه کوي.

د ايران - تاجکستان - روسيې دغه مثلث پرون په څرګند ډول په دوشنبه کې جوړ شو : روسي مارشال له مسعود سره له خبرو وروسته ، د ايران د بهرنيو چارو له وزير کمال خرازي سره هم وکتل. دی په تاجک پلازمېنه کې د همګټو هېوادو د دفاع وزيرانو د غونډې پر ورځ په تصادفي ډول نه وو راپيدا شوی. د " ورېميه نووستی " ورځپاڼې د مالوماتو پر بنسټ ، تهران مخکې له مخکې له مسکو څخه د دغې ليدنې کتنې هيله کړې وه.

له " يګر سېرګېيف " سره د خبرو پر مهال ښاغلي خرازي څرګنده کړه ، چې " مسکو او تهران پخپل منځ کې ډېر ښه اړيکې لري. " او د تاجکستان د کورنيو ستونزو په هواري کې د دوی ګډه تجربه " چې دوی پکې پرېکنده رول لوبولی " ، کېدای شي د افغاني ستونزې د هواري لپاره هم وکارول شي. د ښاغلي خرازي په وينا ، تهران په افغانستان کې د ايتلافي حکومت جوړېدو لپاره د دې پلوی دی ، چې د طالبانو او شمالي ټلوالې تر منځ خبرې اترې وشي.

د روسيې د دفاع وزير له ايراني وزير او افغان مجاهد سره د خپلو خبرو د سکالو په اړه هيڅ ويل ونه کړل. دی دې ته اړوت ، چې د روسيې د پوځي الوتکې د رالوېدو له کبله په ببړه ګورجيستان ته الوتنه وکړي. په دوشنبه کې هغو افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیپلوماتانو ، چې د رباني د تش په نامه حکومت استازي کوي ، یوازې دومره وویل ، چې د «سېرګېېف» او مسعود په لیدنه کتنه کې په افغانستان کې د «سولې پروسې» په اړه خبرې وشوې. پر ځای ده وویل شي چې درې ورځې مخکې مسعودیانو د سولې د پروسې بیا پیلول رد کړل او دغه وړاندیز یې رښتونی ونه باله. یوه اوونۍ مخکې په مسکو کې افغان سفیر چې د شمالي ټلوالې استازي کوي، د روسیې د باندینیو چارو وزارت ته ډاډ ورکړ چې «نیت لري د طالبانو د تېري کوونکیو هڅو پر وړاندې کلک ودرېږي.» مسکو په ځواب کې ورته ثرګنده کړه چې «په راتلونکې کې به هم د قانوني او د ملګرو ملتو له خوا د منل شوي حکومت سیاسي، بشري او نور ملاتړ ته دوام ورکړېږ»

د طالبانو له لوري سخت روسي ضد دیمارش ښکاره خبره ده له دې لامله ثرګند شوی، چې د روسي مارشال د دوشنبې په سلا مشورو کې دوی په سیده ډول دا لیدلي چې مسکو چمتو دی د دوی د مخالفینو هماغه «نور» (که هر څه په خپل نامه سره یاد کړو پوځي) ملاتړ وکړي. په واقعیت کې که وویل شي، جنرالان د څه په اړه خبرې کوي، ښکاره خبره ده چې د پوځي ملاتړ په اړه. د سوله ییزو هلو ځلو په اړه مامولن سیاستوال او دیپلوماتان خبرې اترې پر مخ بیایي. [...]

ارکادي دوبنوف

د ۲۰۰۰ ز کال د اکتوبر ۲۷ ، د «ورېمیه نووستی» ورځپاڼې **۱۵۲** ګڼه. ( ۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاه مسعود متحدین راټولوي

## مسعود تر تهرانه ورسېد

د افغانستان د شمالي ټلوالې پوځي مشر مسعود پرون ټوله ورځ په تهران کې تېره کړه . هلته د ایران پوځ او ځانګړیو خدماتو جګپوړیو استازیو له ده سره لیدنې کتنې وکړې. د " وربمیه نووستی " ورځپاڼې د هغو مالوماتو پر بنسټ ، چې د ایراني خبري سرچینو څخه یې تر لاسه کړي ، د افغاني شمالي ټلوالې مشر ، د نوامبر د لومړۍ نېټې پر ماښام تهران ته رسېدلی دی.

مسعود تر اوسه هیڅ مهال تهران ته نه وو تللی ، خو ایران ته دا د ده دویم سفر دی ، البته وروسته له هغه ، کله چې نږدې دوې میاشتې مخکې د شمالي ټلوالې پوځونه اړوتل ، چې تاجک پولې ته نږدې د تالقانو ستراتېجیکي ښار طالبانو ته تسلیم کړي. د اکتوبر په پیل کې په مشهد کې ایرانیان په دې وتوانېدل ، چې مسعود د هغو افغان ډګري بولندویانو په غونډه کې په ګډون کولو راضي کړي ، چې د طالبانو پر ضد یې جګړې کړې ، او د هغوی له خوا له هېواده شړل شوي دي . دوی ټولو جنرال دوستم ، عبدالمالک ، د افغان شعیه مشرانو نن ورځ په مشهد کې پناه موندلې او هڅه کوي له مسعود سره په ګډه ، د طالبانو پر ضد وسله واله مخامختیا منظمه او همغږې کړي.

دا څرګنده ده ، چې پرون د افغان شمالي ټلوالې له یوه مشر سره خبرې اترې په یوه داسې مجرا کې روانې وې ، چې ایران پکې دا هڅې وښودې ، له شمالي ټلوالې سره پوځي مرسته لا ډېره کړي. دا خبره هم ځانته پام وراړوي ، چې تهران

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د مسعود سفر له هغې ليدنې کتنې څو ورځې وروسته کيږي ، چې په دوشنبه کې يې د روسيې له دفاع وزير مارشال " سېرگېيف " سره کړې وه . د دوشنبې په هغه ليدنه کتنه کې افغان مجاهد مسعود له مسکوه هيله کړې وه ، چې د طالب ضد جبهې پوځي ملاتړ پياوړی کړي . دا هم مستثنا نه ده ، چې ايران ته د روسيې د امنيت شورا د ريس " سېرگی ايوانوف " د څه موده مخکينې سفر په ترڅ کې هم د مسکو او تهران تر منځ په افغاني لوري کې د گډو کړنو او همغږۍ هوکړه شوې.

د نوامبر په دويمه نيمايي کې به د مسکو او تهران طالب ضد اتحاد سره ډيلی هم يو ځای شي . هلته به د روسيې - هند کاري ډلې لومړنۍ غونډه جوړه شي ، چې موضوع به يې له ترهگرۍ او مذهبي افراط غوښتنې سره هاند و هڅه او د طالبي گواښ خنثا کول وي . [...]

ارکادی دوبنوف

۲۰۰۰ / ۱۱ / ۳ ، د «ورېميه نووستی» ورځپاڼې ۱۲۱ گڼه . (۱۰)

# روسيه ، چين ، طالبان

[...] د ۲۰۰۰ ز کال په می مياشت کې [ د روسيې د ولسمشر مرستندی . ژ ] " س . يسترژېمبسکي " څرگنده کړې ، چې روسيه دا شونتياوې نه ردوي او احتمال لري ، چې د طالبانو غورځنگ پر وسله والو ډلو باندې هوايي گوزارونه وکړي . په مني کې په پاکستاني رسنيو کې داسې خبرونه خپاره شوي ، چې د احمد شاه مسعود په وسله والو ډلو کې روسي سلاکاران شتون لري ، چې د جگړه ييزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملیاتو په سرته رسولو کې پخپله له ده ، او له ډګري بولندویانو باباجان او الماس سره مرسته کوي. مسعود د اکتوبر پر ۲۵ – ۲۲ په دوشنبه کې د روسیې فدراسیون له دفاع وزیر "ي. سېرګېیف" سره کتلي دي. [...]

واسیلېف. پ، د اقتصادي پوهنو ډاکتر، د نړیوالو چارو چارپوه. «د لرې ختیځ مسایل» خپرونه، د ۲۰۰۱ ز کال ۳ ګڼه. (۱۱)

## د «دویم افغانستان» شبح

د منځنۍ اسیا له هېوادو سره پوځي ملګرتیا حتمي ده ، خو د روسیې لپاره خطر لري

نن مابنام «ولادیمیر پوتین» د روسیې د ولسمشر په توګه خپل لومړنی سفر تاشکند ته پیلوي. له تاشکنده وروسته بیا نیت لري ، چې عشق اباد ته هم الوتنه وکړي. په دغه سیمه کې د مسکو د کارندتیا په اړه ان لا د ۱۹۹۹ ز کال د ډیسمبر له ۳۱ نېټې نه مخکې خبرې کېدې. د ۱۹۹۹ ز کال د ډیسمبر ۳۱ نېټه د روسیې لپاره د نوي پېر د پیل ورځ ده . ثرګنده شوه ، چې د روسیې نوې کېدونکې مشري نیت لري ، له خپلو نژدې ګاونډیو سره د اړیکو پر ښه کولو بوخته شي ، چې له هغه شمېر نه په ختیځ کې د منځنۍ اسیا سیمه هم ده . د روسیې فدراسیون د ولسمشر د سرپرست په توګه د ولادیمیر پوتین له ګومارل کېدو یوه ورځ مخکې پوتین په یو رسمي سفر اوزبکستان ته وخوځېد . هلته د دغه جمهوریت له لوړ مشرتابه سره د لیدنو کتنو پر مهال د دوه اړخیزې او سیمه ییزې اوږدمهالې ملګرتیا لومړیتوبونه په ګوته شول. په دې اړه چې هم د مسکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هم د تاشکند لپاره په ننبه شوي گامونه تشې اعلامیې نه وې ، هغه فاکټ شاهدي ورکوي ، چې ولادیمیر پوتین پر نوې دنده باندې له پیل کولو لس ورځې وروسته یو ځل بیا اوزبکستان ته ولاړ.

دا ښکاره خبره ده ، چې هم تورکمني او هم اوزبکي مشران له پوتین څخه ، د هغې پوځي مرستې او ملاتړ انتظار لري ، چې د روسیې له لوري یې ورته ژمنه شوې ده . د منځنۍ اسیا د دغو جمهوریتونو لږ سمبال وسله وال ځواکونه ، د رسمي تاشکند او عشق اباد کمزورې سیاسي تگلارې دوی ته دا کابو ( چانس ) نه ورکوي ، چې سیمه ییز امنیت په خپلو ځواکونو وساتي . د دې پر څنگ اوزبکي او روسي ځانگړي خدمتونه داسې وړاندوینه کوي ، چې کېدای شي د جولای - اگست په میاشتو کې پر دغه سیمه داسې ترهگریزې ډلې تېرى وکړي ، چې د افغانستان او پاکستان په پوځي اډو کې روزل شوې دي. د مسکو د پوځي سرچینو د مالوماتو له مخې ، د احمد شاه مسعود له پوځونو سره د فزیکي مرستې او ملاتړ د موضوع په اړه نن ورځ د روسیې مشري له تاشکند او دوشنبې سره نارسمي خبرې اترې پر مخ بیایي . یوه میاشت مخکې هم د اوزبکستان په سرحدي ښار ترمز کې احمد شاه مسعود او عبدالرشید دوستم د روسیې فدراسیون ، اوزبکستان او تاجکستان له استازیو سره وکتل.

نتالیه پولینه، یکاترینه تېسېمنیکووا

د ۲۰۰۱ زکال د جون۲۱ ، د «نېزاویسیمایا گزېته» ورځپاڼه، (۳۰ ) ۱۰ گڼه. (۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان، ایران او عراق: کورنی حالت، بهرنی سیاست، د بشر حقوق

دا لاسوند په مسکو کې د ملګرو ملتو سازمان د کډوالو د عالي کمیسارۍ له دوتر څخه تر لاسه شوی دی.

هېواد : افغانستان

د لاسوند نوم: افغانستان ، ایران او عراق: کورنی حالت ، بهرنی سیاست ، د بشر حقوق

د لاسوند اوډونکی: کیرپېنکه. پ. ف. ، د " شنونکې کتنه " د خپرونې ۳ ګڼه ، کییف ، د ملګرو ملتو سازمان د کډوالو عالي کمیساري

د چاپ نېټه: د ۲۰۰۱ ز کال د جون میاشت

اروپا ته د احمد شاه مسعود سفر

اروپا ته د افغاني نښه یي توکیو د لېږدېدو زیاتوالي او د اسلامي ترهګرو ، چې سازمانوونکي یې د طالبانو رژیم او اسامه بن لادن دی ، له لوري د ګواښ زیاتوالي ، په اروپا کې د طالبانو له مخالفینو سره لېوالتیا زیاته کړه. د دغې لېوالتیا د زیاتوالي ښکارندوی یوه هغه پېښه وه ، چې د اپرېل په لومړیو کې رامنځته شوه. دا پېښه اروپا ته د شمالي ټلوالي د مشر احمد شاه مسعود سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، چې د اپرېل په لومړيو کې يې فرانسې ته وکړ. مسعود د اروپايي پارلمان د ريسې " نيکول فونتېن " او پرانسي ( فرانسي ) چاروا کيو په بلنه هلته تللی وو .

د دوو اونيو په بهير کې ده له پرانسي سياستوالو سره ليدنې کتنې وکړې . مسعود په ستراسبورگ کې په اروپايي پارلمان کې وينا وکړه ، هلته يې له بېلابېلو اروپايي سياستوالو سره وکتل. لکه څنگه چې رسنيو خبر ورکړی ، ده هاوېر سالانه ، چې د اروپايي ټولنې د بهرني سياست او نړيوالو اړيکو پازوال دی ، د ملگري په توگه وليد او ومانه. مسعود په اروپا کې د شتون پر مهال له دې سر ټکاوه ، چې پاکستان له طالبانو سره پوځي مرستې کوي. مسعود او د ده تر لاس لاندې شمالي ټلواله سياسي او مالي ملاتړ ته اړتيا لري . هغه څه چې د وسلې په اړه بايد وويل شي ، هغه دا چې روسيه ، ايران ، تاجکستان ، هند ده ته وسله ورکوي او يا هم کولای شي ، چې په پوره اندازه وسله ورکړي . ( ۱۳ )

## له مسعود سره مرکه

احمد شاه مسعود : تر جگړې وروسته غواړم خپل هېواد په پښو ودروم.

دا د مسعود د ژوند وروستۍ مرکه وه، چې د روسۍ ورځپاڼې «کامسامولسکايا پراودا» له خبريال «ولاديمير وېلېنگورين» سره يې کړې وه.

له مسعود سره موږ د ده په ټاټوبي يانې پنجشېر په دره کې وليدل . [...] پر دره سربېره ، ده د افغانستان شمال ختيځې سيمې ، نږدې د افغانستان د خاورې لس سلنه تر لاس لاندې درلوده . [...]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره باید څه وشي ؟

ځواب : زه غواړم په کلکه ووایم ، لکه څنګه چې د افغانستان په جګړه کې پاکستان برخه لري ، نو دا کورنۍ جګړه نه ده . که چیرې نړیواله ټولنه پر پاکستان فشار راوړي ، په افغانستان کې مقاومت پیاوړی شي او له موږ سره پوځي مرسته وشي ، نو کېدای شي ، چې جګړه پای ته ورسیږي.

پوښتنه : ایا تاسو له لویدیځو کارپوهانو او چارپوهانو سره په دې کې باندې ( موافق ) یاست ، چې وایي شمالي ټلواله نه شي کولای ، چې ټول افغانستان ازاد کړي ؟ بله دا چې ستاسو اغېز یوازې په هغه سیمه کې محدود دی ، چې ملي لړه کې ، تاجکان او اوزبکان پکې ژوند کوي ؟

ځواب: نه ، باندې ( موافق ) نه یم. موږ اصلي واک وځواک یو ، د مقاومت جبهه نه یو ، او دفاع کوونکی لوری هم نه یو . د طالبانو پر ضد د هېواد په ټولو ولایتونو کې مبارزه روانه ده ، په پروان ، کندهار ، د افغانستان په ختیځ کې . هیله من یم ، چې په ګډو هلو ځلو سره به موږ وکولای شو ، هېواد ازاد کړو ، یا هم طالبان د خبرو اترو مېز ته په کېناستو اړباسو .

پوښتنه : د طالبانو ملاتړ پاکستان او سعودي عربستان کوي ، ستاسو ملاتړ څوک کوي ؟

ځواب: موږ د افغانستان د اسلامي جمهوریت قانوني حکومت یو . زموږ استازی په ملګرو ملتو سازمان کې دی. موږ ډېرو هېوادو په رسمیت پېژندلي یو ، زموږ سیاسي ملاتړ کوي ، له موږ سره دیپلوماتیک اړیکي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : د تاريخي پڙيو (مجسمو ) له منځه وړل، د ټلويزيون او انټرنيټ بند اعلانول، عيسويان شړل، د طالبانو دا کړنې د اسلام له ليده سم کار دی؟

ځواب: موږ تل د دې ډول وحشت پرضد وو ، هغه وحشت چې له ربښتوني اسلام سره هيڅ کوم تړاو نه لري.

پوښتنه: تاسو ټول ژوند په جګړه کې تېر کړ. که چيرې بيا هم سوله راشي نو تاسو به څه بوختيا ولرئ؟

ځواب: زه به ډېر ښکمرغه واوسم که چيرې د خپل هېواد په بيا ودانولو کې برخه واخلم.

پوښتنه: ايا شونې ده چې يو تاجکي ژبی دولت جوړ شي او په هغه کې د شمالي افغانستان، تاجکستان، بخارا او سمرکند سيمې شاملې شي؟

ځواب: پاکستان، بن لادن، او طالبان دا ډول پلانونه لري. هغوی غواړي چې لومړی واک وځواک ته ورسيږي، ورپسې ګاونډي هېوادو ته د خپل اغېز سيمه پراخه کړي. هغوی په دې اړه تل په ښکاره څرګندونې کوي.

پوښتنه: ستاسو له اردو سره له کومو سرچينو نه مالي مرستې کيږي؟

ځواب: موږ قانوني حکومت يو او ربښته لرو چې خپلې پيسې چاپ کړو. موږ ګټورې طبيعي سرچينې لرو چې موږ يې پلورو، همدا راز موږ ماليې هم راټولوو.

پوښتنه: طالبان په خپل منځ کې تر کومه بريده سره يو موټی دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: دا یو بېلابېل ولس لرونکی غورځنګ دی. په دوی کې کورني طالبان شته، د بن لادن پلویان پکې شته، د پاکستان د منظم پوځ طالبان پکې شته. د طالبانو د بولندویانو په سلو کې ځلوېښت سلنه ځوکی بهرنیانو نیولې دي.

پخوا طالبان ډېر ول، مورال یې پیاوړی وو. د دوی وسله زموږ له هغې نه ښه وه، او دوی ته له بهر څخه ډېره مرسته راتله. خو د جګړې په بهیر کې ډېر څه بدل شول. اوسمهال طالبان اردو ته د نویو کسانو د راجلبولو په برخه کې ستونزې لري. که څه هم وسله یې ښه ده، خو په ټوله کې یې جګړه ییز قابلیت کمزوری کیږي. [...]

ولادیمیر وېلېنګورین، ۲۰۰۱ / ۹ / ۱۱، (۱۴)

# له کندهاره تېښته

کله چې د ۱۹۹۵ زېږدي کال د جولای پر ۱۴ «ایل-۷۶» ډوله الوتکه، چې د کازان د هوایي شرکت «ایروستان» یوه الوتکه وه، له شارجې څخه خپله لومړۍ الوتنه کوله، نو هیڅ دا سې کومه ناوړه پېښه نه وړاندویل کېده. دغه الوتکه «ترانس اویا» شرکت په باړه (اجاره) نیولې وه او د دغه شرکت یوه ترانزیتي اډه هم د عربي اماراتو په خاوره کې وه. روسي پیلوټانو هلته د کالیو انډي، سونتوکي وړل، یو ځل خو یې ان پیسې هم یووړې، ټولې ۳۴ ټنه وې.

یوه ورځ د کمپنۍ منېجر د الوتکې پرسونل ځانته وروغوښت او ورته وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

گورئ هلکانو ، ستاسو لپاره یو ښه کار شته. دا کار له البانیا څخه باگرام ته د بار رسول دي. اتن ته به الوتنه وکړئ ، هلته به الوتکې ته تېل واچوئ ، بیا به تیرانا [د البانیا پلازمېنه.ژ] ته په بار پسې ولاړ شئ...

پېټي ، د ماشینگنو کارتوس دي.

د دې وړاندیز په وړاندې هغه مهال کوم رد ځواب ونه ښودل شو . د الوتکې کپتان " ولادیمیر شاراپوف " داسې ووېل ، چې ده پخوا هم داسې بارونه وړي دي ، او د هوا له لارې یې پوځي تخنیک او مهمات لېږدولي دي. بیا د کارتوسو د رسولو په برخه کې خو د البانیا او افغانستان تر منځ موافقې هم شتون درلود .

روسي پیلوټانو دوه الوتنې پرته له کومې پېښې ترسره کړې . پاتې یوه ، وروستۍ الوتنه وه ، چې هغه هم ترسره شي. د درېیمې الوتنې پر مهال چې کله د کندهار له پاسه الوتلو ، نو له ځمکې نه راباندې داسې امر وشو : " پلانکۍ ډول الوتکه ښکته کړئ ، الوتکه کېنوئ ، دا امر دی ! " خبرې یې په روسي ژبه کولې. د الوتکې د کېنولو د لامل په اړه یې ووېل چې : " غواړي الوتکه وگوري او تلاشي یې کړي ".

زموږ په " ایل - ۷۶ " ډوله الوتکې پسې د طالبانو جگړه ییزه الوتکه راوالوته ، چې جدي نیتونه یې ښودل. د الوتکې انجنیر " بوتوزوف " وړاندیز وکړ ، چې وخت تېر کړو ، ځان ناگاره واچوو ، خو په خواشینۍ سره ، چې چالاکي په درد ونه خوړه . د الوتکې له انگار څخه بله جگړه ییزه الوتکه راووته او الوتنې ته چمتو شوه. دا مهال یې له ځمکې څخه داسې خبرداری راکړ: که الوتکه ښکته نه کړو ، نو الوتکه به مو وولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الوتکې پرسونل د " لوی سیاست " نازکۍ ته ځیر نه وو . پېټۍ پېټۍ دی . پیلوټان له دې خبر نه ول ، چې دغه پېټۍ [ د ماشینگڼو کارتوس .ژ ] احمد شاه مسعود ته ورکول کیږي . هغه مهال د باگرام پوځي هوايي اډه د همدغه مسعود تر لاس لاندې وه . خو داسې ښکاري ، چې باگرام ته د دغه پېټيو د رسولو خبر افشا شوی وو . باگرام ته د دوو الوتکو د الوتنو خبر د طالبانو بهرنۍ څارگري او کشف ته رسېدلی وو ، هغه وو چې دربیمې الوتنې ته یې ځانونه چمتو کړل ، چې ویې نیسي.

د پلټنې پر مهال له صندوقونو څخه په یوه صندوق کې د لوی قطر داسې لوی کارتوس وموندل شول ، چې لېږدونه یې منع وه . د لویو کارتوسو دغه صندوق په پای کې الوتکې ته ورپورته شوی وو . احتمال لري ، چې دا کار په تیرانا کې اسلامپالو څارگرو په لوی لاس کړی وي.

هغه وو چې روسي پیلوټان د دیني زدکړیالو [ طالبانو . ژ ] په لاس کې یرغمل شول.

## د ولادیمیر شاراپووف له یادښتونو څخه:

«د سیپټمبر ۲ . د راتلونکو اوونیو او میاشتو لپاره سبک له کومه شي ؟ که چیرې دغه حالت دوام وکړي ، فکر نه کوم چې څو اوونۍ وروسته دې له خپل ځایه د ځان ښورولو سبک ولرو . یوازې اوه کربټه اوبه پاتې شوې. "

" سونتوکي " یانې خوراک مو څه شی دی ، وربجې دي ، چې له کوشنیو کاڼو او د مږو له فاضله موادو سره به یې پخې کړې وې . ورغستلي به یې نه پاکول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلب راټول کړي به يې ول او هماغسې چې په کوم حالت ول ، هماغسې به يې پخول او يرغملو ته به يې ورکول. کله چې بله چاره پاتې نه شوه ، نو پيلوټانو وکړای شول ، چې پټاتې ترې تر لاسه کړي. زموږ وچ او سپور خوراک ختکيو او هندوانو څه نا څه ښکلی کړی وو.

هغه کوشنی انګړ ، چې يرغمل به پکې ګرزېدل ، پر ماشينګنو وسله والو کسانو له خوا تر څارنې او ساتنې لاندې وو. له دېوال نه ها خواته تل ځينې رېږه ور کسان راټولېدل ، هغوی خپلې ولولې په ډېر توپاني ډول څرګندولې ، او غوښتل به يې چې د روسي کافرانو کار ورختم کړي. کله کله به بنديخانې ته ځايي خلک هم ورتلل ، د بهرنيانو ليدل او سيل کول د دوی لپاره داسې وو لکه سيلانيان چې د ژويو کومې پنجرې ته ورولې.

لکه څنګه چې هلته دود ده ، د يرغملو هوس به يې په دې راپاراوه ، چې که چيرې مسلمانان شي او د اسلام دين ومني ، نو له مړينې به وژغورل شي. ملا به وخت ناوخته راته ، هڅه به يې کوله ، چې روسان پر خپله ګروهه ( عقيده ) ورواړوي.

## د ولاديمير شاراپوف له يادښتونو څخه:

«د سيپټمبر ۱۵. درې مياشتې وشوې ، چې موږ له کوره راوتلي يو او څلوېښت ورځې وشوې ، چې موږ دلته [ په کندهار کې. ژ ] يو. نن ګهيځ يو زوړ مبلغ راغی ، غوښتل يې چې موږ ته قران رازده کړي او موږ مسلمانان کړي. په بدل کې يې ژمنه وکړه ، چې زموږ د خوشي کولو لپاره به شفاعت وکړي. ما خپل ليد ورته څرګند کړ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سيپتمبر ۱۷ . نن د چهارشنبې ورځ ده . ګهيځ مو له ژباړونکي څخه هيله وکړه ، چې د سرې مياشتې خلک راوغواړي. زما تل سر خوږېږي. ګولۍ ( تابليتونه ) يوازې دوه درې ساعته اغېز لري بس خلاص. ټوله ورځ خو سرې ګولۍ نه شي خوړلای. صبر کوم ، او ځان داسې نه ښيم ، چې سر مې خوږېږي. دا ښايي چې د اعصابو او ګرمۍ اغېز وي. موږ ټولو هېر کړي يو ، هم د بهرنيو چارو وزارت او هم روسيې. ولسمشر خو پر موږ ناړې ( لاړې ) تو کړې دي. دی يوازې په چپچنيا کې زموږ د الوتکې له پرسونل نه ډېر خلک له لاسه ورکوي. ټول له سر زيان سره روږدي شوي دي... "

ولسمشر " باريس يلڅين " او د بهرنيو چارو وزير " اندری کوزېرېف " هغومره څه کړي ، څومره چې يې په وس کې ول. د ملګرو ملتو سازمان دوه ځلي غوښتنه وکړه ، چې الوتکه او د هغې پرسونل خوشي کړي ، خو طالبان د دغو کاغذي پرېکړه ليکونو کومه پروا هم نه لري. دوی د دغې ستونزې د هواري لپاره خپل ځېل وړاندې کړی وو ، هغه دا چې ، د يرغملو د خوشي کولو په بدل کې روسيه بايد د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د دفاع پخواني وزيران او د خاد پخواني جګپوړي کارمندان طالبانو ته وسپاري.

مسکو نه شو کولای ، چې دا ډول ادلون بدلون ورسره وکړي. د يرغملو د خوشي کولو په برخه کې روسي جګپوړو چارواکيو نه غوښتل چې ټينګار وکړي ، او نه يې د دې کار لپاره داسې کوم کلک هوډ درلود ، ځکه چې د " باريس يلڅين " د واکمنۍ پر مهال سياسی مشرتابه خپله اتوريته له لاسه ورکړې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یوه پېښه هم وشوه. یوه ورځ پر نیمه شپه ، پر ماشینګڼو هغه وسله وال ساتندویان ، چې پیلوټان یې ساتل ، پیلوټان له خوبه راوېښ کړل او پر نامالوم لوري یې بوتلل. دوی داسې فکر کاوه ، چې بس چندماري ته یې بوتلل...

موټران له ښاره ووتل او د اوبدلو یوې زړې فابریکې ته نږدې ودرېدل. مالومه شوه ، چې دوی غوښتل پیلوټان په بل ځای کې پټ کړي. کله چې دوی راډیو ولګوله ، نو داسې خبر یې واورېد : " د افغانستان حکومتي پوځونه پر کندهار باندې د دې لپاره یرغل کوي ، چې روسي پیلوټان او الوتکه له بنده خلاص کړي ." دا په اصل کې یو پروپاګند وو ، چې د نړیوال ټولنیز نظر لپاره محاسبه شوی وو. خو بیا هم د یرغملو لپاره دا خبر په زړه پورې او خوښۍ ښونکی وو.

طالبانو د شمالي ټلوالې یرغل پر شاه وتمباوه او یرغمل یې بېرته خپلو کوټو ته راوستل.

## د ولادیمیر شاراپوف له یادښتونو څخه:

«د ټولو روحیه مړاوې شوه. ایا دومره لوی دولت ، لکه موږ چې یې لرو ، دومره هم نه شي کولای ، چې خبرې اترې ورسره پیل کړي ؟ د دوی لپاره هلته په کرېملین کې اوس تر ټولو ارزښتناکه مسله ټاکنې دي. روسي سیاستوالو لکه د ورېیو سپیو د ګلې په څېر ، د ټاکنو پر مقدماتي جګړه ګۍ باندې پیل وکړ. " د روسیې غږ " نن ګهیځ خبر خپور کړ ، چې د بهرنیو چارو وزیر " کوزېرېف " سعودي عربستان ، پاکستان او د اسلامي هېوادو سازمان ته پاملرنه کړې ، چې د روسۍ الوتکې او پیلوټانو په خوشي کولو کې مرسته وکړي...."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره خبره ده ، چې د پیلوټانو پر برخلیک ټولو لاړې نه تو کولې . د روسیې د بهرنیو چارو وزارت او پاکستان سفارت استازي څو ځله کندهار ته راغلل . د ټولو شونو چینلونو له لارې کار روان وو . له رواني پلوه په دغسې درنه او ستونزمنه وضعه کې ( بدني او رواني سخته ستړیا ) ډاکتر - ارواپوه ډېره مرسته کوله . هغه دا مرسته وکړه ، چې د نهیلۍ او د ژوند نه غوښتلو له حالت سره مبارزه وکړي .

وروسته له دې پیلوټانو وپتېیله چې باید یو څه وکړي . په دې وخت کې طالبانو له نیول شوې الوتکې سره ورو ورو لېوالتیا وښوده . اسلامپالو له " یل - ۷۶ " ډوله الوتکې څخه کار نه شو اخیستلای ، ځکه چې دوی په دې څانگه کې کوم څانگیز کسان نه درلودل . یرغملو له همدغه حالت څخه د ځان خلاصولو لپاره کار واخیست . پیلوټانو طالبانو ته وویل ، که چیرې دوی غواړي ، چې الوتکه یې کار وکړي او ښې الوتنې وکړای شي ، نو اړینه ده چې په پرله پسې ډول د هغې تخنیکي حالت وکتل شي او سمبال شي .

طالبانو فکر پر وکړ او هوکړه یې وکړه . پیلوټانو ته په درېو میاشتو کې یو ځل دا اجازه ورکړ شوه ، چې الوتکې ته ننوزي . د الوتکې په ټانکیو کې سونتوکي پوره ول ، ځکه تېل د دواړو لوریو یانې تگ راتگ د واتن لپاره پوره اچول شوي ول .

د ۱۹۹۶ ز کال په اپریل کې د زندان بولندوی بدل شو .

د جولای پر لسمه یرغمل هوایي ډگر ته وروستل شول ، خو پر دغه ورځ تېښته ونه شوه ، ځکه چې وسله وال ساتونکي ډېر ول . خو د ولسمشر " بلڅین " پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله ، خدای روسي پیلوټان په بده ورځ کې پرې نه ښودل او د الوتکې ټایر وچاودېد . د پرسونل لپاره دا پلمه پیدا شوه ، چې الوتکې ته راستانه شي ، د دې لپاره چې خرابي سمه کړي.

دا پېښه د اگست پر ۱۲ وشوه . د چهار شنبې ( د مسلمانانو د جمعې ) ورځ وه او رخصتي وه . پیلوټان په خپل منځ کې داسې جوړ راغلل : " په هر حالت کې چې وي الوتنه کوو ! که ویي وژلو بس وژلي به یې یو ، که الوتکه ولوېده ، بس لوېدلي به وي. "

څو کاله وروسته د الوتکې پیلوټ، د «کومسامولسکایا پراودا» ورځپاڼې رسنوال ( ژورنالېست ) «انتون کلیویف» ته په مرکه کې وویل:

داسې د ماسپښین مهال به وو ، چې ساتندویان ، د قراول بولندوی او د زندان بولندوی د الوتنې د پټارې له لارې ولاړل ، چې لمونځ وکړي . د الوتکې مېخانیک کار په منډه راځي او وایي : " څنگه بولندویه ، ویې ازمویو ؟ " " شاراپوف " سملاسي د کوشنۍ پاڼې کاغذ پر مخ د هوایي ډگر نقشه رسموي. بیا الوتکه ورو ورو په منځنۍ پټارې باندې گرزوي. د حرکت پر مهال درېیم او څلورم انجن چالانوو...په دې وخت کې دوه " اورال " موټرونه او یو بس زموږ مخې ته رادرومي. زه گورم چې بله چاره نشته ، د الوتنې تر پټارې پورې ځان نه شم رسولای ، بس له همدې ځایه الوتکه منډې کولو ته برابروم. پټارې ته ځان باسم ، نږدې وو چې د الوتکې وزر پر ځمکه راښخه ولگیږي ، خدای ته دعا کوم ، چې شاسي یې ماته نه شي... خو شکر خدایه ، ویاړ زموږ پر الوتکه جوړونکیو او پوهانو ، چې داسې ښه الوتکه یې جوړه کړې ده . موټرونه رانږدې کیږي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې په شل متره واټن کې، د الوتکې تر وزرونو لاندې دي . د الوتکې ګرڼدیتوب ۲۲۰ دی ، اړینه ده چې ۲۰ نور هم پرې ورزیات شي ، خو پټاره پای ته رسیږي او وړاندې نوره سیمه کې ماینونه خښ دي . پر دې مهال مې سټرینګ ځان ته راکش کړ ، او الوتکه د هوا پر لور ورو ورو پورته شوه . [...]

په الوتکه کې له موږ سره درې طالبان پاتې دي . هغوی سملاسي ونیول شول ، وسلې ترې واخیستل شوې او دوی وتړل شول . تر شاجویه پورې ټوله لاره دوی په غمجن تمرکز کې پاتې ول ، یوازې یې خدای پاک ته هیله وه ، خدای پاک هم پر کافرانو د رحم اوبه توی کړې.

«یل-۷۶» ډوله الوتکې په خپل وروستي ګرڼدیتوب سره الوتنه کوله ، چې لوړوالی یې هم ۵۰ متره وو ، د دې لپاره چې رادار یې پیدا نه کړي . دوه ساعته وروسته تښتېدونکي په عربي اماراتو کې د روسیې په اډه کې ول.

د دغې پېښې ویډیو هم ثبت شوې ، دغه تاریخي شېبه پکې ثبت او ساتل شوې ده . یل - ۷۶ الوتکه د الوتکو د کېناستو له پټارې سره خپل ټایرونه لګوي ، ګرڼدیتوب بندوي ، او تمځي ته ځي . له کابین څخه د الوتکې د پرسونل ډېره ور مخونه راښکاره کیږي . پر ډګر باندې پولیس نارې وهي : " طالبان دي ، طالبان الوتکه چلوي ! " د روسي لوري استازي ورته وایي ، چې اند ښننه مه کوئ ، دا طالبان نه دي ، زموږ خپل خلک راستانه شول.

الوتکې ته تر ټولو لومړی ځارندوی له ببړې سره ننوتل ، د طالبانو لاسونه یې ولچک کړل او له الوتکې څخه یې په ټېله وایستل . روسي همکارانو پر خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوټانو ورمنډه کړه ، هغوی یې په غېږ کې ونیول او چیغې یې و هلې. یو کال او د برش ورځې لرې په وچه او ډېرینه افغاني خاوره کې پاتې شول.

په مسکو کې له ګلانو سره د دغو اتلانو هرکلی وشو . جګپوړي ماموران ، رسنوال ...په لوړه کچه تشې ژمنې . وروسته له دې کازان ته ولاړو ، هلته د جمهوریت مشري د الوتکې زینې ته راغلې وه .

له دغې یرغملۍ څخه له خلاصېدو مخکې رسنوالو د پام وړ مالومات راسپړلي ول ، هغه دا چې هغه کارتوس چې په دغه " یل - ۷۶ " ډوله الوتکه کې په دریو الوتنو کې افغانستان ته لېږدول کېدل ، له کازان څخه استول شوي ول.

" ولادیمیر شاراپوف " وايي ، کله چې زموږ همکاران خبر شول ، چې په رسنیو کې دا خبر خپور شوی ، نو وارخطا شول ، چې کله هېواد ته ستانه شو ، نو هلته تاتاري مافیا موږ ته انتظار باسي او کار به مو وکړي. ځکه چې ګواګې د پېټي له لاسه ورکولو لامله د کازان کوم بانک سپېره شوی دی ... که چیرې یې زموږ الوتکه ویشتلې وای ، نو د دوی لپاره ګټوره وه ، ځکه چې په دې صورت کې دوی ته د الوتکې او پېټي بیمه ورکول کېده.

پر ځای ده وویل شي ، چې پر ۱۹۹۸ زېږدي کال ، احمد شاه مسعود په یوه مرکه کې په صادقانه ډول منښته ( اعتراف ) وکړه ، چې روسی مافیا ده ته وسله او مهمات ورکوي. [...]

د «سپېڅناز روسیي» خپرونه، ۱۱ (۲۲) ګڼه، ۲۰۰۱ ز کال، نومبر. (۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د «یل-۷۶» ډوله الوتکې نیول ، د ۱۹۹۵ ز کال د اگسټ ۳

د ۱۹۹۵ ز کال د اگسټ پر ۳ د روسیې د کازان هوایي کمپنۍ الوتکه، چې د شمالي ټلوالې لپاره پکې کارتوس بار شوي ول، له اووه کسه پرسونل سره په افغانستان کې د طالبانو غورځنگ د ځواکونو له خوا ونیول شوه او د کندهار په هوایي ډگر کې راښکته کړای شوه.

دغه الوتکه چې لمبر یې (یل-۷۶ ټي.ډي) (ار.اي-۷۶۸۴۲) وو، د کازان د «ایروستان» په کمپنۍ پورې اړه درلوده. په الوتکه کې بار شوي مهمات ، چې د ماشینگڼو کارتوس ول ، له البانیا سره د افغانستان د حکومتي هوکړې پر بنسټ ، د کابل حکومت پر پرمایش ، د البانیا له پلازمېنې تیرانا څخه بگرام ته لېږدول کېدل. د کارتوسو تسلیمېدونکی لوری په باگرام کې شمالي ټلواله او احمد شاه مسعود وو ، چې د طالبانو سرسخت دوښمن او دا مهال یې د باگرام سیمه تر کنترول لاندې وه. دغې الوتکې څو څو ځلې له شارجوی او ځینو نورو ځایونو څخه باگرام ته الوتنې کړې او بېلابېل توکي یې هلته رسولي دي. دا ځل له تیرانا څخه کارتوس بارشوي ول ، چې دوه الوتنې سمې پر خپل مهال ټاکلي ځای ته وشوې ، خو دریېمه الوتنه ونه شوه ، ځکه چې طالبان خبر شول او د خپلو جگړه ییزو الوتکو " میگ -۲۱ " په واسطه یې الوتکه د کندهار هوایي ډگر ته ورښکته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه د پاسه یو کال یانې ۳۷۸ ورځې الوتکه او د هغې پرسونل د یرغملۍ په سختو شرایطو کې ول ،چې هغه ګرمي ، د اوبو کموالی او خرابو خوراکتوکیو شتون وو . [...]

د ۱۹۹۲ ز کال د اګست پر ۱۲ ، د الوتکې پرسونل وکولای شول ، چې په خپله الوتکه کې د ایران او عربي متحده اماراتو له لارې وتښتي. [...]

د الوتکې د پرسونل غړي:

۱. شاراپوف ولادیمیر ایلیچ - د الوتکې پیلوټ.

۲. خیرولین غازي نور ګاریفزیانوویچ - دویم پیلوټ.

۳. زدور الېکساندر ویکتوروویچ - کشاف.

۴. ابیازوف اسخات مین اخمېتوویچ - د الوتکې مېخانیک کار.

۵. وشیفخېف یوري نیکولایوویچ - مخابره چي.

۶. بوتوزوف سیرګی باریسوویچ - انجنیر.

۷. ریازانوف ویکتور پیتروویچ.

روسی برېښنایي پوهنغونډ ، (۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه مسعود او روسانو ترمنځ پټه لیدنه کتنه

«دی ګوت څنډې ته منتظر وو ، خو موږ ورته د جوړ راتګ وړاندیز وکړ»

احمد شاه مسعود د پوځي څارګر او کشاف «ډګرمن اناتولي تکاچیوف» له لیده.

د احمد شاه مسعود د تکیه ځای پنجشېر په هره خوا کې د جګړو غربا وه ، خو افسر «اناتولي تکاچیوف» د خبرو اترو لپاره احمد شاه مسعود ته ورغی . دی لومړنی سړی وو ، چې ویې کولای شول ، د " پنجشېر له زمري " سره جوړ راشي ، او د " ارګومېنتي نېدېلیې " لومړنۍ ورځپاڼه ده ، چې په دې اړه کیسه کوي.

پر ۱۹۸۱-۱۹۸۳ زېږدي کلونو ما په کابل کې د کشف په مرکز کې کار کاوه. موږ د مجاهدینو د وسله والو ډلو په اړه کره او رښتوني کشفوي مالومات راټولول. یو داسې دستور ( هدایت ) شتون درلود ، چې په دغو مالوماتو کې موږ باید د افغاني ټولنې د پوځي - سیاسي حالاتو د ودې یوازې مثبت لوري ولټوو ، ځکه چې د کشف او پوځي څارګرۍ له مرکز څخه زموږ مالومات له ښندې ( مبالغې ) سره لېږدول کېدل . [ د شوروي اتحاد د دفاع وزارت په ستر درستیز . ژ ] او د کشف د لوی ریاست په پېنځمه اداره کې دغه مالومات نور هم سره پړسول کېدل او تر دې بریده بدلېدل ، چې د دغو مالوماتو له هماغه لومړني ځېل سره به یې بشپړ توپیر درلود . هیچا نه غوښتل چې دا پازه پر خپله غاړه واخلي ، د پېښو او وضعې په اړه رښتونی رپوټ منځۍ ته ورکړي.

هیڅ کومو مثبتو لوریو شتون نه درلود . د هر چا چې به څه ډول زړه غوښتل ، هماغسې به یې د وضعې په اړه رپوټ ورکاوه او هغه به یې رښتیا او واقعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

باله. له پنجشېر څخه په پر له پسې ډول زموږ وژل شوي او ټپي شوي سرتېري او افسران لېږدول کېدل ، خو دې حالت زموږ مشران دومره نه اند ېښمنول.

زما په اند په پنجشېر دره کې پوځي عمليات د دې لپاره ترسره کېدل ، چې پوځي مشري ببلا ببل انعامونه او مډالونه تر لاسه کړي. دا تصادفي خبره نه وه ، چې د پوځي عملياتو پر مهال به افغانستان ته ډېر پوځي بولندويان راتلل ، د دې لپاره چې وښيي ، دوی خو دنده په ښه ډول ترسره کوي ، ان تر دې چې پخپله هم په پوځي عملياتو کې ګډون کوي.

له همدې لامله له احمد شاه مسعود سره د سوله ييزو خبرو اترو په اړه زما پر وړانديز چا نه غوښتل ځان پوه کړي ، تر هغه مهاله ، کله چې وروسته د کشف لوی ريس " پ. ايواشوتين " او د دفاع مرستيال وزير مارشال " س. سوکولوف " زما ملاتړ وکړ. د دوی له برکته او د دوی پر اجازه موږ له احمد شاه مسعود سره د ليدنې کتنې او د ټولو مسلو په اړه د خبرو اترو د عملياتو پلان جوړ کړ. د دې کار وروستۍ او اصلي موخه د پنجشېر درې او هغې ته په څېرمه سيمو کې د اوربند اعلانول وو.

موږ په کابل کې له پنجشېر څخه راغليو او په کابل کې له مېشت شويو وګړيو سره ډېرې خبرې وکړې ، په تېره بيا له هغه چا سره چې له مسعود سره يې په کوشنيوالي ، د زده کړيالۍ پر کلونو او د همدغه مقاومت پر کلونو پېژندل. په پايله کې له موږ سره د يو اړ و پيچ ( ضد ونقيض ) انسان تصور پيدا شو ، يانې د يو داسې سړي ، چې مثبتې او منفي ځانګړتياوې پکې يوځای شوې وې. خو يو ټکي موږ ته پرنسيپي ښکاره شو ، هغه دا چې ټولو ويل ، مسعود پر خپله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ سړی دی. دې ټکي موږ ته دا ډاډ راکاوه ، چې له مسعود سره له ليدنې کتنې وروسته به ژوندي راستانه شو ، ځکه مسعود ژمنه کړې وه ، چې زموږ امنيت به گرانتي کوي. هغه وو ، چې د منځگړيو له خوا له احمد شاه سره د ليدنې کتنې ځای او مهال وټاکل شو ، هغه هم د احمد شاه مسعود د شرايطو په پام کې نيولو سره . د ده شرايط دا ول ، چې ليدنه کتنه به په پنجشېر کې ، د مجاهدينو تر کنترول لاندې سيمه کې او د ۱۹۸۲ زېږدي کال له پيل څخه يوه ورځ مخکې ترسره کيږي. د ليدنې کتنې ځای ته به د نوي کال پر شپه ورځو . موږ بايد بې ساتندويانو او بې وسلې ورشو .

معمولا پر جشني ورځو دا دود وو ، چې ځلوښتم اردو به د ټولې وسلې يو باړ چلاوه. خو دا ځل د دې لپاره چې د ناارامی لپاره کومه پلمه جوړه نه شي ، موږ د درې سوه پينځه ځلوښتم ۳۴۵ پاراشوټي - ديسانت غونډ له مرستيال بولندوی سره داسې جوړ راغلو ، چې هيڅ ډول جشني ډزې به نه وي او بشپړه چوپتيا به وي. پر ځای ده وويل شي ، چې دا سړی [ د غونډ مرستيال بولندوی. ژ ] جگړن " پاول گراچيوف " وو ، چې وروسته بيا د روسيې د دفاع وزير شو .

کله چې تياره شوه ، نو د روخې ( رخې ) له کلي څخه [ د خبرو اترو د ترسره کولو ځای ته. ژ ] روان شو . د خبرو اترو ځای ته موږ دوه کسه روان وو ، زه او ژباړن " ماکس " . ټاکلي ځای ته ژر ورسېدلو . هلته زموږ د هر کلي لپاره د مجاهدينو يوه ډله منتظره وه ، چې مشر يې د احمد شاه د کشف ضد خدماتو مشر تاج الدين وو . له دغې ډلې سره موږ پلي تر بازارکه ولاړو . موږ په غرونو کې پر نريو لارو نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور ساعته مزل وکړ. پر لاره د ياغيانو له وسله والو ساتنديو پوستو څخه تېر شو.

زموږ په وړاندې د مجاهدينو چلند ډېر دوستانه وو. په بازارک کې يې موږ ته په ښه توده کوټه کې ځای راکړ. برېښنا نه وه، خو د خاورو تېلو څراغ بلېده. له مجاهدينو سره په يوه کوټه کې ويده شولو. موږ له ځان سره وسله نه وه اخيستې، او دې کار زموږ په وړاندې د دوی دوستانه روحيه نوره هم ښه کړه.

د جنوري پر لومړۍ نېټه ګهيځ، تاج الدين خبر راکړ، چې له احمد شاه مسعود سره ليدنه کتنه به د سهار پر نهو بجو او دېرشو دقيقو پيل شي. نه شم ويلای، چې د دغې ليدنې کتنې انتظار دې له ماسره کومه ځانګړې اندېښنه راپيدا کړې وي. دغه انتظار زما تلوسه راپارولې وه، ځکه چې تر موږ مخکې هيڅ کوم شوروي پوځي بولندوی مسعود نه وو ليدلی، ان عکس يې هم نه وو ليدلی. د ده په اړه يوازې د نورو خلکو له خبرو څخه اخيستل شويو مالوماتو شتون درلود، چې هغه د ده د خاصيت، د سلوک ډول يا طرز په اړه مالومات ول، چې د عملياتو د چمتووالي پر مهال راټول شوي ول. دا مالومات به څومره کره او رښتوني وي؟

پر ټاکلي مهال کوټې ته يو داسې ځوان سړی راننوت، چې ونه يې لوړه نه وه، وېښتان يې تور ول او لږ ډنګر غوندې وو. د ده په څېره کې موږ هيڅ داسې کوم څه د ځناورو ونه ليدل. (له دې سره سره، چې په دې اړه زموږ رسنيو ډېرې ليکنې کولې). ده افغاني دوديز کالي اغوستي ول. په مخ کې يې تمرکزوالی ليدل کېده. لنډه دا چې د حالت سختوالي څو ثانيې دوام وکړ. له دې وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه مسعود مخ پرانیستل شو ، په سترګو کې یې مهرباني او ښه نیت ، ان ډېره مهرباني او زړه سواندي وځلېده . داسې ښکارېده ، چې زموږ په مخونو کې هم د دوښمن توب نښې نه وې.

د افغاني دود له مخې له څو ثانیو ګډوډ کېدو وروسته مو دوديز روغبړ وکړ. له دې وروسته سباناري ته وروبلل شو .

لکه څنګه چې په ختیځ کې دا دود دی ، تر هر څه ړومبی احمد شاه زموږ د روغتیا پوښتنه وکړه ، بیا یې وویل ، چې د لارې له ستړیا وروسته مو استراحت ښه وکړ او که څنګه ؟ موږ په ځواب کې ورته وویل ، چې هر څه سم دي. موږ هم پر خپل وار د ده د روغتیا پوښتنه وکړه. پر همدې ډول د سباناري کولو پر مهال ورو ورو خبرې پیل شوې . خبرې لومړی له جګړې څخه لرې د عادي ژوندنیو موضوعګانو په اړه وې. موږ ته لکه مېلمنو ته ، دوديز درناوی وشو ، هغه دا چې تر ټولو ړومبی د کوزړې پر اوبو لاس پرې مینځل ، تر ټولو لومړی پر تازه لاس وچوني باندې لاسونه وچول او تر ټولو لومړی له ډوډۍ څخه د ګولې راماتولو او تر ټولو لومړی له ګډ غوري څخه د پلو د خوراک د پیلولو حق دی ، چې مېلمه ته ورکول کېږي...

له سباناري وروسته احمد شاه مسعود له خپل یوه نږدې کس سره او زه له " ماکس " سره ، ټول څلور کسه په کوټه کې پاتې شولو . خبرې پیل شوې. موږ له احمد شاه څخه داسې پوښتنې وکړې ، چې موږ ته یې د مشرتابه له خوا سپارښتنه شوې او د دندې په توګه راکړل شوې وې. دی لږ هېښ شو ، چې زموږ له لورې ده ته کومه ګوتڅنډنه ونه شوه ، چې تسلیم شي او وسله پر ځمکه کېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ځکه چې تر دې مهاله له ده څخه سختې غوښتنې کېدې او ورلېږل کېدې . د ساري په توګه ، د کارمل د حکومت پر وړاندې مقاومت بند کړه او تسليم شه . زموږ په وړانديزونو کې تر ټولو مهمې مسلې ، په پنجشېر کې د دوه اړخيز اوربند اعلانول او د ځايي وګړيو د عادي ژوند د سمبالولو دوه اړخيزې ژمنې وې.

ولسوالۍ ته د هغو وګړيو ، چې د جګړه ييزو عملياتو لامله يې خپل کورونه پرې ايښې ول ، د بېرته راستنېدا ، په ګډه د دوی د امنيت سمبالتيا او د سوله ييز ژوند لپاره له دوی سره د هر اړخيزې مرستې په اړه وړانديزونو د مسعود ځانګړې لېوالتيا راوپاروله. دا د ده په ګټه وې.

د هر وړانديز پر هره برخه باندې ژور او مفصل بحث کېده . دا د نزاکتونو او مهربانۍ د مراعت خبره نه وه . احمد شاه مسعود څرګنده کړه ، هغه ګوتڅنډنې ( اولتيماتومونه ) چې د جګړې د دوو کلونو په بهير کې ده ته د شوروي او افغان لوريو د استازيو له خوا شوي ، د ده د منلو وړ نه دي. ده په ټينګار دا خبره وکړه ، چې دی نه د شوروي اتحاد او نه هم د شوروي خلکو پر وړاندې دوښمنانه روحيه لري. ده وويل ، چې زموږ ولسونه زموږ مشرانو په جګړه کې ښکېل کړي ، او جګړه ، جګړه ده ، په هغې کې بلهاري حتمي وي. احمد شاه ويل ، کله چې سوله راشي موږ به ښه ګاونډيان شو . خو د کابل د مشرۍ ، چې واک يې په هېواد کې د ده د خبرو له مخې ، يوازې په پلازمېنه او ځينو نورو لويو ښارونو باندې محدود شوی ، پر وړاندې مسعود نه پوخلاکېدونکی دوښمن وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود په ټينګار وويل : د شوروي پوځونو له وتلو سره سم به د کابل رژيم له راتلونکې څخه بې برخې شي.

وروسته ما له احمد شاه سره څو څو واره ليدنې کتنې وکړې ، خو دغه لومړنۍ ليدنه کتنه له ما سره د تل لپاره په حافظه کې پاتې شوه.

د همدغې لومړنۍ او وروسته نورو ليدنو کتنو پايله دا شوه ، چې په عمل کې هم جګړه ييز عمليات بند شول او د پوځلاينې د شرايطو د مراعتولو په برخه کې دوه اړخيز کار پيل شو . پنجشېر ته سوله ييز وګړي راستانه شول ، د کابل او سالنګ لويې لارې وضعه ښه او ارامه شوه . خو دغه حالت د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند کارکوونکيو په زړه برابر نه وو . هغوی په دغه سيمه کې د جګړه ييزو عملياتو پر ترسره کولو ټينګار کاوه او په پرله پسې ډول يې شوروي مشري دې کار ته ورټېل وهله.

همدا لامل وو ، چې له روغې جوړې او پوځلاينې څو څو واره سرغړونه وشوه ، په دې کې زموږ ګناه وه . د ساري په توګه ، له مسعود سره يوه ليدنه کتنه د يوه ځايي وګړي په کور کې ترسره کېده . موږ ناست يو ، خبرې کوو ، چې ناڅاپه د رانږدې کېدونکيو چورلکو د غورا غږ واورېدل شو . ما مسعود ته وويل ، چې اوس خو زموږ او ستاسو ترمنځ پوځلاينه ده ، له چورلکو مه ډارېږئ ، خو ده وړانديز وکړ ، چې بيا هم د احتياط لپاره پټ او مصون ځای ته ننوزو . کله چې موږ دا کار وکړ ، چورلکو سملاسي پر هماغه کور ګوزار وکړ ، کور سم نيمايي ړنګ شو . مسعود د کور کنډوالې ته ګوته ونيوه او ماته يې وويل : " د انترناسيوناليستي مرستې عملي بڼه دغسې وي " . بيا يې زياته کړه ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصا زما په وړاندې دی هیڅ کومې ادعاوې نه لري ، خو پر روسانو باور کول ډېر ستونزمن کار دی. دا خبره رښتیا وه ، ځکه چې پوځي بولنتون ( قوماندانۍ ) په راتلونکې کې څو څو ځلي خپلې ژمنې ماتې کړې او سر یې ترې وغړاوه.

ما له احمد شاه سره د کار کولو د پایلو د رپوټ ورکولو پر مهال د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د دفاع وزارت لومړي مرستیال " س. سوکولوف " ته وویل ، چې مسعود د کارمل د حکومت پر وړاندې دوښمنانه چلند لري. «سوکولوف» وپوښتل: «په افغانستان کې له چا سره کېدای شي چې سرې جوړ راشي؟» ما په ځواب کې ورته وویل ، چې په هېواد کې تر ټولو ډېر اغېزمن او با اتوریته سړی احمد شاه دی او له ټاکلیو شرایطو سره کېدای شي ، چې سړی ورسره جوړ راشي ، خو په هیڅ صورت سره اړینه نه ده ، دا هڅه وشي ، چې له کارمل سره همکارۍ ته رامات شي. دی دا کار هیڅ مهال نه کوي. ښکاره خبره ده چې د همدغه لامل له مخې د احمد شاه پرضد عملیات هیڅ مهال نه بندېدل.

ایوان شاپووال

د «ارگومېنتي نیدېلیی» ورځپانه، برېښنایي بڼه، د ۲۰۰۶ ز کال د سیپټمبر ۷، (۱۸) ۱۸ گڼه، (۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بلخین د واکمنۍ پر مهال هېواد د امریکا له خوا اداره کېده

له جنرال «یگر نیکولایوویچ رودیونوف» سره د مرکې یوه برخه.

پوښتنه: ایگر نیکولایوویچ ، پر ۱۹۸۵ - ۱۹۸۶ زکلونو تا سو د څلوېښتم اردو ، چې په افغانستان کې وو ، مشري کوله . د پوځي تاریخپوهانو د ارزونې له مخې ، دا په دغه هېواد کې د افغان جګړې یو تر ټولو ډېر ډراماتیک پېر وو . زموږ پوځونو ، د افغانستان د دموکراتیک گوند ، چې ټول مورال یې له لاسه ورکړی وو ، له مرستې پرته یو په یو له دوښمن سره جګړه کوله. په دغه جګړه کې کوم څه تر ټولو ډېر ستاسو په حافظه کې ځای نیولی ؟

ځواب : د دغې جګړې بشپړ نه لرلیدتوب زما په حافظه کې ډېر ځای نیولی . جګړه د یوې کړۍ په ډول روانه وه ، او کال پر کال یې هماغسې پایینه ( ادامه ) درلوده . زموږ پوځونو به د دوښمن پوځي اډې ونېولې ، " دوخي " مجاهدین به یې غرونو ته وشړل او هلته به تر ډېره ځنډه تم ول . وروسته به زموږ د پوځي ټولگیو مهمات او اوبه پای ته ورسېدې . نیولی ځای به یې " ملي اردو " ته وسپاره او شوروي پوځي ټولگي به خپل مېشتځای ته راستانه شول. دا مهال به " دوخي " دوښمنان له غرونو راښکته شول او ټول هغه ځای به یې بېرته بیا ونیو . پر راتلونکې کال به دا ټول څه بیا تکرارېدل...

څه به یې پټوم : د ډېری افغانانو لپاره موږ بهرني نېواکگر وو . نږدې شپږ میلیونه افغانان پاکستان او ایران ته ولاړل او هلته د کډوالو په پنډغالو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېشت شول . له همدې لامله دوښمنان هيڅ مهال د خلکو يا په بله وينا د بشري ځواک د کموالي له ستونزې سره مخ نه ول .

پوښتنه : تر ټولو ډېرې سختې جگړې په کومه سيمه کې روانې وې ؟

ځواب : تر ټولو ډېره سخته وضعه په پنجشېر دره کې وه . دا دره داسې ښکاري ، لکه افغانستان چې په منځ نيمايي کوي او د هېواد له لويديزو پولو څخه نږدې د چين تر پولو پورې تللې ده . په دغه سيمه کې د دوښمنانو بولندوی احمد شاه مسعود وو ، هغه نامتو احمد شاه ، چې نن ورځ له طالبانو سره په جگړه کې دی او په تومنه کې د روسيې متحد دی . [...]

واديم اندريوخين

د «نوويي دېله» ورځپاڼه (۱۸)

# افغاني جگړه

[...] احمد شاه نن ورځ تر ټولو هغو سرغوڅوونکو جلادانو ، چې د افغانستان په خاوره کې ژوندي پاتې دي ، څخه پياوړی سرغوڅوونکی جلاد دی . د ده د پوځ اجيرې پوځي ډلې د پنجشېر په دره کې هماغلته لگيا دي ، هماغلته پټې دي ، خو کله چې لږ خطر ورته متوجه شي ، بيا نو د پاکستان په لور ځان وباسي . احمد شاه د کابل پر ضد په ډېرو هلو ځلو سره جگړه پر مخ بيايي . دی د خپلې ايجنټورۍ شبکه لري ، د مخابرې لپاره ده ته تر ټولو ډېر عصري وسايل ورکړ شوي ، چې له هغه شمېر څخه تشيالي ( کيهاني ) وسايل ، د مصنوعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمکۍ وسایل هم دي. په ټوله کې د احمد شاه ټول څه بشپړ دي: د ساري په توګه ، توغندي ، ماینونه ، سپکه او درنه وسله ، او انجنیري سامان الات. ښکاره خبره ده ، چې دا ټول څه ده ته له هسکه نه دي رالوېدلي. له پولي [ له افغانستانه. ژ ] نه بهر ټول پوهیږي ، چې په افغانستان کې باید پر چا باندې حساب وشي او څوک باید خوښ شي ، چې ولسي واکمني پرې له منځه یوړل شي. احمد شاه ډېر چالاک ، پوه او له تعصبه ډک دوښمن دی. [...]

برید جنرال روسلان اوشېف

د افغان وراوبپاڼه، (۱۹)

# دا ځل افراط غوښتونکیو منځنۍ اسیا په نښه کړې

په دغه سیمه کې د شوروي رژیمونو جګړه ییزه وړتیا ډېره ټیټه ده ، چې له سویل څخه دې د دوښمنانه برید مخنیوی وکړي.

په امریکا متحده ایالاتو کې برید [ موخه یې په امریکا کې د ۲۰۰۱ ز کال د سیپټمبر د ۱۱ نېټې پېښه ده. ژ ] سرې دې ته اړباسي ، چې د منځنۍ اسیا وضعې ته نوی لید وشي. دا مستثنا نه ده ، چې پر راتلونکي لنډ مهال به همدغه سیمه د اسلامي سخت دریځو لپاره پر ازمایښتي پولیګون بدل شي ، هغه اسلامي سخت دریځه ، چې د لوېدیځ تمدن پرضد یې جګړه اعلان کړې. په خواشینۍ سره باید وویل شي ، چې په لومړي لید کې د دې ډول پرېکنده امر لپاره پوره او بشپړ بنسټونه شتون لري. که څه هم ، تر اوسه لا مالومه نه ده ، چې په امریکا کې یاد برید په نومېرلې ( مشخصه ) توګه چا ترسره کړی ، خو بیا هم ډېری شنونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ګڼي ، چې په دغه بې رحمه پېښه کې د اسلامي بنسټپالو لاس ډېر احتمالي دی. [...]

اړينه ده وويل شي ، چې د امريکا په متحده ايالاتو کې له بريده لږ مخکې ، پر افغان جنرال احمد شاه مسعود ، چې د توکم له پلوه تاجک دی ، باندې زړور بريد وشو . مسعود په افغانستان کې د شوروي پوځونو دوښمن وو ، خو نن ورځ يې د کرېملين او منځنۍ اسيا هېوادو د مشرانو له خوا ملاتړ کيږي . ( د نېزاويسيمايا ګزېته ورځپاڼې خبريال په تاجکستان کې د مسعود د وسله والو ځواکونو هوايي اډه پخپلو سترګو ليدلې ده . ) که چيرې مسعود په رښتيا هم وژل شوی وي ، نو په منځنۍ اسيا کې د نوې جګړې د پيل احتمال ډېر بدای شي. [...]

ايګر روتار

اوش - خوقند - تاشکند - الماتا - بيشکېک ، ۲۰۰۱ / ۹ / ۱۴

د «نېزاويسيمايا ګزېته» ورځپاڼه، د ۲۰۰۱ / ۹ / ۱۴ نېټې ګڼه. (۲۰)

# احمد شاه مسعود

[...] مسعود په لېبيا او عراق کې د ترهګرو د چمتووالي په کمپونو کې زده کړې کړې دي . د اسراييلو پر ضد يې د فلسطين د خپلواکۍ بښونکي سازمان په ترهګريزو کړنو کې برخه اخيستې ده . کله چې پر افغانستان د شوروي اتحاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرى وشو ، احمد شاه مسعود هېواد ته راستون شو . تر دې مخکې يې په پاکستان کې د امريکايي ښوونکيو له خوا کوټلى پوځي چمتووالى کړى وو .

په افغانستان کې د ډاکتر نجيب الله د شوروي پلوه رژيم له ړنګېدو وروسته ، مسعود ته د افغانستان له ۳۱ ولايتونو څخه ۱۱ ولايتونه په ميراث ورپاتې شول. هغه سيمه چې د ده تر لاس لاندې وه ، " مسعودستان " نومېده . [...] په مسعودستان کې اقتصادي ژوند جوړ شو ، او ټيکاو رامنځته شو .

طالبانو وکولاى شول ، چې مسعود له خپلو نيول شويو سيمو څخه وشړي ، خو په پنجشير کې پاتې شو . ده په پنجشير کې په اصل کې ، له اسلامي متعصبو څخه د همګټو هېوادو پوله ساتله. [...]

د «اګېنتورا» اوبپاڼه. (۲۱)

# طالبان به بيا هم راشي

د شمالي ټلوالې مشر احمد شاه مسعود له سياسي ډګره وزي. شمالي ټلواله د بنسټپالو پوځونو او په افغان- تاجک پوله کې د روسي پوله ساتو پوځيانو ترمنځ وروستى خنډ وو . نوموړى يو مهال دوښمن ، خو اوس د مسکو او دوشنبې متحد دى. دى په هېواد کې د کورنۍ جګړې يو له لويو پيلوونکو څخه دى. [...]

پر ۱۹۸۳ ز کال مسعود دې ته اړوتى وو ، چې له شوروي بولنتون ( قومانداني ) سره پوخلاينه وکړي او د ده د غوښتنو پر بنسټ منل شوې وه ، چې د حکمتيار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلې په اړه ورته مالومات ورکړل شي . خو نه شوروي پوځونو او نه هم افغان پوځونو وکولای شوای ، چې د مسعود ټولې وسله والې ډلې له منځه یوسي . مسعود پر دې ډېر ښه پوهېد ، د هغې چیریکي جګړې ، چې ده د افغان کمونیستانو او شوروي پوځونو پرضد پر مخ بیوله ، بری د پنجشېر له وګړیو سره په اړېکو پورې اړه لري . د هغې سبسایډی ، چې ده لکه د نورو افغان ډګري بولندویانو په څېر له بهره تر لاسه کوله ، لویه برخه له ځایي وګړیو سره پر مرسته لګښتېده . [...]

له افغانستانه د شوروي پوځونو د وتلو پر مهال مسعود د اسلامي اپوزیسیون یو له لویو او اغېزمنو مشرانو څخه وو . د پنجشېر سیمه د ده تر لاس لاندې وه او د ده تر لاس لاندې ټولو پوځي ډلو شمېر ۱۱ زرو ته رسېد . خو کله چې شوروي پوځونه له افغانستانه ووتل ، نو مالومه شوه چې د مسعود کوم اوږد مهاله بری په برخه نه شو ، ځکه د نجیب الله حکومت د شوروي اتحاد د وټېزو مرستو له برکته وکولای شول ، چې دوه کاله نور هم پخپلو پښو ولاړ پاتې شي . احمد شاه مسعود ، چې یوازې یې چیریکي جګړه ښه پر مخ بیولای شوای دا وس نه درلود ، او ویې نه شو کولای ، چې عادي جګړه پر مخ بوزي . ده نه یوازې ونه شو کړای کابل ونیسي ، بلکې ویې نه شو کړای ، چې د کابل او د هېواد د شمالي سیمو ترمنځ تړاو پرې کړي ، هغه سیمې چې د هغوی له لارې د شوروي اتحاد له خوا افغان حکومت ته د مرستو رسولو لار ترې تېره شوې وه . د احمد شاه استعداد ، لکه د نورو افغان ډګري بولندویانو په څېر ، په دې کار کې لا کمزوری وو ، چې د ۱۹۹۲ زېږدي کال په اپرېل کې یې د ډاکتر نجیب الله د حکومت له ړنګېدو وروسته ونه شو کولای ، چې په افغانستان کې سوله ییز ژوند سمبال کړي . د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو دغه مشر ، چې ټول ژوند یې په جګړه کې تېر شوی وو ، په بشپړ ډول دې ته چمتو نه وو ، چې دغه جګړه پای ته ورسوي. تر هغه مهاله چې شوروي پوځونه په افغانستان کې ول ، ده د شورویانو پرضد جګړه کوله ، خو کله چې روسان ووتل ، بیا نو د ده لپاره تر ټولو لوی دوښمن د افغانستان جمهوریت حکومت وو. کله چې دغه حکومت هم له منځه ولاړ ، بیا نو احمد شاه مسعود له خپلو پخوانیو اسلامي اپوزیسیوني متحدینو سره پر جګړه پیل وکړ. په هېواد کې کورنۍ جګړې ادامه درلوده او د دغې جګړې د اور په بلولو کې د جنګیالي او ځان غوښتونکي (ځانپرست) احمد شاه مسعود رول لوی وو [...]

له سیاسي ډګره د مسعود لرې کېدل ، د روسیې لپاره په افغانستان کې د وروستني او لوی متحد له لاسه ورکول دي. که چیرې تر ده وروسته د ده ځایناستي کسان ونه شي کولای ، چې د طالبانو پر وړاندې مقاومت پیاوړی کړي ، نو په دې حالت کې به هغوی په سیده ډول په پوله کې له روسي پوله والو پوځیانو سره ، چې پوله ساتي ووزي نو په تاجکستان کې به د روسیې له دوه سوه یو ۲۰۱ شمېره فرقې ، چې په تاجکستان کې ځای پر ځای شوې ، سره مخ شي . په پوله کې ډز و ډوز اوس یو عادي کار ګرځېدلی. طالبان هم د شمال پر لور د خپل وړاندې تګ نیت نه پټوي. لنډه دا چې ، اوسمهال پر امریکا متحده ایالاتو باندې له ترهګریز برید وروسته د افغانستان برخلیک ستونزمن او پېچلی دی.

یوري زوونارېف

د «پروفیل» اوونیزه مجله، ۲۰۰۱ / ۹ / ۱۷ ، (۲۵۲) ۳۴ ګڼه. (۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسعود یاد

د شمالي ټلوالې له مشر مسعود سره ، چې په افغانستان کې د طالبانو پر ضد جنګیږي، ما هم لیدنه کتنه وکړه.

[...] کله چې موږ پنجشېر ته راغلو ، نو په لومړي سر کې مو هلته د شمالي ټلوالې مشر ونه لید ، دی دا مهال په دوشنبه کې وو . داسې وویل شول ، چې د وسلو د تر لاسه کولو لپاره له روسي لوري سره خبرې اترې کوي. [...]

وروسته احمد شاه مسعود په چورلکه کې راغی چې له موږ سره لیدنه کتنه وکړي. څو ساعته وروسته کېدای شو چې دی پخپله د ده په دوتر کې سړی ووینې. اړینه ده وویل شي ، چې د " پنجشېر زمري " پنجرې پر ما کوم اغېز ونه کړ . داسې نه ښکارېده ، چې دلته دې څه موده مخکې چا اروپایي رغاونه کړې وي. دوتر یې ښېخې ساده وو ، یو مېز ، څو څوکۍ او پر دېوال د افغانستان ځوړنده نقشه.

کله چې ما مسعود ولید ، پوه شوم ، چې دی څومره دیندار سړی دی. ده یوازې یو ساتندوی درلود ، او هغه هم داسې کوم پنډ سړی نه وو ، لکه زموږ روسی ، چې " لرې شه ، چې پرې درغلم " . هغه هم د ده په څېر ډنګر غوندې وو ، لکه د دون کیشوت غوندې .

کله چې مو لاس روغبړ ورسره وکړ ، ما ته «دمیتري فومنوف» را په یاد شو ، چې کوشني لاسونه یې درلودل. د مسعود لاسونه هم کوشني ول. [...] دا یوازې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې وې ، چې ما د ده د مړینې پر نهمه ورځ وکړې. نورې خبرې همدلته پای ته رسوم.

اندری استروفسکي

د «دوې تیسیاچه ۲۰۰۰» اوونیزه خپرونه، ۲۰۰۱ د سیپټمبر ۲۱ - ۲۷ ، (۹۰ ) ۳۸ گڼه. (۲۳ )

# روسي جنرالانو د مسعود یاد ته درناوی وکړ

روسي جنرالانو د احمد شاه مسعود ، د پخواني دوښمن یاد ته درناوی وکړ. نن د ده د وژنې پېنځم تلین دی. د ده یاد غونډه یوه ورځ مخکې ، د سیپټمبر پر ۸ په مسکو کې د افغانستان په سفارت کې جوړه شوې وه.

د ولسي جرگې وکیل ، د شوروي اتحاد اتل ستر جنرال ، " والېنیتن وارېنیکوف " ، د افغانستان د جگړې د یادولو پر مهال وویل ، چې " پخپله ده د احمد شاه مسعود پرضد د جگړه ییزو عملیاتو ملاتړ نه کاوه ". ده وویل: " ټول هغه څه چې افغان ولس وزغمل او لا یې زغمي ، د نړۍ نور ډېر ولسونه یې نه شي زغملای. دا هغه ازماینښت دی ، چې د ژوند په ډېرو اړخونو باندې اغېز لري او دا باید نور ختم شي ، خلکو ته باید د سولې او ارامۍ هیله ورکړ شي.» [...]

د دین او سیاست انستیتوت له اوبپاڼې څخه.(۲۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوتین د احمد شاه مسعود یاد ته درناوی وکړ

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د شمالي ټلوالې پخواني مشر احمد شاه مسعود " په روسیه کې د درناوی وړ او نامتو سړي " په نامه یاد کړ. دولتمشر دا خبرې نن په هغه غونډه کې څرګندې کړې چې د افغانستان پر ګڼ‌ون د یو شمېر بهرنیو هېوادو د نویو سفیرانو د باورلیکونو د منلو لپاره په کرېملین کې جوړه شوې وه. پوتین وویل ، چې دا فاکټ په مثبت ډول ارزوي ، چې د روسیې په فدراسیون کې د افغانستان نوی سفیر د احمد شاه مسعود ورور احمد ضیا مسعود ګومارل شوی دی. [...]

۲۰۰۲ ز کال د مارچ ۱۸ ، د «روس بیزنېس کونسالټینګ» یا «ار. بي. کې» خبري اژانس ویبپاڼه.( ۲۵ )

# د موږ جګړو تر رڼې لاندې استعدادونو ګڼه ګوڼه

...پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغله وروسته له احمد شاه مسعود سره زموږ لوبې پیل شوې. مسعود د تش په نامه " پنجشېر زمري " پر نامه نامتو شو. دی موږ سرتر پایه په وسلو سمبال کړ ، له دې سره سره چې دی د پخواني شوروي اتحاد په ساحه کې د نښه یې توکیو تر ټولو لوی سوداګر وو. د همده له لاسه پر نوي یمو کلونو زموږ ګڼ شمېر زلمیان او ځوانان په نښه یي توکیو روږدي او د هیرویینو په لمبو کې له منځه ولاړل...خو زموږ د مشرانو لپاره تر هر څه ایډیولوجي ډېره مهمه وه ، هغه دا چې ، مسعود د امریکا متحده ایالاتو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې ودروي ، خو امریکا یانو بیا القاعده ورته رامخکې کړې وه ، د دې لپاره چې د مسعود پر وړاندې انډولي وزن شتون ولري او داسې نور .

وروسته حالت دې ته ورسېد ، چې هم زموږ مسعود او هم د دوی بن لادن له کنټروله ووتل ، غټ شول او ابلوخ ( بالغ ) شول. مسعود خو یې وکولای شول ، چې په امریکا متحده ایالاتو کې د سپټمبر د ۱۱ نېټې له پېښې مخکې ووژني...خو بن لادن لا ژوندی دی ... څنګه کېدای شي ، چې موږ زبرځواکونه اوس پر دې منښته ( اعتراف ) وکړو ، چې دا ټول کارونه پخپله زموږ له لاسه شوي ، زموږ زبرځواک لرونکو هېوادو له لاسه. [...]

«اننا پولیتکوفسکایا» د «نووایا ګازېته» ورځپاڼې خبریاله، مانیلا- بن ، ۲۰۰۲ / **۵** / ۱۳ ، (۲۲)

# پنجشېر

[...] افغانستان ته د شوروي پوځونو له ننوتو سره سم د پنجشېر ټول وګړي د احمد شاه مسعود تر مشرۍ لاندې زموږ مخې ته ودرېدل . هغه مهال له ستراتېجیکي پلوه د افغانستان تر ټولو لویه شمالي لاره ، چې د سالنګ تونل له لارې د هېواد شمال او سویل سره نښلوي ، او د دغه هېواد په منځ کې تېره شوې ، د دوښمنانو له لوري ډېره پېچلې وه . داسې وختونه هم راغلي ، چې زموږ پوځې بولندویان به له احمد شاه سره جوړ راغلل ، دوی ته به یې تېل ، اوړه ، ډوډۍ ، مهمات ورکړل ، لاره به زموږ پر مخ پرانیستل شوه ، پوځي کاروان به

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له کومه خنډه تېر شو ، خو کله چې به پخپل منځ کې جوړ نه ول ، یا به هم کړې ژمنې مراعت نه شوې ، بیا به نو جګړه ییز عملیات پیل شول. [...]

والېري اوچیروف، د «مونولیت دایجېست» ټولنیزه-سیاسي مجله، ۲۰۰۵ ز کال ، (۹ ) ۳ ګڼه، (۲۷ )

# «په پاکستان کې پر بانډونو باندې د ګوزار پر بکړه ما پخپله کوله!»

له ستر جنرال وارېنیکوف سره مرکه

ستر جنرال " والینیتن وارېنیکوف " داسې ګڼي ، چې له دوښمن سره لومړی باید خبرې وشي ، خو که چیرې پر خبرو کار ونه شو ، بیا نو باید چې له منځه یوووړل شي.

د ۲۰۰۴ ز کال په ۳۵ ګڼه کې جنرال " وارېنیکوف " ، د چېچنیا د وضعې په تړاو خپله افغاني تجربه له لوستونکو سره شریکه کړه. لوستونکي پخپله کولای شي دا وارزوي ، چې له هغه مهاله تر دې دمه کوم بدلون راغلی دی.

د روسیې فدراسیون د دفاع وزارت ستر درستیز ډګرجنرال " یوري بالویفسکي " دا څرګندونې ، چې له هېواده بهر دې د ترهګرو پر اډو د خبرداري ( اخطاري ) ګوزارونه وشي ، د ډېرو جدي پوځي چارپوهانو له خوا ملاتړ شوې نه دي او د نړوکې پر لید یې ورته کتلي دي. خو دا ډول ګوزارونه د افغانستان د جګړې پر مهال شوي او اغېز یې ښندلی وو. په خواشینۍ سره ، چې د هغې جګړې تجربه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمالي قفقاز په خاوره کې پر کار نه شوه . د افغانستان د عبرت لوستونو او له نړيوالې ترهګرۍ سره په اوسنۍ هاند و هڅه کې د تېروتنو په اړه ، د " نېزاويسيمايا ګازېته " ورځپاڼې د پوځي ځانګې خبريال ، د ( ۱۹۸۴ - ۱۹۸۹ ) زېږدي کلونو پر مهال په افغانستان جمهوريت کې د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د استازيتابه له مشر ستر جنرال " والينتين وارېنيکوف " څخه هيله وکړه ، چې کيسه وکړي.

پوښتنه: " والينتين ايوانوويچ " ، په دې وروستيو کې په روسيه کې د ترهګرۍ راڅرګندېدنه له پوځي ليدټکي څخه څه ډول بولۍ او لامل يې څه ګڼۍ. ؟

ځواب: دا پر ۱۹۹۹ ز کال پر داغستان باندې د ناقانونه وسله والو ډلو ، چې د چېچنيا په خاوره کې اوسي، د هغه ناکام بريد کسات اخيستل دي ، چې غوښتل يې له همدې لارې په شمالي قفقاز کې اړ و دوړ راپيدا کړي . دا د ولسمشر «باريس يلڅين» پر سپارښتنه، د جنرال «الېکساندر لېبېد يف» او د باندېيستانو ترمنځ د «خساويورت» د هوکړه ليک د لاسليکولو پايله ده ، چې موږ يې وينو . دغه هوکړه ليک باندېيستانو ته دا شونتيا ورکړه ، چې خپلې ليکې ډکې او سمبال کړي ، له ترسره کړيو تېروتنو څخه د عبرت لوست واخلي ، د اډو يوه کارنده شبکه جوړه کړي ، د وسلې د لېږدولو او مالي ملاتړ چينلونه جوړ کړي او دوی ته ښه مالومات ور په برخه کړي. دا کارونه نه يوازې د چېچنيا په خاوره ، بلکې د ټول قفقاز په جمهوريتونو کې . لنډه دا چې دا ټول کارونه د نړيوالې شبکې له لارې ترسره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دغو فاکټونو د ارزونې له ليدټکي نه د ولسمشر "ولاديمير پوتين" د دې خبرو بشپړ ملاتړ کوم ، چې موږ د دغو ګوابښونو بشپړه ارزونه نه وه کړې او ناغېړي ( سستي ) مو ښودلې وه... [...]

پوښتنه : تاسو د ستر درستيز دا څرګندونې ، چې په بهر کې دې د ترهګرو پر باندونو د خبرداري ګوزار وشي ، څه ډول ارزوئ ؟

ځواب : زه د ستر درستيز د دې څرګندونې بشپړ ملاتړ کوم . روسيه د دغسې ګوزارونو تجربه لري . ما پخپله دا ګوزارونه کړي ، هغه مهال ، کله چې د ۱۹۸۰ يمو زېږدي کلونو له نيمايي څخه د ۱۹۸۹ ز کال په فبرورۍ کې د پوځونو تروتلو په افغانستان کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد د دفاع وزارت د استازيتابه مشروم.

پوښتنه: د کوم هېواد پر خاوره مو دا ډول ګوزارونه کول ؟

ځواب: د پاکستان پر خاوره.

پوښتنه: هلته مو په نومېرلي ( مشخص ) ډول پر چا ګوزارونه کول ؟

ځواب: پر باندونو ، پر هغو باندونو چې موږ مالومه کړه ، دوی غوښتل ، چې افغانستان ته ننوزي . د پاکستان په خاوره کې د لوېديزو هېوادو او له هر څه رومبی د امريکا متحده ايالاتو د ځانګړيو خدماتو له خوا د دغو باندونو د روزنې او چمتووالي منځی جوړې شوې وې.

پوښتنه: د دغو ګوزارونو پرېکړې چا کولې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: پخپله ما کولې.

پوښتنه: له مسکو سره مو خپلې پرېکړې شریکولې ؟

ځواب: یو ځل مې هم دا کار نه دی کړی. تاسو یې پخپله څه ډول تصور کوئ ؟ که چیرې ما مسکو ته دا خبره کړې وای: " اجازه راکړئ ، چې د پاکستان په خاوره کې پر ځای شوي بانډ باندې گوزار وکړم. " ماته به یې په ځواب کې ویلي وای: " ته څه کوې ، ماغزه دې پر ځای دي ؟ ". بله دا چې دې ته اړیزه څه وه ، چې د دفاع وزیر په یو ستونزمن حالت کې ښکېل شي ؟ که چیرې له کوم گوزار نه وروسته د دولتونو ترمنځ ستونزې رامنځته شوې وای ؟ په دغسې حالت کې به دې ته اړوتی وای ، چې ویلي مې وای ، ما خو وزیر ته رپوټ ورکړ ، هغه پټه خوله پاتې شو ، یا خو یې خدای مکړه ، اجازه راکړه ... دې ته څه اړیزه وه ، چې وزیر د ملامتۍ په حالت کې ښکېل کړم ؟ سړی باید پخپله پر دې پوه وي. ما ټوله پازه پر ځان اخیسته ، له چا مې دا پوښتنه نه کوله ، چې د " گراد " او " سمېرچ " توغندیز سېستم وکاروم او که نه. ما امر ورکاوه ، چې دغه توغندیز سیستمونه مورچلیز ډگر ته وباسي او گوزراونه پیل کړي.

پوښتنه: دا گوزارونه د پاکستان په خاوره کې څومره وړاندې کېدل ؟

ځواب: تر لسو کیلومترو پورې.

پوښتنه: پاکستاني مشرتابه یې پر وړاندې څه ډول غبرگون ښووده ؟

ځواب: له دیپلوماتیکې لارې یې د کومو اعتراضیه یادښتونو په اړه خبر شوی نه یم ... پاکستان پټه خوله وو ، او تر اوسه یې لا یاده کړې نه ده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: د څه ډول وسلې ګوزارونه مو پرې کول ؟

ځواب: د " ګراد " ، " اوراګان " ، " سمېرچ " ریاکتیفي توپچي دستګاوو او نورو توپچي وسایلو ګوزارونه مو پرې کول. [...]

پوښتننه: پر هغو باندېونو چې تاسو ګوزارونه کول ، شمېر یې له څو څخه تر څو کسانو پورې وو ؟

ځواب: موضوع دا ډول نه وه. باند باند دی. د هغوی شمېر بېلابېل وو : له ۱۵ نېولې تر ۲۰ او ۳۰ کسانو پورې ، همدا راز له ۱۰۰ نېولې تر ۱۵۰ کسانو پورې. په همدغو مره شمېر سره دوی د افغانستان خاورې ته راننوتل.

پوښتنه: تاسو پر دې ډاډمن وئ ، هغه کسان چې ګوزارونه پرې کېدل په رښتیا هم باند وو ، د ساري په توګه سوله ییز بزګران نه ول ؟

ځواب: ډاډمنتیا بشپړه وه. د مالوماتو او خبرونو په برخه کې ما په افغانستان کې ځان ډېر ډاډمن احساساوه. زموږ کشف او پوځي څارګرۍ ډېر ښه کار کاوه او ماته یې ټول اړین مالومات راکول. دا هم زموږ پوځي کشف او پوځي څارګري وه او هم د هغه مهال د ( کې. جي. بي ) بهرنۍ څارګري.

پوښتنه: په دغسې حالتونو کې له کوم تاکتیک څخه کار اخیستل کېده ؟

ځواب: د ساري په توګه د وسله وال باند د مشر د له منځه وړلو تاکتیک څخه.

پوښتنه: نو لکه څنګه چې مالومه ده ، هغه مهال احمد شاه مسعود له منځه یو نه وړل شو ، دا ولې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: دا خبره رښتیا ده. د افغانستان ولسمشر نجیب الله پر دې خبره ټینګار کاوه، چې دی باید له منځه ولاړ شي. هغه [ولسمشر. ژ] د دولتي امنیت [کې. جي. بي. ژ] د لومړي لوی ریاست ریس "ولادیمیر کریوچکوف" ته ویلي وو، "کریوچکوف" د دفاع وزیر "دمیتري یازوف" ته، او د دفاع وزیر هم ماته بولی (قوماندہ) راکړه، چې احمد شاه مسعود له منځه یوسم.

ما ورته وویل، چې دا کار باید ونه شي. ما د لاسوندونو پر بنسټ ده ته دا په زباد رسوله، او په دې اړه د ۱۹۸۸ زېږدي کال له رپوټونو څخه یو رپوټ ما پخپل کتاب کې هم راوړی، چې احمد شاه مسعود د نورو مشرانو پر پرتله کورټ بل ډول سړی دی. دا د دولت د کچې سړی دی. ولس په ده پسې ځي، خلک پر ده باور لري، دی د هېواد په شمال کې د لویې اتورېټې خاوند دی، په هغه سیمه کې چې تاجکان ژوند کوي. دی غوسه ناک او غضب ناک نه دی، له ده سره سړی کولای شي سمې خبرې وکړي او سړی ورسره جوړ راشي. ما هم د دفاع وزیر ته لیکل، چې پر راتلونکي مهال به موږ پر احمد شاه مسعود ډېره لګوو. کوم ډول چې ما ویل کړي وو، وروسته هماغسې هم وشول...ما غوښتل، چې له ده سره وګورم، خو دا کار ونه شو...هغه مهال په مسکو کې وضعه پېچلې وه. "یازوف" چې د افغان لېډر په اړه زما له ډاډمنتوبه خبر وو او پرې پوهېده، ان له ما سره نور ټیلیفوني تړاوونه هم بند کړل او له دې وروسته به یې سیده د څلوېښتم اردو بولندوی "باریس ګروموف" ته ټیلیفون کاوه. خو لکه څنګه چې "ګروموف" هم زما پر دریځ پوهېده، نو ده به هم له دغو لارښوونو او سپارښتونو ډېره کوله او [د احمدشاه مسعود. ژ] د له منځه وړلو لپاره یې کوم ګامونه نه اوچتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: مانا دا چې د بانډونو د مشرانو د له منځه وړلو کار مو تل نه کاوه ؟

ځواب: موږ له هغوی سره له خبرو اترو نه خپل کار پیلاوه ، د جوړ جاړي لارې چارې مو لټولې. ما هغه مهال د ډېرو وسله والو بانډونو له مشرانو سره ولیدل ، په تېره بیا کندهار ته نږدې. د پاکستان په خاوره کې هم لیدنې کتنې شوې دي. د کشف د مالوماتو له پایلنیوي څخه وروسته دې پایلې ته راتلم ، چې شونتیا نه لري د بانډونو یو شمېر مشرانو ته سرې قناعت ورکړي ، نو دوی باید له منځه یووړل شي . کشف او پوځي څارګرۍ دوی د افغانستان او پاکستان په خاوره کې لټول ، د پاکستان د خاورې په داسې سیمه کې ، چې افغانستان ته به نږدې وه ، ځکه چې وړاندې یې لټون ناشونی وو ...

پوښتنه: دې کار اغېز او پایله درلوده ؟

ځواب : د بانډمشر له منځه وړلو وروسته ټول بانډ له منځه ته: یا خو به د دغه بانډ غړیو وسلې پټې کړې ، دوی به پخپله خپلو کلیو ته ولاړل ، په خلکو کې به تیت او ورک شول یا خو به له نورو وسله والو ډلو سره یو ځای شول.

که چیرې به ما دا احساس کړه ، چې له بانډمشر سره کېدای شي ، سرې جوړ راشي ، د کشف کسانو به ځانونه د بانډونو مشرانو ته ورسول ، هغوی ته به یې وویل ، چې جنرال غواړي له تاسو سره وګوري او د داسې پرنسیپونو په اړه جوړ راشي ، چې په اصطلاح په دغه سیمه کې د دوه اړخیزو اړیکو د رژیم په نامه یادېده. د لیدنې کتنې شرایط به مخکې له مخکې له دواړو خواوو چمتو کېدل. داسې ډېر پېښ شوي ، چې زه یوازې له یوه ژباړن سره دوی ته ورغلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ د هرات په سیمه کې موږ د ولس کسه بانډ مشران سره راټول کړل. دوی په جیپونو کې راغلل ، له هر یوه سره یې له پنځوسو تر سلو کسو پورې ساتندویان ملګري ول. زه دغې سیمې ته په چورلکه کې ورغلم ، هلته له مېشتې فرقې څخه یې ګاز موټر راوست ، په همدغه موټر کې دلیدنې کتنې ځای ته ورغلم. زه د جنرالۍ په ډګري دربشۍ کې وم ...ما له جېب څخه قران ، چې په ورېښمن دستمال کې پوښلی وو ، راوایست. دستمال مې هوار کړ ، قران مې پرې کېښود ، پر قران مې د لاس ورغوی کېښود او له دې سره سره ، چې زه پخپله ارتودوکس عیسوي یم ، داسې مې وویل: " الله زموږ له پاسه دی ، هغه هر څهویني او اوري یې. راځئ ، چې رښتوني واوسو او په خپل منځ کې جوړ شو ." زما لپاره څه شی ډېر مهم وو ؟ دا چې دوی وژنې ونه کړي ، زموږ د سرتېرو او افسرانو ژوند وساتل شي. د ساري په توګه ورته وایم " راځئ ، چې دغه ځای تاسو او زموږ پوځونه په ګډه وساتي ، او دغه ځای تاسو پخپله وساتئ. زه دا ژمنه کوم ، چې ستاسو پر ټولو هغو کارونو به سترګې پټې کړم ، چې تاسو یې له ایران سره د سوداګرۍ په برخه کې کوئ. " دوی هغه مهال هلته [ ایران. ژ ] ته نه یوازې ، چې وریجې او پمبه وړله ، بلکې د نښه یې توکیو کاروبار یې هم کاوه. " زه ورته وایم ، خو که چیرې په کوم ځای کې زموږ یا پر حکومتي کاروان ډزونه وشي ، بیا نو زه ستاسو پر ضد ډېر سخت ګامونه پورته کوم. " [...]

یګور پلوګاتارېف

د «نېزاویسیمایا ګازېته» ورځپاڼه، ۲۰۰۲ / ۱۱ / ۱۷ ، (۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# «احمد شاه مسعود ، يو تبعه ، سياستوال او پوځي»

## له کتاب څخه

[...] د ۱۹۹۸ ز کال تر اکتوبر میاشتې پورې په افغانستان کې د طالبانو غورځنګ پرضد یوازې یو ځواک پاتې وو ، چې هغه د احمد شاه مسعود وسله والې ډلې وې ، خو په افغانستان کې د کارنده جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو لپاره د ده د وسله والو ډلو قابلیت په سیده ډول د وسلې او مهماتو د تر لاسه کولو په شونتیاوو پورې تړلی وو . په دې برخه کې لومړی روسیه ډګر ته ور ووته او ورمخکې شوه . احمد شاه له روسي استازیو سره تړاوونه ټینګ کړل . ده د افغانستان د اسلامي جمهوریت د باندنیو چارو وزیر ډاکتر عبدالله عبدالله مسکو ته واستاوه . وزیر په مسکو کې د پوځي - تخنیکي همکارۍ ، او د مسعود له ځواکونو سره د روسیې له خوا د پوځي مرستې په اړه یو لړ لیدنې کتنې وکړې . له احمد شاه سره د روسیې استازیو خبرې اترې پر مخ بوتلې ، چې د هغوی له شمېر څخه یو هم د روسیې د ولسمشر " باریس نیکولایوویچ یلڅین " استازی " ښفګېني سېوا ستیانوف " وو ، چې مسعود ته ورلېږل شوی وو. [...]

طالبانو د طالب ضد ټلوالې پر ځواکونو سخت ګوزارونه وکړل ، چې پکې هوایي ځواکونو او زغره وال تخنیک برخه اخیستې وه ، خو مسعود وکولای شول ، چې مقاومت وکړي او طالبانو ته یې زیان ورواړاوه . اړینه ده وویل شي ، چې د شمالي ټلوالې په وسله والو ډلو کې وسله ، مهمات او نور تجهیزات تل لږ ول . هغه مرسته ، چې د اوزبکستان او تاجکستان له خوا ورسره کېدله ، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه سره د پرتلې وړ نه وه ، چې طالبانو ته د پاکستان ، سعودي عربستان او امریکا متحده ایالاتو له خوا راتلل.

د ۲۰۰۰ زېږدي کال د اکتوبر پر ۲۲ په دوشنبه کې د احمد شاه مسعود او د روسيې د دفاع وزیر مارشال " ي. د . سېرګېيف " ترمنځ لیدنه کتنه وشوه . په دغه لیدنه کتنه کې د افغانستان په شمال کې د وضعې او طالبانو غورځنګ له خوا د ګوابښ پرضد د ګامونو او چتولو په اړه خبرې وشوې. له دې سره سره ، چې دغې لیدنې کتنې نارسمي ځانګړنه درلوده ، خو بیا هم هغې ته لوی ارزښت ورکول کېده . د خبرو اترو په بهیر کې د اسلامي سخت دریځو له خوا ګوابښ پرضد پر نومېرلو ( مشخصو ) لارو چارو باندې بحث وشو . همدا راز د احمد شاه مسعود د وسله والو ډلو د پوځي ملاتړ او له هغوی سره د پوځي مرستې په اړه خبرې وشوې. د خبرو په پایله کې روسيې پرېکړه وکړه ، چې د مسعود وسله والو ډلو ته وسله او مهمات نور هم ورزیات کړي . پر دې بله ورځ د طالبانو غورځنګ مشري د روسيې پر پته له ګوابښونو سره څرګندونې وکړې. د طالبانو د جګپوړي چارواکي عبدالوکیل مطمن [ دا ښايي چې عبدالحی مطمن وي. ژ ] د خبرو له مخې : " د روسيې لپاره اړینه ده ، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې له لاسوهنې لاس واخلي ، کنه نو دا به ورته ګڼ شمېر خطرناکې ستونزې راپیدا کړي ، چې درنې پایلې به ولري. " [...]

الېکساندر لیاخوفسکي او ویاچېسلاف نېکراسوف

مسکو ، ۲۰۰۷ زېږدي کال. ( ۲۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افغانستان کې کورنۍ جګړه

د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر پر ۷ د امریکا متحده ایالاتو او بریتانیا د " نه ماتېدونکې ازادۍ " په نامه عملیات پیل کړل ، هڅه یې وکړه ، یو ځل بیا د افغانستان ټولنیز - سیاسي حالت ته بدلون ورکړي . په رسمي ډول دا کارندتیاوې له نړیوالې ترهګرۍ او طالبانو غورځنګ سره د هاند و هڅې په نامه یادې شوې ، خو له اره دا له افغانستان سره جګړه وه ، ځکه چې د دغو عملیاتو د پیل پر مهال طالبانو د افغانستان په سلو کې ۹۵ سلنه خاوره تر خپلې څارنې لاندې درلوده . د امریکایي او انګرېزي پوځي هوايي ځواکونو د بمبارۍ په مرسته ، د ایټالیا ، جرمني او فرانسې په ملاتړ ، د شمالي ټلوالې ځواکونو وکولای شوای ، چې د افغانستان ټوله خاوره ونیسي . په دې کار کې روسیې هم ټاکلی رول ولوباوه ، ځکه چې د احمد شاه مسعود وسله والې ډلې یې په خوراکتوکیو ، پوځي تخنیک او وسلې باندې سمبالولې . همدا راز روسیې د کشف او بهرنۍ څارګرۍ د لویې ادارې له لارې ده ته پوځي سلاکاران هم ورلېږلي ول . د ځینو مالوماتو له مخې ، دغو روسي سلاکارانو ان د جګړه ییزو عملیاتو مشري کوله .

د ۲۰۰۱ زېږدي کال له پیله نه یوازې روسیې ، بلکې ایران او هند هم له مسعود سره پراخه مرسته کوله . ترانسپورتي الوتکې ، چې وسله ، مهمات او خوراکتوکي به پکې بار ول ، به دوشنبې ته راتلې ، یا به هم د کورګان تیوبې په پوځي هوايي ډګر کې ښکته کېدلې . له دې وروسته به دغه توکي او وسله له پولې ها خواته ورلېږل کېدل . د مسعود د مرستندوی د خبرو او پخلي له مخې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدغې مرستې له برکته ټلوالې وکولای شوای ، چې شل زره کسه نور اضافي جنګیالان خپلو لیکو ته را جلب کړي.

۲۰۰۹ ز کال د فبرورۍ ۹ .

الېکساندر اکوروکوف ، د «چېکیست» اوبپانه. (۳۰)

# له مسعود سره د شوروي پوځونو د وتلو په اړه خبرې څه ډول وې؟

د فبرورۍ پر دولسمه مې په «رېن. ټي. وي» چینل کې له نامتو ډګري بولندوی احمد شاه مسعود سره د هغو خبرو اترو په اړه خپرونه ولیده ، چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د څلوېښتم اردو په ملاتړ ، د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د کشف د لوی ریاست له خوا ترسره شوې وې. هو ، په رښتیا هم همداسې وه. په لومړي پړاو کې یې د کړنیز کار او نوبت چارې د پوځي څارګرۍ د لوی ریاست د ډګرمن " تکاچیوف " له خوا شوې وې. د دغو کارونو د پایلو او بهیر په اړه تل لوړ مشرتابه ته رپوټونه ورکول کېدل.

په خپرونه کې د کشف او پوځي څارګرۍ د لوی ریاست ښودل شوی ډګرمن " دیما وېرېتېنیکوف " له احمد شاه مسعود سره په خبرو اترو کې برخه نه درلوده ، خو په دغه لوري کې یې کار کاوه.

پخپله " دیما وېرېتېنیکوف " یو اتل شخصیت دی. دی له خپلې ډلې سره د " پنجشېر زمري " په سوړه کې ، پخپله د پنجشېر په دره کې ځای پر ځای شوی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. د خپل کار او خدمت په تړاو به تل په خپل " وواز " [جیپ. ژ] موټر کې کابل ته ته . تاسو يې پخپله تصور کړئ ، چې په " وواز " ( جيپ ) موټر کې له نيم افغانستانه تيرېدل څه ډول وي ... " دیما " تل په خپل د سينې جېب کې لاسي بم له ځان سره چمتو ساته ، د دې لپاره چې " دوخي " [دوښمنانو .ژ] ته ژوندی پر لاس ور نه شي.

د ۱۹۸۷ ز کال د نوامبر پر ۱۴ ده مخکې له مخکې خپل " وواز " زموږ په مېشتځای ، چې په ګلبهار کې وو ، پرېښود . د راستنېدو پر مهال له موږ سره يو ځای له کابله پر " بي. تي. ار " زغره وال ګاډي سپور راستون شو . " بي. تي. ار " زغره وال ګاډی د جګړه مارو له خوا پر ماين والوزول شو . " دیما " له چاودنې څو ثانيې مخکې له هغه نه ووت او زيان ورونه وښت ، خو موټروان يې د چاودنې هوايي څپې وواهه او ژوبل هم شو . موټر وان يې له ماسره يو ځای له " بي. تي. ار " زغره وال ګاډي څخه ټوپ واچاوه . موږ له يوې ثانيې نه هم لږ مهال وژغورلو . دا کار به په لوی لاس شوی وي ، يا به نه وي ، خو په خپرونه کې داسې ښودل کيږي ، چې د " دیما وېرېتېنيکوف " او احمد شاه مسعود ترمنځ خبرې اترې د ۱۹۸۸ زېږدي کال له جنوري څخه پای ته رسيږي ، او پر ۱۹۹۲ ز کال دا خبرې اترې بيا د روسيې فدراسيون د چارواکيو له خوا پيليږي.

دا ددې مانا لري ، چې دا کار په لوی لاس شوی ، د دې لپاره چې پر رښتيا ويلو خوله پټه کړي . له هغه شمېر نه شوروي پوځې مشري د يوې لويې بلا په توګه وښيي . وروسته له هغه ، چې ډګرمن " وېرېتېنيکوف " ، د کشف او پوځي څارګرۍ د لوی رياست نور ګڼ شمېر افسران ، له افغانستانه د شوروي پوځونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وتلو مخکې هېواد ته ستانه شول ، ما وکولای شول ، چې په ګلبهار کې د خپل يوه ښه ملګري له لارې ، چې په ښکتني ( کوزني ) ګلبهار کې د جومات امام وو ، په دغه سيمه کې د امنيت له پازوال ذکرالله سره تړاو ټينګ کړم او د هغه له لارې بيا پخپله له احمد شاه مسعود سره تړاو ټينګ کړم. زه وايم ، لکه څنګه چې په ګلبهار کې زموږ په مېشت ځای کې يوازې زه او ژباړونکی پاتې وو ، نو ښکاره خبره ده ، چې د مخکينيو خلکو له خوا ټول تړاوونه ماته راپاتې ول. خو زما نوي ملګري د جومات امام هغه څه وکړل ، چې تر دې مهاله بل هيڅ يو تړاو پرې نه وو توانېدلی. له ډګرمن " تکاچيوف " نه وروسته له احمد شاه مسعود سره اړيکي نږدې پېنځه کاله وروسته زما له خوا بيا ټينګ شول.

دا خبره رښتيا نه ده ، چې ويل کيږي ، خبرې اترې يوازې د کشف د لوی رياست او اردو له خوا ترسره کېدې...د ۱۹۸۸ ز کال د ډيسمبر پر يوه شپه ، د مسعود تر څارنې لاندې ساحه کې ، د ذکرالله په واسطه زموږ له خوا يو پيغام احمد شاه مسعود ته واستول شو او په هغه کې ورته وړانديز وشو ، چې د پوځونو د وتلو پر مهال او له جګړې وروسته پړاو کې هم له موږ سره همکاري وکړي ... دغه پيغام په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفير ( د بهرنيو چارو مرستيال وزير ) ، د اردو د استازيو ، جنرال " وارېنيکوف " ، (کې . جي . بي ) او جنرال " زايخېف " له خوا لاسليک شوی وو . امام د احمد شاه مسعود ځری په ټکسي کې سيده زموږ مېشتځای ته راووست ، چې د مسعود له خوا يې زموږ د وړانديز ځواب له ځان سره درلود . په هغه کې داسې ويل شوي وو : " موږ ګاونډيان يو ، ګاونډيان بايد په سوله او دوستۍ کې ژوند وکړي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وروسته پوه شوم ، چې مسعود ته د " ستېچکین " اتوماتیکې توپانچې د ډالۍ کولو پرېکړه جنرال " وارېنیکوف " پخپله کړې وه او په دې اړه یې د منځۍ ( مرکز ) رضایت نه وو اخیستی . د " پي . پي . اېس " دغه توپانچه د ذکرالله پر لاس احمد شاه ته ورولېږل شوه ، خو په دې اړه زه دې ته اړوتم ، داسې رپوټ ولیکم : لکه څنګه چې له " زرغونې سیمې " څخه د " دوخي " [ یانې دوښمنانو . ژ ] د توپ ګولۍ راغله ، له ګلبهار څخه د تګ په موخه زما په راټولو کړیو ، چمتوکړیو شیانو کې ولګېده نو د " ستېچکین " توپانچه هم ورسره تری تم شوه .

د ۱۹۸۸ ز کال د ډیسمبر په پای کې باید له ګلبهاره د حکومتي پوځونو وتل پیل شوي وای ، خو مجاهدینو نه غوښتل چې هغوي بې جګړې پرېږدي . کله چې موږ هغوی ته دا تشریح کړه ، چې که چیرې دوی پر حکومتي پوځونو برید وکړي ، زموږ پوځونه به د متحدینو په توګه لاسوهنه پکې وکړي ، نو له هغه وروسته مجاهدین بېرته شاته ولاړل او د نجیب الله پوځونه پرته له کومه خنډه ووتل . په هغوی پسې له شاه موږ په خپل " بي . ټي . ار " زغره وال ګاډي کې پسې وخوځېدو . جبل سراج ( جبل السراج ) ته مو پر لاره د " اېپیشېف " مرستیال د سمندري پوځ جنرال ( ادمیرال ) " میخایلوف " ولید . هغه موږ ته وویل ، چې که چیرې موږ د سالنګ له لارې د پوځونو سوله ییزه وتنه په دې ډول سمبال کړو ، نو ما او ژباړونکي ته به د شوروي اتحاد اتلولي راکړل شي . د اتلولۍ درجې خو موږ ته را نه کړل شوې ، خو له احمد شاه مسعود سره خبرو اترو پایینه ( دوام ) وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده له استازي سره يوه بله ليدنه کتنه هم په سالنګ کې وشوه. په هغې کې د شوروي پوځي بولنتون (قوماندانۍ) استازي برید جنرال " کریووشېېف " مسعود ته وړاندیز وکړ، چې د شوروي پوځونو د وتلو پر مهال له حکومتي پوځونو سره په ګډه [د سالنګ. ژ] غاښې تر ساتنې لاندې ونیسي. خو احمد شاه مسعود د راډیوګرام له لارې ماته داسې ځواب راکړ: " مشاور " باریسه "، موږ لس کاله د شوروي پرضد جګړه کړې، څو ورځې به نور هم صبر وکړو، له نجیب الله سره به هیڅ مهال یو موټی نه شم، خو د شوروي پوځونو د وتلو په لاره کې به خنډ وا نه چوو. " له دې سره سره، چې زموږ د پوځونو له وتلو مخکې، د سالنګ غاښې، د پنجشېر دره او شاوخوا څېرمه سیمې د هوایي، توپچي او " بوراتینو " د ځواکونو له خوا بمباري شوې، احمد شاه مسعود پر خپله خبره ودرېد او پر شوروي پوځي کاروانونو یې برید ونه کړ.

ده هممهال د افغانستان د اسلامي ګوند (حزب اسلامي) جنګیالان نه پرېښودل، چې سالنګ ته نږدې شي. [...]

[...] له خپرونې او زما له لیکنې (مقالې) نه ښکاري، چې د کشف په لوی ریاست کې څه ډول خلکو کار کاوه او کوي یې. یوازې یو ډګرمن " تکاچیوف " ۱۴ ځلي د جبهې شاته دوښمنانو ته ورغلی، د دې لپاره چې د احمد شاه مسعود له استازیو او پخپله له ده سره وګوري. [...]

له افغانستانه د شوروي پوځونو د سوله ییزې وتنې او له جګړې وروسته پړاو کې د ۱۹۸۸ – ۱۹۸۹ ز کال د فبرورۍ تر پایه د همکارۍ په اړه له احمد شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود سره د خبرو اترو ترسره کوونکی ، د سمندري پوځ ډگروال " ب . ف . برېمېنکو ".

۱۵ / ۲ / ۲۰۰۹

د «اتکریتایا اېلېکترونایا گازېته» ورځپاڼه، (۳۱)

# افغاني جگړه پرون او نن

[...] پرېږدئ افغانان هغسې ژوند وکړي ، لکه څنگه چې يې دوی غواړي . زموږ لپاره مهمه داده ، چې دغه رژيم به د روسيې په تړاو څه ډول چلند کوي . کله کله خلک وايي : زموږ څومره پوځيان د طالبانو له لاسه ووژل شول ! له افغانستانه د شوروي پوځونو له وتلو وروسته زموږ څومره پوځيان ووژل شول ؟ دولسمه تاڼه ( پوسته ) په ياد راولئ ، پرې شوي سرونه . په دې کار کې د احمد شاه مسعود خلکو برخه درلوده ، مسعود چې وروسته بيا زموږ متحد شو او موږ وسله ورکوله. [...]

د «راسيېه-۳» اوبپاڼه، (۳۲)

# هغوی موږ ته منتظر دي

د " ايشيمباى " په انځورگرۍ موزيم کې د " افغانستان ، د باشکرتوستان ( باشقرتستان ) د ځارگرو په برخليکونو کې " په نامه د عکسونو د نندارتون پرانيستلو ته د ورتگ پر مهال ما دا اټکل هم نه کاوه ، چې دا پېښه به ناڅاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مخې ته داسې څه رامخته کوي ، چې له هغه نه دې ان په سېنما کې هم کار واخیستل شي. [...] خبره دا ده ، چې دغه ننداړتون د دوو پوځي ملګریو ، چې په یوه غونډ کې یې خدمت کاوه ، له ۲۲ کلن بېلتونه وروسته د لېدنې کتنې لپاره یوه پلمه شوه . له هغوی څخه یو د روسیې فدراسیون د امنیت د فدرالي ادارې ډګروال " رینات امینوف " ، چې د اوفا له ښاره څخه دی ، او د فدرالي ادارې جګړن " ویکتور مارفین " دی ، چې اوس رسمي دنده نه لري. د ۱۹۸۰ یمو کلونو په سر کې ، لومړی کس د پوځي کشف او څارګرۍ سلاکار وو ، خو دویم کس د باګرام په هوایي پوځي ډګر کې د ځانګړې څانګې کارمند وو . [...] په رسمي مراسمو کې د ډګروال " امینوف " له وینا څخه : " زموږ له پښت څخه هر انسان خپل برخلیک درلود او په افغاني جګړه کې یې خپله برخه درلوده. ځوک سلاکار وو ، او ځوک وسله په لاس مخامخ له وسله وال اپوزیسیون سره جنګېده. [...]

زه د خپل کار له مخې له خپلو ملګریو سره په اړېکو کې وم ، د پوځي څارګرۍ له ملګریو سره مې مالګه او ډوډۍ شریکوله. زه د باګرام په هوایي ډګرکې د پوځي کشف او څارګرۍ په برخه کې سلاکار وم ، بیا په اتمه پلې لوا کې وم ، وروسته مې په اووه د برشمه کوماندویي لوا کې دنده درلوده. زما دوه ژبې پښتو او درې دواړه زده وې ، ځکه خو ماته د ځایي وګړیو د هڅوب ( کولتور ) اروا پوهنه او ځانګړنې د پوهېدو وړ او نږدې وې.

[...] زما برخلیک داسې وو ، چې ما درې ځلې له احمد شاه مسعود سره لیدنې کتنې کړې دي. موږ له هغه سره په ګډه په افغانستان کې د تری تم شوېو شوروي پوځیانو د لټون په اړه خبرې اترې وکړې . دا دنده ماته د همګټو هېوادو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتونو په شورا کې د انترناسیونالیستي پوځیانو د کومېټې مشر جنرال " روسلان اوشېف " له خوا سپارل شوې او په افغانستان کې پر همدې دنده بوخت شوی وم. زما په یاد دي ، دی په دې اړه ډېر خواشيني وو ، چې زموږ د پوځونو د وتلو د وروستي پړاو پر مهال ، د نجیب الله تر فشار لاندې ، زموږ پوځونو د مسعود پر مورچلو پیاوړی گوزار وکړ. خو له دې سره سره احمد شاه مسعود په خپل زړه کې زموږ د هېواد په وړاندې دوښمني نه وه ساتلې. دی د هغې مرستې لامله ډېر مننددوی وو ، چې موږ د طالبانو غورځنگ پرضد وسله واله مبارزه کې له ده سره کړې وه...

راميل کاگیروف، د «پودمېتکي» خپرونه، ۳۸ گڼه، ۲۰۰۹ / ۹ / ۱۲ ، (۳۳)

# د افغاني پټو د گډولو ډول

[...] لکه څنگه چې د پخواني شوروي اتحاد د دفاع وزارت مرستیال وزیر جنرال «وارېنیکوف» د «یتوگي» مجلې خبریال ته په مرکه کې وویل ، هغه مهال مهمه خبره دا وه ، چې د نجیب الله او احمد شاه مسعود تر منځ د دوښمنانه اړیکو غوټه پرې شي. جنرال " وارېنیکوف " په افغانستان کې د هغه مهال شوروي سفیر " یولي ورونڅوف " سره په گډه زموږ د څارگرو له لارې د تاجکو له مشر مسعود سره اړیکي ټینگ کړل. " وارېنیکوف " کیسه کوي چې : " موږ له " یولي میخایلوویچ " سره په گډه ان یو لیک ، چې د سفارت له خوا ټاپه شوی او زموږ دواړو له خوا پرې لاسلیک هم شوی وو ، ورولېږه. دا مو ورته وړاندیز کړه ، چې پر هغو مسلو په گډه خبرې وکړو ، چې [د افغانستان. ژ] د شمال او شمال ختیځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجک مېشتي وګړي ورسره لېوالتیا لري. نجیب الله د دې مسلې په بهیر کې وو ، موږ هغه ته په دې اړه خبر ورکړی وو . دی په خبرو کې له موږ سره راضي شو او د دغې لیدنې کتنې د ایډیې ملاتړ یې وکړ. خو زه په دې اند یم ، چې ده سملاسي په پټه خپلو لاس لاندیو ته بولۍ ( قومانده ) ورکوله چې د دغې لیدنې کتنې مخنیوی وکړي. موږ درې ځلي دا لیدنه کتنه وټاکله ، خو همدا درې ځلي د هغې مخنیوی وشو . نجیب الله ځان داسې ښوده ، چې دی د مخنیوي لامله ډېر خواشیني دی. زه فکر کوم ، چې ده پخپله د خبرواترو شونتیاوې له منځه وړلې ، ځکه چې احمد شاه پر ده باندې ښه نه لګېد . " [...]

والېرییا سیچووا ، ایرینه مېلنیکووا ، د «یتوګي» مجله، ۲۰۰۱ / ۱۲ / ۴، ۲۸۲ (۴۸ ) ګڼه. (۳۴ )

# د پنجشېر عملیات

دا یو شمېر هغه عملیات ول ، چې په افغانستان کې د شوروي پوځونو د شتون د ۱۹۷۹ – ۱۹۸۹ ز کلونو پر مهال په پنجشېر دره کې د شوروي اردو له خوا د احمد شاه مسعود د ډلې پرضد ترسره شوي ول.

۱۹۸۰ ز کال د اپرېل ۹ ، د پنجشېر لومړي عملیات . مجاهدینو له مخامخ مقاومت څخه ډډه کوله ، په وړو ډلو وېشل کېدل ، تیتېدل او له ځایي وګړیو سره ګډېدل.

۱۹۸۱ ز کال ، مارچ ، د پنجشېر ۳ عملیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۸۱ ز کال د سیپتمبر ۲ ، د پنجشیر ۴ عملیات.

۱۹۸۲ ز کال د می ۱۲ ، د پنجشیر ۵ عملیات. دا عملیات د جنرال " ن. گ. تیرگریگوریانیځ " تر بولندویي لاندې ترسره شول. په دغو عملیاتو کې ۱۲ زره پوځیانو ، ۱۰۴ چورلکو او ۱۲ نورو الوتکو گډون درلود. تر ټولو لویې پېښې د می د ۱۲ نېټې پر شپه پیل شوې ، کله چې د کشف ټولگیو ( د کشف ۱۱ ټولیو ) د پنجشیر درې په خوله کې پرته له جگړې ټولې واکمنې لوړې ( غونډۍ ) ونیولې. پر راتلونکې شپه د ۱۷۷ موتوریزه غونډ یو کنډک ، د کشف ټولگیو په ملاتړ ، په دره کې لس کیلومتره وړاندې نورې لوړې واکمنې څوکې ونیولې. د مې پر ۱۷ ، پر دره باندې د هوایي پوځي او توپچي له پیاوړیو گوزارونو وروسته ، درې شوروي کنډکونه درې ته ورننوتل. له هغوی څخه یې دوو پلیو کنډکونو د درې پر لوړو غرنیو لړیو ، د درې ښي او کیڼ لور ته وړاندې تگ او تعرض کاوه. دریم کنډک د درې په منځ کې په گړندي تگ سره د رخې او بازارک په لور مخ پر وړاندې روان وو. د وړاندې تگ گړندیتوب په ۲۴ ساعتو کې له ۷ څخه تر ۱۰ کیلومترو پورې وو.

۱۹۸۲ ز کال اگست - سیپتمبر ، د پنجشیر ۲ عملیات. د مجاهدینو له مشر سره د لومړي ځل لپاره پوخلاینه وشوه ، چې دوه کاله مراعت شوه. شوروي پوځونو ان دا ژمنه هم کړې وه ، چې " له نورو سیالو ډلو سره د وسله والو ټکرونو پر مهال به له احمد شاه مسعود سره پوځي هوایي او توپچي مرسته هم کوي. " تر ټولو دا سکالو ډېره په پام کې نیول شوې او منل شوې وه ، چې " پرپنجشیر باندې دې هوایي گوازرونه نه کیږي. " له احمد شاه مسعود سره ځانگړی کار د [ شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد د دفاع وزارت. ژ ] د کشف د لوی ریاست ډگرمن کاوه ، چې ده ته ورلېږل شوی وو. دې ډگرمن " مسعود د شوروي اتحاد د ژوند له طرز او د مارکسېزم - لېنینېزم له اثارو سره بلداوه او ورپېژندل یې. "

۱۹۸۴ ز کال د اپرېل ۱۹ - د می ۵ ، د پنجشېر ۷ عملیات. ( مارشال س. ل. سوکولوف ) په دغو عملیاتو کې ۱۱ زره شوروي ، ۲۶۰۰ دوه زره شپږ سوه افغان پوځیانو ، ۲۰۰ الوتکو ، ۱۹۰ چورلکو برخه اخیستې وه. د اپرېل پر ۲۲ ، وروسته له هغه ، چې سیمه د درنو بم غورځوونکو الوتکو له خوا بمباري شوه ، متحدو پوځونو پر پنجشېر تعرض وکړ. دغه عملیات تر یو بریده بریالي ول. هغه لارې او نور سمبالوونکي ځایونه ، چې مجاهدینو پر ۱۹۸۲ – ۱۹۸۳ ز کلونو د پوځي یرغلونو په مهال جوړ کړي ول ، ټول له منځه ولاړل او ویجاړ کړای شول. د مسعود یو پلوی او ملگری عبدالواحد یرغمل شو. ببرک کارمل سوبه شوي پنجشېر ته یو پروپاگنډي او تبلیغي سفر وکړ. پنجشېر د یو څه مودې لپاره په بې خطره سیمه بدل شو. له پټې لارې د مالوماتو د ترلاسه کولو له برکته مسعود وکولای شول ، چې له خپلو لویو ځواکونو سره مخکې له پنجشېره ووزي او له گوزار څخه ځان وژغوري. دا مالومه شوه ، وروسته له هغه چې شوروي پوځونه بېرته خپل دایمي مېشتځای ته ولاړ شي ، مجاهدین به په پاکستان کې خپلې لیکې بیا ډکې کړي او بېرته به هر څه له سره پیل شي. د اپرېل پر ۳۰ په هزاره دره کې د ۶۸۲ موټوریزه غونډ لومړی کنډک له منځه ولاړ: شوروي پوځ ته ۶۰ کسه د سر زیان واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۹۸۵** ز کال ، د پنجشېر ۸ او ۹ عملیات. د نهمو عملیاتو په بهیر کې پوځونو وکولای شول ، چې د مسعود ډلې د درې له مرکزي برخې نه پر شاه وتمبوي.

د ۱۹۸۲ زېږدي کال له پیله راهیسې د احمد شاه د وسله والو ډلو پرضد کوم عملیات نه ترسره کېدل.

## د ۱۹۸۲ ز کال پوخلاینه:

د پنجشېر د عملیاتو یو له ډېرو مرموزو پېښو څخه د احمد شاه مسعود ژوندي وتل ، د چا پر لاس نه ورتګ وو او د ۱۹۸۲ ز کال پوخلاینې حالات او لاملونه ول . داسې مالومات شته ، چې د شوروي څارګرۍ مشري له مسعود سره جوړه راغلې وه. د عملیاتو له پیل نه ، د ده د ترورولو له پېښېدو نه مخکې به یې پر خپل مهال ده ته خبر ورکاوه. شوروي څارګرۍ په افغانستان کې د شوروي او افغان پوځونو او افغان ځانګړیو خدماتو د هغو عملیاتو ، چې د مسعود تر لاس لاندې سیمه کې به ترسره کېدل ، په اړه ده ته مخکې له مخکې خبر ورکاوه او د دغو عملیاتو په مخ کې به یې خنډونه اچول. د دې یو لامل هم زمرد ګڼل کیږي. د شوروي اتحاد د کشف د لوی ریاست ډګروال " اناتولي تکاچیوف " باندې دا شک شوی وو ، چې دی د مسعود لور ته وراوښتی ، ځکه خو دی په تسلیمۍ تورن شو . " اناتولي تکاچیوف " د شوروی اتحاد د دفاع وزارت د کشف او پوځي څارګرۍ د لوی ریس سترجنرال " پ. اي. ایواشوتین " له خوا دې کار ته ګومارل شوی وو ، چې له مسعود سره اړیکي ټینګ کړي.

۲۰۱۰ ز کال د جنوري ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسی برېښنايي پوهنغونډ (ويکيپېډيا ) (۳۵)

# د افغانستان په اړه : ځمکه ، خلک ، تاريخ

[...] د افغانستان په شمال ختيځ کې د مسعود د اوځارتيا په پام کې نيولو سره ، د ده د ډلو بشپړه ماتې به د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد له پولې سره په همپوله افغاني ولايتونو کې کړکېچ سخت ژور کړی وای.

په دې اړه په افغانستان کې د شوروي ځلوښتمې شمېرې اردو لوی بولندوی " باريس فسېولودوويچ گروموف " داسې ليکي:

" دا به د ډېر ساده سړي خبره وي ، اټکل وشي ، چې پياوړي ځلوښتم اردو ونه شو کړای ، د احمد شاه مسعود وسله واله ډله په بشپړه توگه له منځه يوسي. په افغانستان کې شوروي پوځي بولنتون د دې لپاره ټولې شونتياوې درلودې ، چې ان د ۱۹۸۵ زېږدي کال له دوبني کمپاينه مخکې ده ته په پنجشېر او دغې درې ته څېرمه سيمو کې بشپړه پوځي ماته ورکړي. که چيرې دې ته اړيزه پيدا شوې وای ، موږ به مسعود له منځه وړی وای. له ما سره په دې برخه کې هيڅ مهال کوم شکونه نه راپيدا کېدل ، او اوس هم راسره نشته. پخپله احمد شاه هم پر خپل حالت ډېر ښه پوهېده ، چې ښکاره خبره ده ، له شوروي پوځيانو سره يې د ده پر سياست اغېز کاوه: دی تل په دې پوهېده ، چې د کوم کار کولو اجازه ده ته ورکړل شوې او د څه شي په خاطر به ده ته سخته سزا ورکړل شي. "

ب. و. گروموف، «محدود پوځي ټولگي». ۲۰۰۸ / ۱۰ / ۱۱ ، (۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوونۍ سیاسي پایلنیوی

د ۲۰۰۱ ز کال د سیپټمبر ۷ - ۱۴

د پنجشنبې پر ورځ ماښام ، د سیپټمبر پر ۹ ، په افغانستان کې د شمالي ټلوالې د ځواکونو پر مشر احمد شاه مسعود باندې ځانمرگی برید وشو . [...] اوس د ده مرستیال ، د امنیتي خدماتو پازوال محمد فهیم د ده پر ځای د شمالي ټلوالي د مشر په توگه ټاکل شوی دی . شمالي ټلواله د پخواني شوروي اتحاد د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو او طالبانو ترمنځ وروستی خنډ وو . د منځنۍ اسیا جمهوریتونو هڅه کوله ، چې د شمالي ټلوالې ملاتړ وکړي . دغو جمهوریتونو او روسیې تر هر چا ډېر د شمالي ټلوالې او احمدشاه مسعود ملاتړ کاوه ؛ وسله ، دارودرمل او خوراکتوکي یې ورکول . ایران او هند هم له مسعود سره ډېره لېوالیتا درلوده ، او مرسته یې ورسره کوله .

[...] دا تصادفي خبره نه ده ، چې د مسعود له مړینې وروسته سملاسي د " ولادیمیر پوتین " او تاجکستان ولسمشر امام علي رحمانوف تر منځ بېړنۍ ټیلیفوني خبرې وشوې . پر راتلونکي لنډ مهال باید په دوشنبه کې د روسیې ، ایران ، تاجکستان ، هند او اوزبکستان د بهرنیو چارو وزارتونو او ځانگړیو خدماتو د استازیو تر منځ لیدنه کتنه وشي . [...]

د «نیکولو . ایم» د سیاسي سلا مشورو مرکز اوبپانه . (۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# «د کارفاګېن دولت باید رنګ شي» دویمه برخه

[...] په پنجشېر کې د طالبانو له خوا د تاجکانو ماتو شویو ځواکونو له شاتګه وروسته سملاسي ، رباني چې د پیاوړتیا له پلوه یوازې له حکمتیار سره پرتله کېدای شو ، بیا هم په هرډول چې وو د اوړو د پوزې په څېر د افغنستان قانوني هېوادمشر [ ؟. ژ] په توګه په بشپړه توګه ځان سیوري ته کړ او پټ شو. د شمالي ټلوالې مشري مسعود پر خپله غاړه واخیسته.

[...] د پنجشېر د زمردو کانونو ده ته په کال کې تر ۳۰۰ میلیونه ډالرو پورې عاید ورکاوه. د ده د تره [ او یا ښایي چې تروزرزی وي. ژ ] پر ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ یمو کلونو کې په اروپا کې د قیمتي ډبرو د سوادګر په توګه نامتو وو او هر مهال کېدای شو ، چې رانیونکی ترې په لویه اندازه قیمتي ډبرې رانیسي. [...]

دا خبره له هیچا پټه پاتې نه ده ، چې شمالي ټلواله پر خپل تاکتیکي مهارت لرونکي مشر او ستونزمن لاري غرونو سربېره ، د بهرنیو مرستو له برکته پر پښو ولاړه وه. پر پورته یادو شویو کورنیو عایداتي سرچینو سربېره ، هند ، چې په افغان ډګر کې یې د پاکستان پرضد کوټلی رول لوباوه ، له شمالي ټلوالې سره سترې مالي مرستې کولې. د " واجپای " داو ډېر ستر وو : د برې په صورت کې له هند سره په لانجه کې د پاکستان ستراتېجیکي حالت ، چې بې له دې هم ښه نه وو ، له لا لوی کړکېچ سره مخامخېده. وسله ورته د ایران او روسیې له خوا پرېمانه ورکول کېده ، په تېره بیا روسیې خو خپل دا کار دومره نه پټاوه. د ۲۰۰۰ ز کال په مني کې د روسیې د امنیت شورا ریس " س. یوانوف " په ډانګ پېیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل ، چې " په سیمه کې د خپل ستراتېجیکي ملګري [ مسعود . ژ ] ملاتړ کوي " . مسعود هم روسیې ته په هماغه ډول ځواب ورکاوه : هغه څوک ، چې د ۱۹۸۰ یمو کلونو په نیمایي کې یې د سر په خاطر ، په افغانستان کې شوروي محدودو ټولګیو یو نیم میلیون افغانی انعام ټاکلی وو ، هغه اعلان وکړ ، چې روسیه د افغانستان تر ټولو مهم ملګری دی.

له طالبانو وروسته د افغانستان د راتلونکې انځور په ټوله کې څرګند وو . له مسعود سره برابر بل داسې کوم ډګري بولندوی نه لیدل کېده . بل تر ټولو پیاوړی بنسټپال حکمتیار ، چې ایران ته تښتېدلی وو ، خپل خلک له لاسه ورکړل او له طالبانو سره یو ځای شول . ده خپله اتوریته له لاسه ورکړه . د نورو افغان سیاستوالو قطر ډېر کوشنی وو . د نورو ټولو افغاني ، ملي لړه کیو ، دیني ځانګړنو تر څنګ ، د هند ، ایران او روسیې لپاره ګټوره وه ، چې مسعود د افغانستان مشر شي . په منځنۍ اسیا کې د روسیې د ملګرو هېوادو سویلي پوله د امو سیند پر غاړه تېره شوې . دې ډول بدلون خپل منفي اړخونه درلودل ، چې هغه پاکستان او امریکا متحده ایالات وو ، چې یوې خواته پاتې کېدل . متحده ایالاتو د افغانستان د خاورې له لارې د غاز نللیکې د تېرولو له پلان څخه لا لاس نه وو اخیستی. [...]

۲۰۰۲ ، ک. بوګدانوف ، م . برماکوف ، س . ستارکوف. د «ابمپېرسکي ګېنېرالني شتاب» اوبپانه. (۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان: د رغاونې کارونه

د فبرورۍ پر ۱۵ ، له افغانستانه د شوروي پوځونو د وتلو شلمه کاليزه پوره شوه . زما په ياد نه دي ، چې پر ۱۹۹۹ زېږدي کال دې په روسيه کې د دغې پېښې لسمه کاليزه څا شانداره لمانځلې وي. د " بلخين " د واکمنۍ پر مهال خلک پر دغه جګړه باندې شرمېدل ، خو اوس خبره بل ډول ده. پخپله قضاوت وکړئ. [...]

احمد شاه مسعود پر ۱۹۹۲ – ۱۹۹۸ زېږدي کلونو د خپلواک افغانستان د دفاع وزير وو . د طالبانو واک وځواک ته له رسېدو وروسته د شمالي ټلوالې مشر شو او د طالبانو پرضد يې هاند و هڅه پيل کړه. دی هغه مهال د روسيې متحد وو . [...]

اي. داويدوف، د «روبېژ» اوبپانه (۳۹)

# له سي . ای . اې تر تهرانه

[...] روسيه د افغانستان د نږدې ګاونډيانو له شمېر څخه نه ده او له افغانستان سره د مرسته کوونکيو هېوادو ، چې د دغه هېواد د وټې ( اقتصاد ) د بيا رغاونې لپاره په ميليونونو ډالر بېلوي ، په شمېر کې نه راځي . خو روسيه د منځنۍ اسيا پر هېوادو باندې د خپل اغېز او په افغانستان کې له شمالي ټلوالې سره د خپلې ډېر کليزې همکارۍ په پام کې نيولو سره ځانګړی ځای لري. داسې ښکاري ، چې د همدغو لاملونو او حالت په پام کې نيولو سره ، په روسيه کې د افغانستان نوی سفير ګومارل کيږي. په روسيه کې د افغانستان نوی سفير

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد شاه مسعود کشر ورور احمد ضیا مسعود شو . له احمد شاه مسعود سره د روسي پوځیانو نږدې او ټینګ اړیکي د هیڅ لپاره کومه پټه خبره نه وه : د ده الوتکې د تاجکستان د کولاب په پوځي هوايي ډګر کې ځای پر ځای شوې وې . دا فاکټ ، چې د مسعود د میراث خوړونکي ټاکنې په دوشنبه کې ترسره شوې او په هغو کې جګپوړو روسي پوځي چارواکیو برخه درلوده ، پخپله په دې اړه د ډېرو خبرو او مسلو څرګندویي کوي . اوس نو په مسکو کې د افغانستان نوی سفیر د روسیې د متحدو ځواکونو یانې شمالي ټلوالې استازی شو . [...]

۲۰۰۲ / ۳ / ۱۳

د «نیوز ایران. رو » خبري اژانس اوبپانه. (۴۰ )

# د مسعود یاد

## له الېکساندر کنیازېف سره د مرکې یوه برخه

پوره لس کاله پخوا د ۲۰۰۱ زېږدي کال د سیپټمبر پر ۱۰ افغان مجاهد احمد شاه مسعود د یو ځانمرګي برید پر مهال له سخت ټپي کېدو وروسته مړ شو . نن په دې اړه د روسیې د پوهنو اکاډېمۍ د ختیځ پېژندنې انستیتیوت له پوهنیز کارکوونکي «الېکساندر کنیازېف» سره مرکه شوې ده. کنیازېف له مسعود سره ښه پېژنګلوي درلوده، پر ۱۹۹۰ یمو ز کلونو یې په افغانستان کې ډېر ځله ورسره لېدنې کتنې کړې، په بېلابېلو سفرونو او جبهه کې ورسره ملګری وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: په افغانستان کې د شوروي کمپاین پر مهال مسعود زموږ پرضد جنګېده. دی کله او پر کومه شېبه زموږ ملګری شو؟

ځواب: د ۱۹۸۰ مو ز کلونو تاریخ تر اوسه لا نه دی لیکل شوی. ډېر لږ خلک پوهیږي او خبر دي چې د هغې جګړې پر مهال احمد شاه مسعود یو له هغو ډګري بولندویانو څخه وو چې د شوروي اتحاد له لوري ورسره پرله پسې خبرې اترې کېدې او هڅه کېده چې د همکارۍ اړیکي ورسره ټینګ شي. له هغه سره په پرله پسې ډول دوه اړخیز ګډ کارونه ترسره کېدل او ډېر ځله ورسره د ځایي پوخلاینې په اړه هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي. د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د دفاع وزارت د کشف د لوی ریاست ډګرمن، چې نوم یې نه شم کولای یاد کړم، اوږده موده له احمد شاه سره یو ځای وو او هڅې یې کولې چې د شوروي پلوه ځواکونو پر لور یې رامات کړي. ده مسعود د شوروي ژوندانه له بریاوو (لاسته راوړنو) او مارکسېزم-لېنینېزم له اثارو سره پېژانده. ...[...]

۸/۹/۲۰۱۱

د «فرغانه نیوز» نړیوال خبري اژانس. (۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب دویمه برخه

## مسعود ، نېشه يي توکي او قيمتي ډبرې

## د روسيې فدراسيون د گمرک دولتي کومېټه

د ۲۵/۹/۱۹۹۷ نېټې ۴۴۷۵ / ۰۷ - ۰۷ شمېره رسمي ليک (مکتوب)

له افغانستانه د نېشه يي توکيو د قاچاق په اړه

په اداره کې د شتو مالوماتو له مخې ، په افغانستان کې د پوځي - سياسي لانجې د ټولو په خپل منځ کې مخامخ شويو مخالفو لوريو يو له تر ټولو لويه مالي سرچينه د نېشه يي توکيو توليد او سوداگري ده. د نېشه يي اومو توکيو د پخولو کار او سمهال له پاکستان سره څېرمه قبايلي سيمې ته لېږدول شوی دی. له دې لامله ، چې د افغانستان د وگړيو ډېری برخه د کار او عايد نورې سرچينې نه لري ، د طالبانو مشري د نېشه يي توکيو د توليد د بندولو په برخه کې کوم گامونه نه اوچتوي.

د روسيې خاورې او وړاندې لوېديځې اروپا ته نېشه توکي د منځنۍ اسيا د دولتونو د خاورو له لارې په ترانزيټي ډول لېږدول کيږي . د نېشه يي توکيو د لېږدولو تر ټولو لويې لارې دادي : اشکاشم - خروگ - اوش - مسکو - لوېديځه اروپا او عشق اباد - باکو - مسکو . د اومو نېشه يي توکيو ، نيم چمتو شويو

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکیو او چمتو شویو هیروییینو د پېرودلو کار په هېلمند ، کندهار ، غزني ، ننگرهار ، لوگر ، کندوز او کونړ کې ترسره کیږي.

داسې مالومات شتون لري ، چې جنرال مسعود [ احمد شاه مسعود . ژ ] د نېشه يي توکیو په سوداگرۍ کې لاس لري ، او دې لور ته د نېشه يي توکیو د رالېږدولو لپاره له تخاره د تاجکستان کولاب ته دهلیز نه کار اخلي . دغه توکي له تاجکستانه بیا روسیې او د همگنو ټولنې نورو هېوادو ته لېږدول کیږي . همدا راز له دوشنبې څخه اروپا ته د نېشه يي توکیو د لېږدولو کار د دوبی له لارې د "Tanzanian Airlines", هوایي چلند د دوو "ان-۱۲" ډوله الوتکو پر مټ تر سره کیږي . دا الوتکې د قیمتي ډبرو د صادراتو تر نامه لاندې په پټه د نېشه يي توکیو د لېږدولو کار کوي.

دا لیک په کار کې د کارولو لپاره د ادارې د سرپرست له خوا ولېږل شو .

ا . و . کلېپوف

د «یورا سېروېس» اوبپانه . (۴۲ )

# د قرغزستان د هېوادمشرۍ څوکۍ ته د نوماند «کوبانیچبېک توگوچبای اولو اپاس» له وینا څخه

د منځنۍ اسیا په سیمه کې ډېره اندېښمنه وضعه رامنځته شوې . د منځنۍ اسیا دولتونو کورنی او بهرنی سیاست د ښکاره سیاسي او هغو ټولنیزو پروسو د ټولو څیزونو غبرگون نه کوي ، چې په دغو جمهوریتونو او هغوی ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکو کې پېښېږي. د منځنۍ اسیا د ډېرى دولتونو د مشرانو له لوري بې غورۍ داسې حالت رامنځته کړی، چې کېدای شي ډېر کړکېچن وبلل شي. د ۲۰۰۱ زېږدي کال تر پسرلي پورې د دغې وضعې وده کېدای شي چې په کارنده جګړه ییز پېر باندې بدل شي.

د دې دلیل په پام کې نیولو سره، زه غواړم په منځنۍ اسیا کې د اوسنۍ سیاسي وضعې په اړه ښکاره سیاسي څرګندونه وکړم او هغه دا چې:

لومړی: د اوزبکستان، قزاقستان او قرغزستان د حکومتي پوځونو تر منځ، د بېلابېلو وسله والو افراطي ډلو، چې له تاجکستان سره سیاسي تړاو لري (د اپوزیسیون د چینل له لارې) د وروستیو دریو - پېنځو کلونو په بهیر کې پرله پسې کارنده جګړه ییزه مخامختیا روانه ده.

دویم: د هغو اورپکو ډلو، چې د تاجکستان پر پلوۍ جنګیږي، شمېر نن ورځ تر ۱۳۰ یو سلو دېرش زره کسانو پورې رسیږي، چې لاندینۍ ډلې پکې شاملې دي:

- هغه افغاني جګړه ماره ډلې چې د احمد شاه مسعود تر لاس لاندې، د افغانستان د خاورې په نږدې سیمو کې ځای پر ځای دي او د پلان له مخې په پرله پسې ډول د تاجکستان خاورې ته ننوزي، چې شمېر یې نږدې ۸۰ زرو کسانو ته رسیږي؛
- د تاجکستان په خاوره کې، د تاجکستان د متحد اپوزیسیون وسله والې ډلې، چې شمېر یې نږدې دېرشو زرو ته رسیږي؛
- د اوزبکستان اسلامي غورځنګ، چې شمېر یې نږدې پېنځو زرو ته رسیږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د تاجکستان پوځي وسله والې ډلې ، چې شمېر يې نږدې ۱۵ زرو ته رسيږي ؛

دريم : پوځي عمليات له ۴ تر ۷ زرو کسانو په شمېر سره ، د موسم د دوراني غونډال په پام کې نيولو سره ترسره کيږي . وسله والې ډلې له سنجول شوي تاکتيک څخه کار اخلي او په داسې اوپراتيفي ډلو وېشل شوې ، چې شمېر يې له ۱۵ تر ۱۰۰ کسانو پورې رسيږي. دوی د جيرگتال ، غرني بدخشان ولايت او قره تېگين درې په غرنيو سيمو کې ځای پر ځای دي.

د اوش ولايت ، د قرغزستان سويلي سيمې ، د اوزبکستان د خاورې يوه برخه ، او نږدې ټول تاجکستان د تاجکستان د متحد اپوزيسيون د جوړښتونو تر څارنې لاندې دي.

څلرم: په اوسني وخت کې د تاجکستان ، اوزبکستان او قرغزستان غرنيو سيمو ته په نږدې سيمو کې پوځي ډلې ، د وسلو او تخنيک زېرمتونونه چمتو شوي ؛ د قزاقستان خاورې ته د وسله والو پوځي ډلو د ننوتو اډه جوړه شوې ، چې پر راتلونکي مهال بيا له هغه ځايه د روسيې فدراسيون د تاتارستان او باشقورتستان جمهوريتونو ته ننوزي.

پېنځم : د دغو جگړه مارو ډلو سياسي او مالي ملاتړ ، د هغوی د کار او کارندتيا د سمبالولو چارې د ايران ، پاکستان او سعودي عربستان د ځانگړيو خدماتو له خوا ترسره کيږي. ( دوی په کارنده توگه د دې چارو نوبت له تورکيې څخه په خپلو لاسو کې اخيستی دی ) . د دې لپاره له داسې چينلونو څخه کار اخيستل کيږي ، چې د نېشه يي توکيو په نړيواله سوداگرۍ کې لاس لري ، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه مسعود ، د تاجکستان متحد اپوزیسیون ، د اوزبکستان اسلامي غورځنګ ، او د تاجکستان هغه پوځي ډلې ، چې له آره د اسلامي افراط غوښتونکیو جوړښتونو تر څارنې لاندې دي .

منځنۍ اسیا د نېشه يي توکیو د سوداګرۍ پر یوه ترانزیټي ، د نړیوالې ترېنګلتیا او ترهګرۍ د سرچینې په سیمه بدلیږي.

شپږم : په دې شرایطو کې رسمي تاجکستان او د هغه ولسمشر رحمانوف په ښکاره دا وس نه لري ، چې د تاجکستان د اپوزیسیوني مشر سید عبدالله نوري او د تاجکستان د متحد اپوزیسیون په وړاندې مقاومت وکړي ، ځکه دوی ته دا شونتیا ورکړ شوې ، چې د دغه هېواد د واکمنۍ په جوړښتونو کې ځای ونیسي.

د تاجکستان پر پوله د روسیې ۲۰۱ دوه سوه یو شمېره فرقه د څه شي لپاره جنګیږي ، په داسې حال کې چې ټول تاجکستان د اسلامي افراط غوښتونکیو ځواکونو ته بې جګړې تسلیم شوی ؟

اووم : په اوسني وخت کې وضعه موسمي فاکټور تم کړې ، ځکه چې د ژمي پر موسم ، د منځنۍ اسیا په غرنیو سیمو کې غاښي یا کوتلونه ، او نرۍ لارې واورو بندې کړې دي . په پسرلي کې به کارنده پوځي ننوتنې او وسله واله مخامختیا پیل شي.

اتم : وضعه تر یو بریده تر مثبت او سموني اغېز لاندې راغلې. سربېره پر دې ، سوله ییزه دموکراتیکه لاره غوره شوې. د دې لپاره اړینه ده ، چې د قرغزستان مشر یو کارنده او پرېکنده سیاستوال شي. دا به وضعه په بنسټیز ډول بدله کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

، اسلامي افراط غوښتونکي به له ډاډمنې شاتنۍ جبهې او په ډېرو ستراتېجيکي لوريو کې به يې د جګړه ييزو کارندتياوو له شونتيا بې برخې کړي [...] .

بيشکېک ، ۲۳ / ۹ / ۲۰۰۰

د «سلاويانسکي مير» خبري اژانس اوبپانه. (۴۳)

## د نښه يي توکيو بهرنۍ پيسې

له تاجکستان څخه تر روسيې پورې دا بيه سل ګرايه لوړيږي

د يکشنبې پر شپه له افغانستان سره په ګډه پوله کې د تاجکستان د سنګير په سيمه کې ، د دغه هېواد د کورنيو چارو وزارت کارکونکيو د نښه يي توکيو يوه بله جوپه نېولې ده . د نښه يي توکيو له لېږدونکيو کسانو سره ۷۰ کيلوګرامه هيروييين نيول شوي. دا نښه يي توکي پر راتلونکي لنډ مهال بايد لومړۍ قرغزستان او له هغه ځايه بيا روسيې ته لېږل شوي واى.

د روسيې د فدرالي سرحدي خدمتونو د مرستيال ريس ډګرجنرال " الېکسي کوژېونيکوف " په وينا ، په خو اشينۍ سره بايد وويل شي ، چې په دې وروستيو کې د تاجکستان په خاوره کې د دومره لويې جوپې ( پارټۍ ) نښه يي توکيو نيول کومه کمپېښه خبره نه ده . په دې وروستيو ځو مياشتو کې د نښه يي توکيو افغان لېږدوونکي ځانګړې کارندتيا ښيي . يوازې په جولاى او اګست مياشتو کې ، پوله ساتو څه د پاسه ۳۰۰ کيلوګرامه هيروييين نيولي ، چې د دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوپو حجم د پولې پخواني او اوسني ټول ساتونکي هېښ کړل. د جولای پر ۲۴ د مسکو په نامه پوله ساتې ډلې ۱۵۰ کیلوګرامه هیرویین ونیول. د اګست پر ۱۵ د پولې په هماغه ځای کې د نېشه يي توکيو د لېږدوونکيو يوه ډله ونیول شوه، چې هڅه يې کوله ۱۱۰ کیلوګرامه هیرویین د تاجکستان خاورې ته پورې باسي.

له افغان-تاجک پولې څخه نه یوازې هیرویین راتېرېږي. " الېکسی کوژیونیکوف " وویل، چې د تېرې چهارشنبې (جمعې) پر ورځ پوله ساتو یو ټن اومه اپین ونیول. بې ښندې باید وویل شي، چې دا د سرحدي فدرالي خدمتونو په تاریخ کې د نېشه يي توکيو تر ټولو لویه نیول شوې جوپه ده. [...]

د پولې بشپړه بندونه په اصل کې ناشونې ده. د نېشه يي توکيو لېږدوونکي له هر ډول شونتیاوو، ان له ډېرې کوشنۍ شونتیا څخه هم کار اخلي. روسي پوله ساتي هره ورځ له ۷ تر ۱۰ پورې له پولې د راتېرېدو هڅې شنډوي. د دې هڅو ډېری يې د نېشه يي توکيو د لېږدونکيو له خوا کیږي، خو د کشف ډلې هم پکې لیدل کیږي. دا ډلې تاجکستان ته د تېرېدو موخه نه لري، بلکې غواړي پوه شی، چې د پولې کومه برخه کمزورې ده. کله چې د پولې کمزورې برخه ومومي، بیا نو د نېشه يې توکيو لېږدوونکي هماغه ځای ته ورځي. د جنرال " کوژېونیکوف " په وینا، دا ډلې ډېرې ښې منظمې دي. په دغو ډلو کې د کشف کسان، پناه‌یان او د پوښښ (حمایې) ډله شتون لري. د پوښښ ډله په افغان لوري کې پاتې کیږي او که چیرې د نېشه يي توکيو لېږدوونکي کسان پر سرحدي کمین وربرابر شي، بیا نو هغوی پر پوله ساتو باندې سخت اور بلوي او خپل کسان حمایه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له افغانستانه د نښه یي توکیو د قاچاق په اړه د پوله ساتو اټکلونه او ارزونې ډېرې نا ارامونکې دي. د کشف د مالوماتو له مخې ، تاجکستان ته څېرمه په افغان خاوره کې په ټنونو نښه یي توکي زېرمه شوي او تاجکستان ته د رالېږدولو لپاره چمتو دي. دا کومه هېښنده خبره نه ده. په افغانستان کې جګړه روانه ده ، او مخالف لوري ډېرو پیسو ته اړتیا لري. هم طالبان او هم احمد شاه مسعود په دې ډېر ښه پوهیږي ، چې د جګړه ییزو بودیجو یو له ډېرو لویو سرچینو څخه د نښه یي توکیو ډالر دي. د نښه یي توکیو تر ټولو ډېره نږدې او ګټوره لار د تاجکستان له پولې تېره شوې. د " الېکسی کوژېونیکوف " په وینا " شننه دا ښیي ، چې په افغانستان کې د یوه کیلوګرام نښه یي توکیو بیه په منځني شمېر تخمینا ۷۰۰ ډالره ده . له پولې تر راتېرولو وروسته یې د یوه کیلوګرام بیه ۸۰۰ ډالره کیږي ، خو په دوشنبه کې یې بیا بیه له ۱۵۰۰ تر ۲۰۰۰ ډلرو پورې لوړیږي. په قرغزستان کې د هماغه یوه کیلوګرام بیه له ۲۰۰۰ تر ۷۰۰۰ ډالرو پورې ده، خو په روسیه کې یې بیا بیه ان تر اویا زره (۷۰۰۰۰ ) ډالرو پورې لوړیږي»

فدرالي سرحدي خدمتونه وایي ، چې له همدې لامله خو هغه او دغه لوري هیڅ وخت نه غواړي ، چې د هیروینو د راتېرولو کار بند کړي. [...]

رومان اوکولوف، د «سېم دنی» اونیزه مجله، ۲۰۰۰ ز کال د سیپټمبر ۲، (۴۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شیطان خاوره

[...] تاسو خبر شئ چې مسعود ، چې پلویان یې د پنجشېر زمري په نامه یادوي ، د مهماتو ، د زغره وال تخنیک د اضافي پرزو او خوراکتوکیو لګښت په منظم ډول راکاوه. ده د دغه لګښت یوه برخه د هغو لعلونو ( یاقوتو ) څخه پوره کوله ، چې د نړۍ یو له ډېرو لویو کانونو څخه یې په پنجشېر دره کې دی. دا بشپړه شونې ده ، چې د لګښت یوه برخه یې پر نېشه یي توکیو پوره کوله. دغه نېشه یي توکي اروپایي هېوادو ته لېږدول کېدل. د هیرویینو دغه پیسې په پټو عملیاتو باندې لګښتېدې او یا هم د ټاکلیو اشخاصو جېبونو ته تللې. په دې ډول مسعود نه یوازې چې د مسکو پوروړی نه دی ، بلکې له مسکوه یې یو ځل هم د نغدې مرستې د زیاتوالي هیله نه ده کړې. [...]

«ېفګېنی دوانوف» د جګړې د ګډون کوونکیو د ترهګرۍ ضد ټولنې «الفا» ورځپاڼه. د ۲۰۰۰ ز کال اکتوبر، (۴۹ ) ۱۰ ګڼه ، د «سپېڅناز-رو» اوبپاڼه، (۴۵ )

# کرېملین د نېشه يي توکيو له کاروبار کوونکیو سره ګډه برخه لري

روسي پوځیان له مسعود سره د نېشه یي توکیو په سوداګرۍ کې نږدې اړېکي لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خواشيې سره ، چې د ليکنې سرليک استعاره ( کنايه ) نه ده او کورټ هيجان راپاروونکې هم نه ده . زه غواړم هغه فاکټونه دلته ياد کړم ، چې ټولو ته ځرګند دي ، خو ډېر يې نه غوړاي چې ويې وينې او ځان پرې پوه کړي.

زه د خپل هېواد -روسيې د تبعه په توګه غواړم خپل وګړنی دريځ ځرګند کړم. کله کله د سړي زړه کيږي ، چې له روسي چارواکيو سره همدردي وکړي. دوی ډېرې هڅې کوي، خو څه نه ترې جوړيږي. د نېشه يي توکيو پېښه د ټولو لپاره په ډانګ پېيلې خبره ده. نه غواړم خبره اوږده کړم ، اصلي فاکټونو ته به راشم.

لومړی فاکټ. په اوسنۍ ټولنه کې نېشه يي توکي او د هغوی کارېدنه يو لوی غم دی. دې غم په روسيه کې ګوابنوونکي مقياسونه خپل کړي دي.

په وروستيو لسو کلونو کې ، په روسيه کې پر نېشه يي توکيو د روږديو کسانو شمېر ، لکه څنګه چې تل کم ښودل کيږي ، ۱۲ ګرايه زيات شوی دی.

دويم فاکټ. د ټولو نېشه يي توکيو ( په تېره بيا هيرويينو ) غټه برخه روسيې ته له منځنۍ اسيا ، که کره وو ايم له تاجکستانه راځي.

درېيم فاکټ. په تاجکستان کې د امام علي رحمانوف ، چې د کولاب له قبېلو څخه دی ، روسی پلوه رژيم د واک واګي په لاس کې لري. تاجکستان د همګټو هېوادو ټولنې غړی دی او هلته د روسيې پوځي اډې پرتې دي.

څلورم فاکټ. تاجکستان ته له افغانستانه نېشه يي توکي راځي. دا تصديق او تاييد په مسکو کې کوي. موږ به هم دا تاييد ومنو ، ځکه چې له دوی سره باندې ( موافق ) يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېنځم فاکټ. پر ۱۹۸۹ ز کال له افغانستانه د شوروي پوځونو له وتلو وروسته ، شوروي پلوه هېوادمشر نجيب الله پر ۱۹۹۲ ز کال د ډګري بولندويانو له خوا راوپرزول شو ، خو له دې پېښې سره کورنۍ جګړه پای ته ونه رسېده ، بلکې تاجکستان ته هم پسې راواوښته. يو کال وروسته پر ۱۹۹۴ ز کال د هېواد په سويل کندهار کې د طالبانو غورځنګ راپيدا کيږي. دوی خلک دې ته رابولي ، چې په هېواد کې بايد خونړۍ ګډوډۍ د اسلام سپېڅلي دين له لارې پای ته ورسيږي. اړينه ده وويل شي ، چې د افغانانو په منځ کې ګڼ شمېر خلکو له دوی ملاتړ ښکاره کړ.

دلته خبره يوازې د پاکستان له لوري د مالي سخاوت په اغېز کې نه وه ، هغه هېواد چې حکومت يې په رښتيا هم نه غوښتل ، د برهان الدين رباني داړه مار حکومت پر ښنګ ولري.

طالبان په هېښنده توګه ډېر ژر د افغانستان ټوله خاوره نيسي او د ۱۹۹۶ ز کال په سيپټمبر مياشت کې د ډګري بولندويانو حکومت له کابله پر شاه تمبوي. دا مهال افغانستان پر دوو برخو وېشل شوی وو.

د ډګري بولندويانو شمالي ټلواله ، چې احمد شاه مسعود يې تر ټولو اغېزمن ګڼل کېده ، د افغانستان د خاورې نږدې پېنځه سلنه ، د هېواد په شمال کې غرنۍ سيمه ، چې له تاجکستان سره همپوله ده ، تر څارنې لاندې لري.

د شمالي ټلوالې وسله والې ډلې په ټوله کې له تاجکانو جوړې دي. ( مسعود هم له توکميز پلوه تاجک دی ). د هېواد نوره خاوره د طالبانو تر لاس لاندې ده. دوی په ټوله کې پر پښتنو تکيه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره سم ، اړینه ده پر دې منښته وشي ، چې طالبان د شریعت په وړاندې د ټولو وګړیو د برابرۍ سیاست په کارنده توګه په مخ کې نیسي ، چې د افغانانو نورې توکمیزې ډلې هم ورو ورو د طالبانو لوري ته ورجلبیږي.

شپږم فاکت. له افغانستان څخه د نېشه یي توکیو راتلونکی بهیر شمالي ټلواله کنټرولوي . اړینه ده وویل شي ، چې له تاجکستان سره نږدې خاوره ، چې هیرویین ترې راځي ، د مسعود تر لاس لاندې ده.

لکه څنګه چې د " وېرسیه " ورځپاڼه د ( ۱۵ ( ۱۳۹ ) ګڼې په اووم مخ کې ، د " اندری چېرتانوف " د " ټول واک طالبانو ته " ) په لیکنه کې خبر راکوي ، چې " د افغانستان د نېشه یي توکیو ډېری کارو بار کوونکي تاجکان دي . " شمالي ټلواله ، چې په بدخشان کې د طالبانو له خوا راایساره شوې ، په کومو پیسو جنګیږي ؟

د طالبانو مالي ملاتړ اسلامي سازمانونه ، او پاکستان کوي ، چې د خپلو شمالي پولو ساتنه یې په ګټه ده او تر دې څه موده مخکې پورې هم د «یونیکال» په نامه امریکایي نفتي کمپنۍ. اړینه ده وویل شي ، چې نېشه یي توکي پخپله د شمالي ټلوالې له سیمې څخه روسیې او اروپا ته ځي . دا هر څه پخپله ټوله موضوع روښانوي چې : د احمد شاه مسعود وسله والې ډلې ، د کولمبیایي چیریکیانو په څېر د نېشه یي توکیو د پلور له برکته سمبالیږي.

اووم فاکت. د پورته یادې شوې لیکنې لیکوال لیکي ، " روسیه د مسعود ملاتړ کوي " . وړاندې داسې لولو : " د دولتي دوما د صنعتي چارو د کومېټې مشر " انتون سوریکوف " ، پوځي ځانګړیو خدماتو ته نږدې سړی دی . دی وایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود يوازې د روسيې د پټ ملاتړ له برکته کولای شي ، چې د طالبانو پر وړاندې مقاومت وکړي.

مسعود د افغانستان په شمال کې يوازې کوشنۍ سيمه تر کنترول لاندې لري. د " سوريکوف " په وينا ، د پنجشېر درې ته ، چې د مسعود ځواکونه پکې مېشت دي ، د روسيې له لوري خوراکتوکي ، پوځي تخنيک او وسله لېږل کيږي. همدا راز د کشف د لوی رياست له خوا پوځي سلاکاران هم ور استول کيږي ، چې د نورو ټولو چارو په څنګ کې ، د جګړه ييزو عملياتو مشري هم کوي. سربېره پر دې ، د تاجکستان د کولاب پوځي هوايي ډګر د مسعود د هوايي ځواکونو لپاره د اډې په توګه غوره شوی دی. "

هماغه مسعود ، چې روسيې ته د نښه يي توکيو د بهير څارنه کوي ؟ !

زه د روسيې د يو تبعه په توګه غواړم وپوښتم: ولې ؟ رسمي پوښښ داسې وو ، چې: طالبانو د منځنۍ اسيا او روسيې د نيولو او هلته د اسلامي رژيمونو د راوستلو ګواښ کاوه. راځئ ، چې وضعې ته له رښتوني ليده وګورو. طالبانو په خپله خاوره کې اسامه بن لادن ته ځای ورکړی. د امريکا متحده ايالات وايي ، چې همدغه بن لادن د ۱۹۹۸ ز کال په اګسټ کې په ختيځه افريقا کې امريکايي سفارتونه الوزولي.

دې کار له امريکا سره اړېکي خړپړ کړل او متحده ايالاتو سملاسي پر افغانستان باندې د توغنديو ګوزار وکړ. پاکستان په امريکا پورې تړلی دی. طالبان دومره ځواکونه او پيسې نه لري ، چې منځنۍ اسيا دې سوبه کړي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراو زمونږ ځيني سياستپوهان او چارپوهان وايي ، چې طالبانو ځو واره دا خبره خلکو ته تر غوږ ورتېره کړې ، چې له روسيې سره کېداى شي جوړ راشي.

پر ۱۹۹۵ ز کال د روسي پيلوټانو ، چې شمالي ټلوالې ته د وسلې رسولو لپاره اجير شوي ول ، ازادېدنه د دې ښه بېلګه ده...

دا خبره شکمنه ده ، چې يو نېستمن دولت ، چې په نړيوال ګوښې توب کې واقع دى ، دې د روسيې امنيت ته ګواښ پېښ کړي.

که چيرې د کرېملين حکومت په رښتيا له اسلامي اوښتونه ( انقلابه ) ډارېږي ، نو دا ډار يې بې ځايه دى ، ځکه په دې برخه کې ډار له شتمن او اغېزمن سعودي عربستانه په کار دى. [...]

۲۰۰۱ د جولاى ۹

«الېکسى ايوانېنکو»، د روسيې تبعه، په ځانګړې توګه د «ققفاز-څېنتر» اوبپانې لپاره. (۴۶)

# د ولاديمير پوتين ملګري د نېشه يي توکيو پر سوداګرۍ بوخت شول

[...] د ملګرو ملتو سازمان د نېشه يي توکيو د څارنې پروګرام د مالوماتو له مخې ، سږ کال په افغانستان کې د کوکنارو د کښت حاصلاتو د بشريت په اوسني تاريخ کې لوړ ريکارډ وواهه او ۱۱۰ يوسلو لس ټنه سوچه هيرويين شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. د دې لپاره ، چې لوستونکی د دغه رقم په مانا ښه پوه شي ، تشریح کوو یې ، چې دغه حجم هیرویین د دووسوو میلیونو هغو پوډریانو یا په بله وینا په هیرویینو روږدیو کسانو ، چې د هیرویینو د کارونې یوکلنه مخینه ولري ، لپاره د یوه شواروز دوز ( اندازه ) جوړوي او بسنه کوي . یا هم نږدې د یو میلیون مزمنو روږدیو کسانو د یوه کال اندازه پوره کولای شي . سربېره پر دې ، د " خپلواک " افغانستان په لابراتوارونو کې څه د پاسه زر ټنه د لوړ څرنګوالي اپین تولید شوي ، چې د نورو تخمینا پینځو میلیونو پر نېشه یې توکیو روږدیو کسانو لپاره د یوه کال کارونې اندازه ده .

پر ۲۰۰۰ ز کال دا رقم نږدې پېنځه ګرایه ټیټ وو ، او طالبانو ، چې د خپل دیني - سیاسي حیثیت په غم کې ول ، د خشخاشو د کښتونو د له منځه وړلو په لاره کې ځینې ګامونه پورته کړل ، هغه هم د هغو خشخاشو ، چې د دوی د تولیدوونکیو تر ځارنې لاندې نه ول . اړینه ده وویل شي ، چې پر ۱۹۹۹ زېږدي کال د افغانستان ټولې خاورې ، د هغو سیمو پر پرتله ، چې د شمالي ټلوالې تر ځارنې لاندې وې ، درې ګرایه کم اپین تولید کړي ول . د ملګرو ملتو ټولنې د نېشه یې توکیو د ځارنې پروګرام د مالوماتو له مخې ، یوازې احمد شاه مسعود پر ۱۹۹۹ ز کال نړیوال بازار ته په لسګونو ټنه هیرویین وړاندې کړل . (( ځلور نهه لرونکي هیرویین )) ، مانا د لوړ څرنګوالي هیرویین .

هماغه مهال ډېرو شنونکو له ربښتونې وضعې سره د لویدیځ پروپاګنډ ناسموالی او نابرابروالی په ګوته کړ . د شمالي " ښې " ټلوالې د " بدو " طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پرتله ، اروپا او د پخواني شوروي اتحاد نه پاتې هېوادو ته دري گرايه زيات اپين او هيرويين ولېږدول ، خو پر دې تولو باندې سترگې پټېدې. [...]

«ولاديسلاف شوريگين» ، ۱۵/۱۲/۲۰۰۲ ، د «اې. پي. ان» سياسي خبرونو اژانس، د ملي ستراتېجۍ د انستيتيوت پروژه. (۴۷ )

# د سي . ای . اې او مي– ۶ د نېشه يي توکيو سوداگر

د جرمونو ، جنايتونو د مسلو کارپوه او نامتو سياستپوه «ولاديمير فيلين» سره د مرکې يوه برخه:

پوښتنه: ايا موږ پخوا د نېشه يي توکيو ترانزيټ تر څارنې لاندې درلود ؟

ځواب: څه به درته ووايم ؟ پر ۹۴ ز کال له پاکستانه افغانستان ته طالبان راغلل او د هېواد سويلي سيمه يې ونيوله. پر ۹۲ ز کال طالبان کابل ته ننوتل. دوه کاله وروسته دوی کندوز ته راغلل. هغه مهال احمد شاه مسعود ته يوازې پنجشېر او له تاجکستان سره پولې ته څېرمه کوشنۍ سيمه پاتې وه . پخپله په تاجکستان کې له کورنۍ جگړې وروسته کولابيان [ موخه يې له امام علي رحمان څخه ده ، چې د تاجکستان له کولاب ولايت څخه دی. ژ ] واک وځواک ته ورسېدل . دوی په بشپړه توگه له روسيې سره تړلي ول ، زموږ له ۲۰۱ شمېرې فرقې سره يې تړاو درلود . مسعود هم له روسيې سره تړاو درلود . له ده سره زموږ سلاکاران ول ، اکمالات يې زموږ له لوري کېدل. د ده هوايي ځواکونه د کولاب په پوځي هوايي ډگر کې ځای پر ځای شوي ول. مانا دا چې هم مسعود او هم تاجکانو پر روسيې باندې بشپړه تکيه کړې وه. زموږ اغېز ډېر لوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیا دا چې هماغه مهال په پامیر کې انګرېزان راپیدا شول ، که کره ووایو د اغا خان فوند راپیدا شو . دا یوه سیمه ییزه ( ځایي ) ښکارنده وه .

اوس به د " ځانګړیو توکیو " [ نېشه يي توکیو . ژ ] په اړه ویل وکړم . د دغو توکیو تر ټولو لویه برخه تل او اوس هم اروپا ته د ایران او تورکیې له لارې ځي . د تاجکستان له لارې هم ځي ، خو تر ۱۵ سلنې څخه یې زیاته برخه له دې لارې څخه نه ځي . [...]

الېکساندر ناګورني

۱۴/۹/۲۰۰۴ ، د «پراودا اېنفو» اوبپانه. (۴۸ )

# له بېلاروسیې څخه لیک ، ۸ شمېره . د یوویشتمې پېړۍ «د اپینو جګړه» څوک پر مخ بیايي؟

[...] پخپله په افغانستان کې ، د امریکا له یرغله او د سیپتمبر د ۱۱نېټې له پېښو لږ مخکې ، طالبي رژیم تر خپلې څارنې لاندې سیمو کې د نېشه يي توکیو پر کر بندیز ولګاوه او هر څوک چې به د نېشه يي توکیو پر کر ونیول شو د هغه لپاره یې د سولۍ ( اعدام ) سزا وټاکله. ملاعمر او د هغه خوسر بن لادن داسې وګڼله ، چې د " کایف " له لارې لاسته راتلونکې پیسې دوی د هر ډول ملګریو له مرستې پرته هم تر لاسه کولای شي.

شمالي ټلوالې او له هغه شمېره احمد شاه مسعود په پرله پسې ډول وسلې او پیسو ته اړتیا درلوده ، او دوی هم د نېشه يي توکیو له سوداګرۍ څخه ډډه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله . د مسعود لپاره دا داسې يوه وسيله وه ، چې د هغې پر مټ يې کولای شوای جګړې ته دوام ورکړي . فکر نه کيږي ، چې دی دې په بشپړه توګه په دې مسله پوه شوی وي ، چې وسلې ته تلپاتې اړتيا دی په څه ډول سيالۍ کې ښکېل کړ . مسعود نه غوښتل ، چې د " کايف " [ نېشه يي توکيو . ژ ] له لارې ورتلونکې پيسې له کوم ځا سره ووېشي . ان د انګلستان له داسې ملګريو ، لکه اغا خان سره يې هم نه غوښتل چې دغه پيسې ووېشي . لکه څنګه چې وايي ، ملګرتيا ، ملګرتيا ده ، خو پيسې بېل څيز دی ... احمد شاه مسعود ، چې په ښکاره " د امريکا د ملګريو " په شمېر کې نه ګڼل کېده ، ناڅاپه ووژل شو . مالومه نه ده چې ځانمرګي د ځا له خوا ورلېږل شوي ول ، هغه هم په امريکا متحده ايالاتو کې د نړيوالې سوداګريزې منځۍ پر اسمان څکو ودانيو باندې له بريده څو لسګونه ساعته مخکې ... [...]

۲۰۰۴ / ۱۱ / ۲۹ ، د «پوليميک ټکی رو» اوبپانه. (۴۹)

## د يوويشتمې پېړۍ «د اپينو جګړه»

[...] مسعود ډېرو خلکو ته مزاحمت کاوه ، تر هر څه ړومبی طالبانو ته ، په همدې ډول بن لادن ته هم مزاحم وو ، ځکه بن لادن د طالبانو روحاني مشر او همهال خزانه دار ( زېرمه وال ) وو . د مسعود او بن لادن تر منځ له پخوا څخه د افغانستان د اصلي ژوغورنکي لقب پر سر سيالۍ شتون درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود تل وسلې او پیسو ته اړتیا درلوده ، او د نېشه یي توکیو له سوداګرۍ څخه یې ډډه نه کوله. له دغې سوداګرۍ څخه د ده کلنی عاید په ځینو کلونو کې نیم میلیارد ډالرو ته رسېده. [...]

میخاییل نیکولایف

د «سېم دنېی» اوونیزه خپرونه، د ۲۰۰۵ زېږدي کال د جنوري ۲۷ ، څلورمه ګڼه. (۵۰)

# مثلث ، میاشت او لانجې

[...] په زړه پورې خبره داده ، چې د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته ، د کورنۍ جګړې لا تودېدو نویمو کلونو کې په افغانستان کې د نېشه یي توکیو تولید کم شو . د طالبانو رژیم ، چې په ټوله نړۍ کې ډېر سخت غندل کېده او زموږ له خوا هم ، پر ۲۰۰۰ زېږدي کال وکولای شول ، چې د سختو ګامونو په اوچتولو سره د نېشه یي توکیو تولید کوږټ بند کړي. په داسې حال کې ، چې زموږ لپاره د په زړه پورې او جالبو احمد شاه مسعود او دوستم تر څارنې لاندې سیمه کې د نېشه یي توکیو تولید مخ پر زیاتېدو وو ، او اوس چې د امریکا متحده ایالاتو پوځونه په افغانستان کې شتون لري ، هم وده کوي. کله چې د پنج سیند له غاړو څخه د روسیې پوله ساتي رالرې شي ، بیا به نو د زرینې میاشتې لپاره سم زرین وخت راشي. [...]

پاول کوزمېنکو ، اېکاتېرینه ستېپانووا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «نېزاویسیمایا گزېته» ورځپانه، د ۲۰۰۵ / ۴ / ۷ نېټې گڼه. (۵۱)

# د یو میلیون ډالرو بې سده کوونکي پوډر

د نوو طرحه شویو عملیاتو په پایله کې د پیټربورگ څارندویو وکولای شول ، چې د نېشه یي توکیو یوه ډله سوداگر ونیسي. له دغې ډلې سره پېنځه دبرش نیم کیلوگرامه هیرویین نیول شوي ، چې ټوله بیه یې څه دپاسه یو میلیون ډالر کیږي. د شتو مالوماتو له مخې ، نیول شوي کسان د یعقوب سلیموف د نېشه یي توکیو د مافیایي ډلې غړي دي. یعقوب سلیموف د شوروي اتحاد د کلونو پر مهال دوه ځلي د جنسي تېري او لوټمارۍ پر جرم محاکمه شوی دی. د دغه سړي په مشرۍ پر ۱۹۹۰ زېږدي کال په دوشنبه کې روسي ژبې وگړي ووهل شول او لوټ شول. دی وروسته د خپلواک تاجکستان د کورنیو چارو وزیر او هممهال د تاجکستان د گمرک د دولتي کومېټې مشر شو.

همدا درې کاله مخکې د سانت پیټربورگ د نېشه یي توکیو سوداگري د ازربایجانیانو په لاس کې وه ، خو د څو میاشتو په بهیر کې ټول حالات بدل شول. د طالبانو له خوا د افغانستان د نږدې ټولې خاورې نیول ، د دوی د مخالف تاجک احمد شاه مسعود او د هغه د ملگریو د تاجکستان د اسلامي بنسټپالو د نېشه یي توکیو د سوداگرۍ او لېږدولو دودیزې لارې بندې کړې. لکه څنگه چې دوی ماته وخوړه ، نو یې په خپل وار په شمال کې د سلیموف د نېشه یي توکیو د سوداگرۍ پر ډلې لارې تنگې کړې. سلیموف بیا د ازربایجانیانو تر لاس لاندې سیمو ، د پیټربورگ پر شمول ، پر نیولو لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰۹ / ۱۰ / ۲، د «مارک-ادېگی» اوبپانه. (۵۲)

# د اوباما د نېشه يي توکيو د لېږد کرېمليني لاره

[...] کرېملين دا زړه ونه کړ ، چې په افغان جګړه کې د امريکا متحده ايالاتو په پلوۍ مخامخ ورګډ شي. ده ته دا مهال ورستېدونکې قفقاز ور په برخه شوی وو . له افغانستانه د جستي تابوتونو راتګ او د طالبانو له لوري په روسيه کې د چاودنو د پېښو په وړاندې غبرګونونو کولای شول ، چې نه اټکلېدونکې پايلې ولري . خو اړينه ده وويل شي ، هغه غرونه ، چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو اتحاد لپاره تباه کوونکي ول ، هغوی د " برېژنف " ميراث خوړونکي ډېر زيات ځانته راجلبول. لکه څنګه چې مالومه ده ، شوروي پوځونه پر ۱۹۸۹ ز کال له افغانستانه راوتلي . د طالبانو غورځنګ پر ۱۹۹۴ ز کال راپيدا شو . د هغه ډېرو مشرانو د " محدودو ټولګيو " پر وړاندې جګړه کړې ، خو طالبانو د يوه سازمان په توګه نه شو کولای چې له شوروي اتحاد سره کومه لانجه ولري او له روسيې سره يې هم کومه لانجه نه درلوده.

له مسکو سره د طالبانو سرسخت دوښمن ډګري بولندوی احمد شاه مسعود او د هغه همقومي له طالبانو مخکې د افغانستان هېوادمشر برهان الدين رباني جګړې ته دوام ورکاوه . لکه څنګه چې دوی دواړه له توکميز پلوه تاجکان ول ، دواړو د تاجکستان په کورنۍ جګړه کې کارنده برخه درلوده . د روسيې ضد " اسلامي-دموکراتيکې " ټلوالې ، چې جنګيالان يې په تاجکستان کې د روسي ژبې وګړيو په له منځه وړلو کې خورا تکړه ول ، د همدغه رباني او مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

تګلارې ته ځان عيار کړی وو . د مجاهدينو مشرانو له دوی سره د وسلې او بشري ځواک مرستې کولې او هممهال يې د روسيې پر لوري د نښه يي توکيو د لېږد او ترانزيټ په چارو کې ورسره ملګرتيا کوله . حکومتي پوځونو، روسي پوله ساتو او د روسيې ۲۰۱ شمېرې موتوريزه فرقې له جنګيالانو سره سختې جګړې پر مخ بېولې ، چې ناڅاپه طالبانو د مسعود او رباني د جبهې پر شاه ګوزار وکړ.

داسې برېښېده ، چې د کرېملين لپاره به دا منطقي وي ، چې که چيرې د خپلو سرسختو دوښمنانو په ځپلو کې مرسته ونه کړي ، نو لږ تر لږه طالبانو ته خو مزاحم نه شي . برعکس مسکو په بېړې سره مسعود ته د وسلو لويې جوپې ورولېږلې او پر ۱۹۹۷ زېږدي کال يې د تاجکستان ولسمشر په دې راضي کړ ، چې د واک په جوړښتونو کې اپوزيسيون ته هم ځای ورکړي . هغه وو ، چې تر ټولو لويه برخه د مسعود نږدې ملګري ډګري بولندوی ميرزا ضيايېف ته ورسېده او د بېړنيو چارو وزير شو . ښکاره خبره ده ، چې [ د تاجکستان . ژ ] د بېړنيو چارو وزارت سملاسي د ضيايېف د جنګيالانو پر اډه بدل شو . ده خپل کسان نه يوازې د خپلو دوښمنانو د له منځه وړلو او له احمد شاه مسعود سره د مرستې په برخه کې کارول ، بلکې قرغزستان او اوزبکستان ته يې د اسلامي اوښتون د صادرولو لپاره هم کارول ، د هغې ايډيولوجۍ د پلي کولو لپاره ، چې طرحه کوونکی يې د ده پخوانی ملګری ، د اوزبکستان د اسلامي غورځنګ مشر جمعه نمنګاني وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرېملین دې سیاست " خپل ووهه ، چې پردي وډار شي " تاشکند په غوسه کړ او پر ۱۹۹۹ زېږدي کال اوزبکستان په روسي ضد سازمان " گوام " ( GUAM ) ، یانې د دموکراسۍ او وېټندویې ودې په خاطر سازمان کې شامل شو . طالبان هم سخت په غوسه شول او د مسکو له لوري د مسعود د ملاتړ په ځواب کې یې له چیچیني بېلتون غوښتونکیو سره مرستې پیل کړې. له ښه مرغه د دغې مرستې کچه دومره لویه نه وه ، خو تر ټولو بده یې لا په مخ کې وه. وروسته له هغه ، کله چې د ناټو پوځونو له شوروي هوایي دهلیزونو نه په کار اخیستنې پر ۲۰۰۱ ز کال پر افغانستان تېری وکړ او طالبان یې غرونو ته وشړل ، له افغانستانه د هیرویینو بهیر ډېر گرایه لوړ او زیات شو . [ د روسیې . ژ ] د نېشه یي توکیو د څارنې د فدرالي ادارې مشر " ویکتور ایوانوف " په څه موده مخکینۍ مرکه کې د نېشه یي توکیو دغه زیاتوالی ۴۴ گرایه یاد کړ . ځینې نور یې بیا ان تر دې هم زیات بولي . [...]

۲۰۰۹ / ۱۲ / ۱۵ ، یوري نېرسېسوف

د «ای. پي. ان» د سیاسي خبرونو اژانس اوبپانه. (۵۳)

# د مسعود له وروستۍ مرکې څخه

[...] د ځینو مالوماتو له مخې ، احمد شاه مسعود په افغانستان کې یو له ډېرو شتمنو کسانو څخه وو . دی د قیمتي ډبرو د کاروبار مشر او خاوند وو [...]

د «ابم.کا» (مسکوفسکي کامسامولېڅ) ورځپانه، د ۲۰۰۱ زېږدي کال د سیپټمبر ۱۷. (۵۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دوښمن «پنجشېر زمري» په یاد

[...] په افغانستان کې د احمد شاه مسعود د وسله والې ډلې پرضد لومړنې عملیات ، چې شورویان په افغانستان کې ول ، د ۱۹۸۰ زېږدي کال په اپرېل کې ترسره شول. دا هغه مهال وو ، چې د ده وسله والو ډلو به په پر له پسې ډول ، هره ورځ د کابل او ترمز تر منځ لاره کې پر افغاني او شوروي پوځي کاروانونو بریدونه کول.

د کشف د مالوماتو له مخې د مسعود د وسله والې ډلې شمېر د لسو زرو په شاخوا کې وو ، چې ډېری یې له ځایي خلکو نه ول.

په پنجشېر کې د عملیاتو د ترسره کولو لپاره درې شوروي کنډکونه ، چې یو موتوریزه ، دویم پراشوټي - دېسانت ، دریېم د دیسانت - یرغلیز کنډک او دوه افغاني کنډکونه ول ، بېل شول . همدا راز د افغانستان د دولتي امنیت او ګوندي کارندویانو کوشنۍ ډلې هم ورسره ملګرې وې.

جګړه ییز عملیات ګړندي ول او یوازې څلور ورځې یې دوام وکړ. یاغیانو ته د سر ډېر زیان وراوښت. اړینه ده وویل شي ، چې د وژل شویو کسانو په شمېر کې ګڼ شمېر ملکي سوله ییز وګړي هم ول ، چې تر دې مهاله یې د شوروي وسلې زور لا نه وو زغملی. دې کار مسعود دې ته اړایست چې په افغانستان کې د شوروي پوځونو له بولنتون ( قوماندانۍ ) سره پټ هوکړه لیک لاسلیک کړي. په دغه هوکړه لیک کې ده داسې ژمنې وکړې ، چې د حکومتي او شوروي پوځونو پرضد به دوښمنانه کړنې نه ترسره کوي. د دې په ځواب کې ده ته دا ژمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشوه ، چې پر پنجشېر باندې به هوايي گوزارونه نه کيږي ، د ده کاروانونه به درې ته د ننوتو او له هغې څخه د وتو لپاره پرې ښودل کيږي. که چيرې احمد شاه مسعود له نورو سيالو وسله والو ډلو سره په وسله وال ټکر کې ښکېل شي ، نو د ده له وسله والو ډلو سره به د هوايي او توپچي ځواکونو مرسته کيږي.

ددغه هوکړه ليک د اعتبار موده د ١٩٨٢ ز کال په مى کې پای ته رسېده. په ټوله کې دواړو لوريو خپلې ژمنې مراعتولې . مسعود د لويو لارو په اوږدو کې ورانکارې بنده کړه او ټول پام يې په پنجشېر کې د دفاعي ، سنگريزو اړخونو او د خپلو وسله والو ډلو پياوړې کولو ته واړاوه.

اړينه ده وويل شي ، چې مسعود د وسله وال مقاومت په ټول پېر کې [ د افغانستان. ژ ] له دولتي واکمنۍ سره تړاو ټينگولو ته نه حاضرېده.

مسعود د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت په حکومتي او گوندي اورگانونو کې د خپلې څارگرۍ پراخه شبکه جوړه کړې وه. ده خپله د کشف ضد اداره جوړه کړه. [...]

له نورو ملي گوندونو څخه يې بېل خپلواک سياست چلاوه او وسله والو ډلو يې له اره پر کوټلې وټندوی ( اقتصادي ) بنسټ او پر هغه مرسته تکيه درلوده ، چې د عربي هېوادو او چين له خوا له ده سره کېده. خبره دا ده ، چې په پنجشېر دره کې د زمردو ډېر شتمن کانونه شتون لري ، او په بدخشان ولايت کې هم د لاجوردو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قيمتي ډبرو د را ايستلو ځايونه د هوايي دفاع ځواکونو ، " د . ش . کا " ، د " پي . ز . ار . کا " ، " ستريلا -۲ " ، ستېينګر او " ز . ګ . و " توغنديو او ماشينګڼو په واسطه ساتل کېدل.

د زمردو د راايستلو لپاره چاودنې د شپې پر مهال کېدې. دروند فزيکي کار په ټوله کې شوروي يرغملو ، او د افغانستان د حکومتي پوځونو پوځي يرغملو کاوه. خو د شوروي يرغملو په وړاندې د مسعود چال چلند د نورو وسله والو ډلو د مشرانو له چال چلند څخه توپير درلود . ده يرغمل نه شکنجه کول او ريشخند يې پرې نه واهه.

اړينه ده يادونه وشي ، چې اوس خو مالومه شوې چې د مسعود د ساتندويانو بولندوی روسی وو . کېدای شي ، چې له همدې لامله به د شوروي يرغملو په وړاندې د مسعود چلند داسې وو ، لکه پاس چې يې په اړه يادونه وشوه ، خو د ځينو نورو کيسو پر بنسټ برعکس ويل کيږي ، او هغه دا چې يرغمل به يې په وحشيانه ډول شکنجه کول.

د قيمتي ډبرو د راايستلو د کارونو مشري پرانسي او لوېديځو جرمني انجنيرانو کوله. د قيمتي ډبرو د راايستلو په چارو کې جاپانی برمه يي تخنيک کارېده.

پر ځای ده وويل شي ، چې کابل ته نږدې د څرخي پله زندان لويد يځو جرمنيانو جوړ کړی ، البته د هغه مهال د وروستي او نوي تخنيک په کارولو سره . دغه بنديخانه يوه له ډېرو لويو او تر اوسه پورې ښو ساتل شويو بنديخانو څخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قیمتي ډبرو له پلور څخه ټولې ورتلونکې پیسې د احمد شاه د وسلې او د دفاعي ځایونو د جوړولو لګښت پوره کاوه. یوازې په هند ، پرانسه او پاکستان باندې د څه د پاسه پینځو میلیونو ډالرو په بیه زمرد پلورل کېدل.

همدا راز د بدخشان د لاجوردو او سیلان ( ګرانات ) راایستنې او پلور ، او پخپله په افغانستان کې له هغوی څخه د غمیو او نورې ګانې جوړولو ډېره ګټه ورکوله . له شوروي افسرانو څخه داسې کسان ډېر لږ ول ، چې شوروي ته د راستنېدو پر مهال دې چکونه ، د سیلان غاړه کۍ او یا له نورو کمپېښه منرالونو څخه کوم څه له ځان سره یو نه سي . هغه شترنج ( شطرنج ) چې له څو بېلابېلو نیم قیمتي ډبرو او منرالونو څخه جوړېده ، ډېر شیک او قیمت وو .

احمد شاه نور لګښتونه د ځمکو له خاوندانو څخه د خوراکتوکیو له راټولولو ، له دولتي مامورینو څخه د باج ، له پوځیانو څخه د نغدو پیسو ، د کورنیو چارو وزارت له کارکوونکیو او سوداګرو څخه د پیسو پر راټولولو پوره کول. یو څه وسله یې هم پر شوروي او افغان حکومتي پوځي کاروانونو باندې د بریدونو په پایله او له پوځي خدمت څخه تښتېدونکیو کسانو له لارې تر لاسه کوله. [...]

## بېخي پټ مالومات:

احمد شاه مسعود د انقلاب ضد یو له ډېرو اغېزمنو مشرانو څخه دی . د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند او حکومت سرسخت مخالف دی او دوی خپل دوښمنان بولي . ډېر کارنده ملتپال دی . د مخکښو پانګوالو هېوادو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

استازيو سره ټينګ اړيکي لري ؛ له پرانسويانو سره ځاني اړيکي له ډيرې لېوالتيا سره ټينګوي ، پر پرانسي او انګريزي ژبو رواني خبرې کولای شي.

د سازمانولو ښه قابليت لري. د لويې ياغي ډلې د مشرۍ چارې په ډېر ښه ډول پر مخ بيايي. با انرجي دی ، تکړه دی ، پرېکنده دی. ټاکليو موخو ته د رسېدو له لارې بېرته ستنېدونکی نه دی. ژمن دی ، پر ورکړې ژمنه او خبره ولاړ دی.

خپلې کارندتياوې په ډېر مهارت سره پټوي . پټ او بااحتياطه دی ، شهرت غوښتونکی او واک وځواک ته د رسېدو ډېره لېوالتيا لري. د ده د نږدې کسانو د شننې په پايله کې اړينه ده وويل شی ، چې دی تر لاس لاندې کسانو باندې په هيڅ بشپړ باور نه لري...

پر يو ځای تلپاتې منځی نه لري. د خپل موقعيت ځای تل بدلوي. ديندار ه دی ، د اسلامي ژوند طرز په کوټلې توګه مراعتوي. په عادي ژوند کې يې ساده والی شتون لري. د ستونزو پر وړاندې کلک دی. ساده او عادي کالي اغوندي. ځاني وسله يې د "اکسو" کونداغ قاتېدونکې ماشينګنه او توپانچه ده...

(د مسعود په اړه دوسيې څخه)

پر ۱۹۸۴ ز کال د افغان مشرتابه په ډېر ټينګار سره پرېکړه وشوه ، چې په پنجشېر کې پراخ پوځي عمليات ترسره شي. ډېر وروسته بيا دا مالومه شوه ، چې د شوروي مشرتابه له پټو نيتونو سره سره ، د عملياتو په اړه خبر مخکې له مخکې مسعود ته رسېدلی وو . د دغو عملياتو د ترسره کولو ټولو نقشه او په هغې کې د جګړه ييزو عملياتو د ترسره کولو ځايونه او پلان د احمد شاه مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ته ورغلل. دې کار ده ته دا شونتیا ورکړه ، چې د عملیاتو له پیل نه مخکې له پنجشېر څخه وګړي او خپل ډېرى وسله وال کسان چاریکار ، اندراب ، نجراب او نورو شمالي سیمو ته وباسي.

عملیات هغه مهال پیل شول ، کله چې په دره کې هیڅوک هم پاتې نه ول ، ځکه خو دوى ته دا سې کوم ډېر د سر زیان وانه وښت. [...]

۱۹/۱۱/۲۰۰۷، «موسکالېنکو لیونید ګریګورېویچ»، د وروستیو جګړو د ګډونوالو پنځونه. د «ولادیمیر ګریګورېف» په نامه اوبپانه. **(۵۵)**

# بن لادن ډېر ارزښتناک لاس له لاسه ورکړ

جنرال دوستم د نوي پوځي برې جشن نیسي ، ځکه ، د کندزو د د فاع پر مهال ترهګر جمعه نمنګاني وژل شوى دى . نمنګاني د شوروي اتحاد په دیسانت پوځونو کې خدمت پیل کړى وو ، چې وروسته د بن لادن ملګرى شو . دى د اوزبک ولسمشر کریموف سرسخت دوښمن ګڼل کېده او د وژل شوي احمد شاه مسعود سوداګریز انډیوال وو.

[...] د خپرو شویو اوازو له مخې ، په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو له لاسوهنې مخکې ، نمنګاني له چالاکۍ نه په کار اخیستنې سره له شمالي ټلوالې او طالبانو سره اړیکي ټینګ کړل. وروستیو نمنګاني ته د هیرویینو د ورکولو کار سمبال کړى وو . نمنګاني د مسعو له تر لاس لاندې خلکو سره په ګډه د سرو زرو او قیمتي ډبرو د قاچاق کار کاوه. [...]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماریيا ښوبټکووا

۲۰۰۱ / ۱۱ / ۱۹، د گزبته ټکی رو اوبپانه. (**۵۲**)

# افغانستان کولای شي ، ټولې نړۍ ته مس ، وسپنه او زمرد ورکړي

[...] په افغانستان کې جگړې د دغه هېواد په ځمکپوهنه (جیولوجۍ ) کې جدي بدلونونه رامنځته کړي دي. په کابل کې شوروي پلوه رژیم نه شو کولای ، چې ټول هېواد تر خپلې څارنې لاندې راولي ، نو هغه وو چې د زرگرۍ او مو توکیو په زېرمه ځایونو کې ، د دغو توکیو نامسلکي را ایستنه پیل شوه. قیمتي ډبرې "د گروهې مبارزینو " لپاره د عاید په یوه له ډېرو لویو سرچینو بدله شوه. د بدخشان ولایت په لاجوردو کانونو کې ۲۴ ساعته کار روان وو. د ورځې به یې ډبرې راایستلې او د شپې له خوا به دلته له پاکستانه چورلکې راتلې ، قیمتي ډبرې به پکې بارېدې او بېرته به الوتلې. د پنجشېر درې زمردو هم مجاهدینو ته ډېرې غټې پیسې پر لاس ورکړې. دلته د زمردو د کاروبار کنترول د ډگري بولندوی احمد شاه مسعود په لاس کې وو. زه یو ځل د نوییمو زېږدي کلونو په پای کې پنجشېر ته ولاړم او هلته مې د خینج د زمردو کان له نږدې ولید ، چې تر اوسه لا کار پکې روان دی. د کان بڼه داسې ده ، چې گڼ شمېر سوري ( سمڅې ) لري ، چې د غره پر اړخ کې ښکته ژورې تللې دي. د ډبرو د را ایستلو میتودونه ډېر ابتدايي دي: اړخونه او پاڼونه چاودول کېږي ، وروسته له هغې ورته خلک ورځې ، هغه ځای گوري او د زمردو ټوټې پکې لټوي. چاودنې زمرد ماتوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټې کوي يې ، خو د را ايستنې دغه داړه مار مبتود هم مجاهدينو ته ډېر لوی عايد ور په برخه کوي. د عربي رسنيو د مالوماتو له مخې ، د دغو قيمتي ډبرو د سوداګرۍ له لارې دوی په کال کې تر سلو ميليونو ډالرو پورې پيسې تر لاسه کوي. دغه قيمتي ډبرې په ټوله نړۍ کې خپرېږي. د افغاني قيمتي ډبرو د کانونو لړه اوځارتيا هم د ډبرو پر بيه کوم منفي اغېز نه ښندي او په اروپا کې منځګړي سوداګر دغه قيمتي ډبرې ډېرى مهال د کولمبيا د ډېرو ښو او لومړۍ درجه زمردو په نامه پلوري. [...]

دميتري ګلومسکوف، الما اتا

د «فرغانې» خبري اژانس اوبپانه. (۵۷)

# د شمالي ټلوالې پخوانی غړی هيله لري چې د زمردو سوداګري به د افغانستان په وټندويه بيا رغاونه کې بنسټيز رول ولوبوي

د شمالي ټلوالې لړ اوځار غړی او د احمد شاه مسعود له نږدې خلکو څخه يو کس رشيد محمدي لس کاله کيږی چې د زمردو سوداګري کوي. محمدي هيله لري چې افغانستان به په سيمه ييزه سوداګرۍ کې خپل دريځونه بيا خپل کړي او د قيمتي ډبرو د ګڼ شمېر کانونو درلودونکي هېواد درجه به وګټي. محمدي اوسمهال په عربي متحده اماراتو کې د افغانستان د ديپلوماتيک استازي څوکۍ لري. دی وايي چې د شوروي اتحاد د يرغل په کلونو کې دی ۱۲ کلن وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود ته به یې ډوډۍ وروړله . د پنجشیر له تاجکانو څخه ، د مسعود ځینې پخواني پلویان او سمهال د حامد کرزي په منځمهاله حکومت کې لویې څوکۍ لري . محمدي وایي ، وروسته له هغه چې واک ته ورسېد ، نو ده داسې لار ومونده چې د شمالي ټلوالې د امنیت ساتلو لپاره وسله او چورلکې رانیسي . د پیسو لویه سرچینه همدغه د زمردو سوداګري وه ، ځکه چې زمرد په افغانستان کې ښه ډېر دي. محمدي د افغانستان په شمال کې په هندوکش ولایت کې [ دلته لیکوال تېروتنه کړې ، په افغانستان کې د هندوکش په نامه ولایت نشته ، کېدای شي موخه یې د هندوکش غر وي . ژ ] په وسله باندې د زمردو د بدلولو پټو سوداګریزو معاملو په اړه بیان وکړ . ۳۲ کلن محمدي وایي ، چې دی د دغسې دندې له ترسره کولو سره روږدی شوی ، چې د هغې په ترسره کولو کې سړی ډاګیزه او افشا نه شي . دی په یوه داسې کورنۍ کې لوی شوی ، چې د مسعودیانو له کورنۍ سره یې ټینګ تړاو درلود : پر ۱۹۸۸ زېږدي کال د ده خور پر احمد مسعود واده شوه . محمدي وایي ، چې د ده [ احمد شاه مسعود . ژ ] ونډه داوه ، چې له برکته یې د زمردو سوداګري سمبال شوه . د قیمتي ډبرو په نړیوال بازار کې افغان زمرد د کولمبیایانو تر اغېز لاندې د کولمبیا د زمردو په نامه پلورل کېدل . نوموړی وایي ، چې په بازار کې خرابه وضعه له دې لامله هم نوره خرابېده ، چې افغانانو زمرد په داړه ماري او بربریت ډول سره را ایستل . د زمردو د راایستلو ځای به یې په چاودېدونکیو توکیو الوزاوه ، چې دې کار زمرد ماتول او له منځه یې وړل . د مسلکي کسانو له خوا د ځانګړیو سامان الاتو په واسطه د دغو زمردو د را ایستلو او نه ماتېدو په صورت کې هغوی پر اروپایي غمي جوړونکیو او زرګرانو باندې ښه پلورل کېدای شوای .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود چې د زمردو د پلور له لارې پر ډېر لوی عاید او گټې باندې ډاډمن شو ، نو يې د سوداګريزې عملياتي ستراتېجۍ د جوړولو لپاره يوه ډله راټوله کړه. په دې برخه کې د ده اوښنی محمدي يو تر ټولو ډېر لوی سوداګر شو. محمدي کويټ ته ولاړ ، هلته يې عربي ژبه او ادبيات زده کړل ، وروسته د ۱۹۹۰ يمو کلونو په سر کې سعودي عربستان ته ولاړ. پر ۱۹۹۲ ز کال د جگړه ييزو عملياتو له سختېدا وروسته يې زده کړې پرې ښودې ، او ځان يې په بشپړه توگه سوداګرۍ ته ځانگړی کړ. محمدي (EurasiaNet) ( يور اسيا نېټ ) اوبپانې ته وويل ، چې غرونو ته يې د يوه سفر پر مهال ، د شمالي ټلوالې د کشف له خدماتو او د پنجشېر له واکمن سره يو ځای د سوداګرۍ شبکه جوړه کړه. ده پر دريو ژبو ښې خبرې کولې ، پر نړۍ باندې يې سفرونه کول ، او ټوله اروپا يې تر پښو تېره کړه ، تور «کېيس» ديپلومات بکس به يې په لاس کې وو. په دغه ديپلومات کې به يې د پنجشېر د زمردو بېلگې له ځان سره گرزولې. د شمالي ټلوالې مشر ډاکتر عبداله عبداله ، [ عبدالله د شمالي ټلوالې مشر نه دی. ژباړن ] چې اوس د افغانستان د بهرنيو چارو وزير دی ، داسې گڼي ، چې د محمدي له برکته د مسعود ځواکونو ته پېنځه ميليونه ډالر رسېدلي دي. [...] محمدي وايي ، لکه څنگه چې اوس افغان حکومت هڅې کوي ، د مالي او نورو سوداګريزو عايداتو ته يو مرکزيت ورکړي او ويې اوډي ، شمالي ټلوالې پر خپل مهال هڅې کولې ، چې د زمردو له سوداګرۍ څخه ډېره گټه تر لاسه کړي. نوموړی وايي ، چې مسعود د بيو څارنه ( کنترول ) لرې کړه ، په دې ډول چې خپلواک سوداګر ونه شي کولای ښکته پورته يې کړي. له دې سره سره ، چې په افغانستان کې نه حکومت وو ، نه بانکي غونډال ، زمردو بيا هم نړيوال بازار ته لار پيدا کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه مهال یوه پولبندۍ کمپنۍ اوس هم شتون لري ، خو مالومه نه ده ، چې دغه کمپنۍ له محمدي او د افغانستان له نوي حکومت سره څه ډول اړېکي لري . اړینه ده وويل شي ، چې په افغانستان کې د زمردو کورنی ( دننني ) بازار اوس هم د پخوا په څېر خپلو دودونو ته دوام ورکوي ، او دغه دودونه د ولسمشر حامد کرزي د حکومت له هغو یا دغو وټندویو پرېکړو څخه په خپلواک ډول شتون لري . د زمردو بیې او نرخونه د ځانګیزو کسانو د شورا ، چې له افغان سوداګرو او ځايي چارواکیو له استازیو جوړه ده ، له خوا ټاکل کیږي . رانیوونکي ولایتي حکومت ته لس سلنه د مالیې په نامه ورکوي . تر هغو چې مالیه تحویل شوې نه وي ، ډبرې له دولتي ساتنځي څخه د باندې نه ایستل کیږي . محمدي نیت لري ، چې د خپل کار پولې نورې هم پراخې کړي . دی پلان لري ، چې د ۲۰۰۳ زکال په منې کې د افغانستان په تاریخ کې د قیمتي ډبرو لومړنی نندراتون په کابل کې جوړ کړي . داسې انتظار کیږي ، چې له ټولې نړۍ څخه به سوداګر دغه نندارتون ته ورشي او د هندوکش دغه قیمتي خزانه او غنا به وګوري . [...]

د خبر نېټه : ۲۰۰۲ / ۱۰ / ۱۲ او ۱۷ نېټې

د «یورا اسیا» نېټ اوبپانه ، نیوز ټکی ایران ټکی رو اوبپانه . (۵۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وتې جګړه

## د قيمتي ډبرو زور

د مسکو د ځمکپوهنې د کشفياتو دولتي پوهنتون استاد پروفيسر " ګيورګي پيليپېنکو " ، چې پر ۱۹۸۰ يمو کلونو په کابل کې استاد وو ، وايي ، چې همدغه د پنجشېر زمرد ول ، چې ډګري بولندوی احمد شاه مسعود ته يې دا شونتيا ورکړه ، چې خپل اردو جوړ کړي ، او د هېواد په تر ټولو ډېرو اغېزمنو ځواکونو په کتار کې يې ودروي.

کنستانتين روژنوف، د ۲۰۰۴ ز کال د ډيسمبر ۱۲، پنجشنبه.

د بي بي سي راډيو د روسي څانګې اوبپاڼه. (۵۹)

## د «پنجشېر زمري» په سوړه کې

[...] له مسعود سره شوروي پوځونو ۹ کاله جګړې کړې دي . [...] خو نن ورځ شوروي پوځي ټولګي د ده مېلمانه دي. تر دې ، چې ان د ده له ټټې نه هم سړی کار اخيستلای شي ، چای څښلی شي ، د ده ورزشي تمرينوونکی کتلای شي.

شاوخوا کورونه دي ، " مسعوديان " خپل ژوند لري. ښځې نشته ، کله کله کومه يوه نيمه چېرته وړاندې د انسان تر نظر تېره شي. کورنی ژوند نشته: لکه څاروي ، کتمن ، يوم او داسې نور. ټول وسله وال دي ، لکه ټول چې نوکريوالان وي. وخت ناوخته له پنډغالي ( کمپ ) څخه له جنګيالانو ډک موټر راووزي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې فکر لپاره دا سې کومو غټو مغزو ته هم اړېزه نشته ، چې سړی پوه شي ، چې دوی په سالنګ کې څه ډول کمين نيوه . د دوی د هغه مهال د کار پايلې اوس هم مالومې دي ؛ د دوی له خوا ويشتل شوې شوبلې ، زغره وال ګاډي او نور له منځه تللی تخنيک اوس هم د سړک غاړو ته نږدې ، د مړينې سړک ، د مرګ لارې ته نږدې پروت دی .

زه دا پوښتنه نه کوم ، چې دی خپل اردو په څه شي ساتي . احمد شاه د افغانستان يو تر ټولو ډېرو شتمنو کسانو څخه دی ، او کېدای شي ، چې د ټول منځني ختيځ يو له ډېرو شتمنو خلکو څخه وي . دی د قيمتي ډبرو د را ايستلو او له هغوی سره د ټولو تړليو چارو خاوند دی . دی دغه قيمتي ډبرې د لوېديځې اروپا هېوادو او امريکا متحده ايالاتو د زرګرۍ پر مخکښو کمپنيو پلوري . په دې کار سره دی زښتې ډېرې پيسې تر لاسه کوي . [...]

د «اګانيوک» مجله، ۱۹۹۲ ز کال (۲۰)

# هانزه او بالتيک

[...] زموږ په زمانه کې د ځاني ( شخصي ) اردو په لړلو سره هيڅوک هېښولای نه شي . هغوی نن ورځ په پراخه پيمانه کارېږي ، لکه د لاتيني امريکا د نښه يي توکيو سوداګر ، د برما ، ميانما ، لاوس ، تايلنډ زرين مثلث ځاني اردوګان لري . همدا راز په افغانستان کې د احمد شاه مسعود اردو هم د ځاني اردوګانو په شمېر کې راتلای شي . دی خپل دغه اردو د قيمتي ډبرو ، په تېره بيا د لاجوردو د را ايستلو او سوداګرۍ له برکته ساتي . [...]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښفګېني کیسېلېف

د «کومي. نارود» اوبپاڼه. (۲۱)

# د غمیو کسټ

د یاقوتو (لعلونو) ، زمردو او شنو یاقوتو یوه جوپه ، په دې ورځو کې د مسکو ښاري څارندویو له اقتصادي جرمونو سره د مبارزې د ادارې کارکوونکیو له خوا په داسې حال کې ونیول شوه ، چې د دغې جوپې لېږدوونکي غوښتل وې پلوري. دغه قیمتي ډبرې او غمي د افغانستان په خاوره کې له هغو کانونو څخه راایستل شوې ، چې له احمد شاه مسعود سره یې تړاو درلود .

د مسکوفسکي کامسومولېڅ ورځپاڼه خبر راکوي چې د دغو قیمتي ډبرو خاوند ۳۵ کلن تاجک دی ؛ اوپراتیفي کارکوونکیو دی تر تعقیب لاندې نیولی او هغه مهال یې ونیو ، کله چې یې غوښتل د خپلو قیمتي ډبرو دغې جوپې ته سوداګر پیدا کړي . له اقتصادي جرمونو سره د مبارزې کارکوونکیو ، د جنایتکارو قاچاقي سوداګرو په بڼه ( تر پوښښ لاندې ) روسیې ته له راغلیو کسانو سره پېژندګلوي وکړه. د دې لپاره چې هر څه سم او طبیعي وي ، نو یې د پلازمېنې د شمالي حوزې د زرګرۍ په یوه هټۍ کې د قیمتي ډبرو د پېرودلو لپاره له پلورونکیو سره د لیدنې کتنې مهال وټاکه. چارپوهان ، چې د زرګرانو او قیمتي ډبرو د رانیونکو رول یې لوباوه ، د یاقوتو او شنو یاقوتو ځلا ، پوره رنګ او سوچه توب ډېر هېښ کړل. له پلورونکي څخه پوښتنه وشوه ، چې دغه قیمتي ډبرې یې له کومه کړې ؟ هغه په ځواب کې له افغانانو سره پر اړیکو ویاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثرگند کړ. ده وویل ، چې دا ډول قیمتي ډبرې یوازې له هغو کانونو څخه را ایستل کیږي ، چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې په احمد شاه مسعود پورې اړه درلوده.

تاجک ژمنه وکړه ، چې پر راتلونکي مهال به پر له پسې دا ډول قیمتي کاڼي راوړي. ده وویل ، چې کولای شي په کال کې د یو میلیون ډالرو په بیه قیمتي ډبرې راورسوي. ده د ډبرو پېرودونکو باندې دومره ډېر باور وکړ ، چې ان د دغو ډبرو د رالېږدولو لار یې هم ورته تشریح کړه ، چې دوی په څه ډول وکولای شول دغه ډبرې راوړي. مالومه شوه ، چې دوی قیمتي ډبرې په ویډیویي کسټ کې دننه پټې کړې وې. د کسټ په دننه کې ورته ځانګړی ځای جوړ شوی وو.

۲۹ / ۴ / ۲۰۰۵

د «ډبلیو. پي. اېس» اژانس اوبپاڼه. (۲۲)

# له پوتین او کرزي سره به ژوندی مسعود مرسته وکړي

د افغانستان د لنډمهاله اداري مشر حامد کرزی مسکو ته راورسېد. د روسیې د باندینیو چارو مرستیال وزیر " الېکساندر لوسیوکوف " پرون د دغه سفر وړاندوینه په دې ډول وکړه : " زموږ په تیاره ماضي ( موخه یې پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد یرغل او په افغانستان کې د شوروي پوځونو شتون دی. ل ) باندې اړیکي نه جوړیږي. اړینه ده زموږ ښه ماضي هم په یاد شي ، د هغو لسګونو کلونو همکاري او دوه اړخیز اړیکي ، چې د شلمې پېړۍ پر شلمو کلونو پیل او د اویایمو کلونو تر پایه یې پایښنه درلوده. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی کرزی د روسيې پلازمېنې ته ماښام د يو ګڼ شمېره پلاوي په سر کې ، چې په تشکيل کې يې يو تر ټولو ډېر د پام وړ شخصيت احمد ضياء مسعود هم شامل وو ، راورسېد . د نيم کال مخکې وژل شوي احمد شاه مسعود کشر ورور احمد ضيا مسعود به اوس په مسکو کې د افغانستان سفير وي. دی **۴۵** کلن دی . دا دده لومړنۍ ديپلوماتيکه دنده ده. ضيا مسعود پخوا ډېر مهال په لندن کې تېراوه او هلته يې د افغان قيمتي ډبرو سوداګري کوله. د قيمتي ډبرو سوداګري د افغانستان د شمالي ټلوالې ، چې د ده ورور يې مشري کوله ، لپاره يوه له ډېرو لويو مالي سرچينو څخه وه. نوی سفير په پرانسي ( فرانسي ) ژبه پوهيږي او ان روسي ژبه يې هم لږ لږ په ياد کې پاتې ده. روسي ژبه يې د کابل په پوليتخنيک انستيتوت کې د زده کړيالۍ پر کلونو زده کړې وه. [...]

ارکادي دوبنوف

د «ورېميه نووستی» ورځپاڼه، د ۲۰۰۲ ز کال د مارچ ۱۲، ۴۲ ګڼه. (۲۳)

# د کرزي لپاره ډانګورۍ

[...] افغانستان د قيمتي او توږل کېدونکيو ډبرو له پلوه ډېر شتمن دی : د افغانستان د سرسنګ په څېر لاجورد د فرعونانو په قبرونو او د " توري " په کېندنو کې موندل شوی وو . له دغو لاجوردو څخه جوړه شوې ګاڼه لوړترينه درجه لري. په پنجشېر کې د زمردو د را ايستنې ځای ، چې پر اويايمو زېږدي کلونو کشف شوی وو ، د نړۍ يو له لويو زمردي ځايونو څخه دی. دغه زمرد د ځرنګوالي ( کيفيت ) له پلوه هم د کولمبيا له نامتو زمردو څخه کم نه دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجشېر زمرد د احمد شاه مسعود ، چې پنجشېر یې تر څارنې لاندې وو ، لپاره یوه لویه او بنسټیزه مالي سرچینه وه . لکه څنګه چې ویل کېږي ، نږدې د ده د ټولو بریاوو بنسټیز لامل همدغه زمرد ول . مسعود دا شونتیا درلوده ، چې په شوروي پلوه کابل کې جګپوړي مامورین په پیسو خپل کړي او د ده پر وړاندې له چمتو کېدونکیو عملیاتو څخه مخکې له مخکې خبر شي . له کابل نه ختیځ لور ته د پېګماتیتو کان پیدا شو ، چې له لعلونو ( یاقوتو ) ، بیریلو ، او ډېرو کمپېبنو قیمتي کاڼو سپودومینو او ګیدېنیتو نه ډېر شتمن وو . د مسکو د ځمکپوهنې د کشفیاتو پوهنتون پروفیسر " ګیورګي پیلیپېنکو " ، چې ډېر کلونه یې په افغانستان کې کار کړی ، مجلې ته په مرکه کې وویل ، ارزښتناکه داده ، چې د پیګماتیتو دغه سیمه د لیتیومو ، بیریلیومو ، تنتالیومو او نیوبیومو ډېره شتمنه سرچینه ده . له دغو فلزاتو پرته اوسنۍ تکنالوجي نه شي کولای چې وده وکړي ، له الوتکې جوړولو نیولې تر اټومي انرجۍ پورې . نن ورځ په بازار کې یو کیلوګرام بیریلیوم ۱۵۰ ډالره قیمت لري . د پروفیسر په وینا ، افغاني زېرمه یې څه د پاسه ۷۳۵۰۰ درې اویا زره پېنځه سوه ټنو ته رسیږي . دا په نړۍ کې د زېرمو په اړه تر ټولو لوی کشفي مالومات دي . [...]

بفګېني پاخوموف

۲۰۰۳ / ۴ / ۲۹ ، اوونیزه مجله ، ۲۷ ګڼه . (۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیاوړتیا زېرمه

[...] «یگر ولادیمیروویچ» د پنجشېر په دره کې عملیاتو په اړه مفصل بیان وکړ ، هغه عملیات چې د ځلوېښتم اردو د بولندوي له خوا یې د ۱۹۸۴ ز کال د اپرېل له پیله د اگست تر پایه دوام درلود . د دغو عملیاتو بنسټیزه دنده د نامتو ډگري بولندوی احمد شاه مسعود د بانډ ایستل او له منځه وړل وو . دی په پنجشېر کې واکمن وو ، ځواک یې درلود ، د قیمتي ډبرو د را ایستلو سیمه یې تر لاس لاندې وه ، پیسې یې هم درلودې . ده ان لا پر ۱۹۷۹ ز کال په پنجشېر کې ښه کلکه دفاعي سیمه جوړه کړه . له دغې سیمې څخه د ده جنگیالانو په ډېرې ښېړې او اوپراتیفي ډول پر افغان حکومتي او شوروي پوځونو بریدونه کول. [...]

ولادیمیر گوندوسوف

د «دمیتري سمیرنوف» په نامه نړیوالې پروژې اوبپانه. (۲۵)

# خاورو ته د مسعود سپارل د ده د وژنې پخلی کوي

[...] احمد شاه مسعود د خپل ځان پر شاوخوا طالب ضد شمالي ټلواله راټوله کړې ، چې اصلي شمزۍ یې له توکمیز پلوه له تاجکو جوړه ده . د ده له مړینې وروسته د شمالي ټلوالې یووالی تر گواښ لاندې راغی . د طالب ضد ټلوالې په منځ کې به هرو مرو اختلافونه راپیدا شي ، اختلافونه هم د هغو مالي سرچینو پرسر ، چې د مسعود تر څارنې لاندې وې . مسعود د خپلو پلویانو لپاره په افغانستان کې د ژوند تر ټولو لوړه کچه سمبال کړې ده . ده د خپلې جگړې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې په ټوله کې د زمردو او د بدخشان د لاجوردو له پلور څخه تر لاسه کولې. ده په اسانۍ سره د پرانسي کالج د پخوانیو اړیکو له لارې د افغاني قیمتي ډبرو لپاره پېرودونکي پیدا کړي ول. [...]

اولگه نیکوشکینه

د «کومېرسانت» ورځپاڼه، د ۲۰۰۱ / ۹ / ۱۷ نېټې (۲۲۹۸) ۱۲۸ گڼه. (۲۶)

# د پنجشیر شپږم زمری

[...] د پنجشېر وټه هغه زمرد او لاجورد دي ، چې را ایستل کیږي. زرغونې او شنې ډبرې د مسعود لپاره ستراتېجیکي توکي ول. دغو قیمتي ډبرو ده ته دا شونتیا ورکړه ، چې پرله پسې او دایمي عاید ولري ، د دې لپاره چې وکولای شي وسله رانیسي او خپلو مجاهدینو ته ترې ښه معاشونه ورکړي. همدا راز " په سره کابل " کې جگپوړي مامورین پرې رانیسي. د دغو جگپوړیو مامورینو له برکته د پنجشېر خاوند له هغو عملیاتو مخکې له مخکې خبرېده ، چې د ده پرضد به چمتو کېدل. [...]

پاول بفداکیموف

د «سپېڅناز راسیي» خپرونه، د ۲۰۰۱ ز کال نوامبر، (۲۲) ۱۱ گڼه، برېښنایی بڼه. (۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طالبان د همګټو هېوادو په پوله کې

د افغان پوځ محدود ټولګي د روسيې پولې ته نږدې شوي دي

طالبان بدخشان ته ننوتل

[...] د مسعود په خاوره [ پنجشېر . ژ ] کې د زمردو کانونه شتون لري ، چې په افغانستان کې يې په اړه ډېرې هيبتناکې کيسې خپرې دي . د لوېديځو کارپوهانو د ارزونو له مخې ، د زمردو صادرات مسعود ته په کال کې په سلګونه ميليونه ډالر عايد ورکوي. د تاجک ډګري بولندويانو د عايد بله لويه سرچينه د نېشه يي توکيو سوداګري ګڼل کيږي.

پېټر ګامبلين

د «کومبرسانت» ورځپاڼه، د ۱/۳/۱۹۹۷ ، نېټې (۱۲۰۴) ۲۲ ګڼه. (۲۸)

# د شاه مسعود کانونه

پر احمد شاه مسعود باندې د برې نه موندلو راز يوازې په ښه جګړه کولو کې نه دی، بلکې د زمردو په کانونو کې هم دی.

(له پنجشېر څخه د «يتوګي» اونيزې مجلې د خبريال راپورتاژ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قيمتي غرونه:

دلته لومړنی زمرد ۲۵ کاله پخوا په تصادفي ډول د محمد نګين په نامه يو سړي موندلی وو ، چې وروسته يې شاوخوا سيمه کېندلې وه ، نو يې د زمردي کانو يوه شېندل شوې کوټه موندلې وه . خلک وايي ، چې دی بيا ميليونر شو . د زمردو د سيمې جوړلو او را ايستلو ته د چمتو کولو کار لا هغه مهال پيل شوی وو ، مخکې له دې چې افغانستان د تل جګړه کوونکي دولت پر سمبول بدل شي ، ياني د داود د واکمنۍ پر مهال . پر راتلونکي لنډ مهال شوروي ځمکپوهان دلته راغلل ، خو د دغو ځايونو کوټلی کشف سرته ونه رسېد ، ځکه چې ځمکپوهان ولاړل او پر ځای يې شوروي سرتېري راغلل . جګړه پيل شوه .

زمرد د پنجشېر درې د خاوند احمد شاه لپاره يوه لويه او ارزښتناکه مرسته شوه . زمردو ده ته دا شونتيا ورکړه ، چې يو تلپاتې عايد ولري ، د دې لپاره چې وکولای شي وسله پرې رانيسي ، خپلو مجاهدينو ته ښه معاشونه ورکړي ، په شوروي پلوه کابل کې جګپوړي ماموران او افسران پرې رانيسي ، ځکه خو دی ډېری مهال له ټولو هغو عملياتو څخه مخکې له مخکې خبرېده ، چې د ده پرضد به چمتو کېدل .

زمردو د پنجشېر نبستمنه دره چې افغان تاجکان پکې مېشت دي، پر ميني دولت [ کوشني دولت . ژ ] بدله کړه ، چې خپله وټه او نړيوال اړېکي يې درلودل . له شوروي اردو سره د جګړې پر مهال ، زمرد د غابښيو ( کوټلونو ) له لارې پاکستان ته تلل . مسعود له پاکستاني ، هندي ، اروپايي او امريکايي هغو کمپنيو سره اړېکي ټينګ کړي ، چې د زرګرۍ کارونه او معاملې کوي . د زمردو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د را ایستلو ځایونه د درې لپاره یو پوځي راز دی. نوي کانونه ډېر پټ ساتل کېدل. د دې لپاره چې له هوا څخه ونه لیدل شي ، ډېری مهال د زمردو د را ایستلو کارونه د شپې ترسره کېدل. شوروي بولندویانو څو واره هڅې وکړې ، چې په سیمه کې یې دیسانت ښکته کړي ، چې مجاهدین له قیمتې خزانې څخه لرې کړي ، خو دا کار یې ونه شو کړای.

د احمد شاه تر لاس لاندې خاوره یوازې په زمردو شتمنه نه ده. د افغانستان په شمال ، بدخشان کې لا نامتو افغاني لاجورد هم را ایستل کیږي. افغاني لاجورد ډېر ښه تېینګ شین رنګ لري ، چې د زرین رنګه پیریت بخري هم پکې وي ، او داسې ښکاري لکه په شنه هسک کې چې زرین ستوري ځلیږي . د لاجوردو صادرات هم عایدات ورکوي ، خو بهر ته د درغلۍ ( جعلي ) ډېرې ایستل ستونزمن کار دی: دا دومره قیمتنه نه دی ، لکه زمرد ، له پولې نه بهر لېږلو ته یې لېږدوونکي ډېر دي ، چې د ځرمنې کوشنۍ کڅوړه ورسره وي. [...]

دا چې زمرد احمد شاه ته څومره عاید ورکوي ، څوک څه نه وایي ، دا یو راز دی. مسعود له پرانسې ورځپاڼې " لیبېراسون " سره په مرکه کې وویل ، چې " عایدات یې له طالبانو سره بریمنې جګړې لپاره بسنه کوي. " د عربي رسنیو د مالوماتو له مخې ، د پنجشېر زمرې په کال کې تر شپېتو میلیونو ډالرو پورې عاید تر لاسه کوي. د نورو مالوماتو له مخې د ده عاید تر دې هم ډېر دی ، یانې څوسوو میلیونو ډالرو ته رسیږي. د دغو عایداتو لویه برخه پر جګړه لګیږي. پاکستاني رسنۍ وایي چې ، د طالبانو غورځنګ یوازې په دې کال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود پرضد پر جګړه ییزو عملیاتو اتیا میلیونه ډالر لګولي. فکر نه کېږي ، چې د مسعود لګښتونه دې تر دې کم وي.

نن ورځ د زمردو کانونه د مجاهدینو د ځانګړیو وسله والو ډلو له خوا ساتل کېږي. دغو کانونو ته بهرنیان دومره نه ورپرېږدي. د مسعود مرستندوی ښاغلي داود پنجشېري وویل ، دا لومړی ځل دی ، چې یو روسي رسنوال ته د نوموړیو کانونو د لیدنې اجازه کارت ورکوي.

د خینج کلی د پنجشېر سیند پر غاړه دی ، شاوخوا ترې د زمردو کان لرونکي غرونه راتاو دي. د سیند پر غاړه یوائینی اوم ( خام ) سړک تېر شوی. نور " زمردي " کلي لکه اومرز ، سفي چیر ، دشت ریات ، چې نومونه یې د پنجشېر د هر کوشني هلک په یادو زده دي ، له مرکزي لارې څخه ګوښه پراته دي ، ځکه خو خینج د قیمتي صنعت منځی ګڼل کېږي. دلته د کانونو د چارو د کومپټې مشر ښاغلي نعمت الله ، چې د مسعود تر ادارې لاندې کار کوي ، وویل چې ځینې کانونه پر کال تر شلو زرو کیراتو ( قیراطو ) پورې زمرد راکوي.

نعمت الله وایي ، چې دا قسمت دی. دی د خپلې کومپټې په ډېره غریبه کوټه کې پر غالۍ ناست دی. څوک سملاسي ډېرې ډېرې مومي ، خو یو بل څوک بیا بشپړ کال یا یو نیم کال کار کوي ، خو هیڅ هم لاس ته نه ورځي ... هر څه د الله پاک په رضا کېږي.

دا ډبرې په ټوله کې کوشنۍ دي ، خو بیا هم ، لکه څنګه چې د دې سیمې اوسېدونکو وویل ، کله کله سترې ډبرې هم پیدا کېږي. " یو سړي یوه قیمتي ډبره ومونده ، چې درې سوه کیراته وه. " د دې ځای د زمردو څرنګوالی ډېر لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ، ځکه خو یې ډېر ښه پېږي . اوسمهال د خینج پر شاوخوا ۱۱۰ یوسلو لس کانونه فعال دي ، چې نږدې ۱۵۰۰ یو زر او پېنځه سوه کسان پکې کار کوي.

په ځايي چايخانه [ سماوات. ژ ] کې موږ د [زمردي. ژ ] ډېرو د څرنګوالي پر سر د ژوندي بحث شاهدان شو ، چې له کانه یې راوړې وې . هر څه پرته له شور ماشوره ، چې په دوديز ډول د سيمه ييزو بازارونو ځانګړنه ده ، ترسره کېدل. احساسېدل ، چې د معاملې ټول برخه وال له پخوا يو بل ښه پېژني. قيمتي ډبرې په عادي فلزي تالۍ ( کاسه ) کې راوړل شوې وې. کله چې زمرد په ځانګړې تله کې وتلل شول ، نو سوداګر سبحان الله په بې پروايي وويل: " دا د دېرشو زرو ډالرو دي ".

د کانونو چارو په رياست کې وويل شول ، چې د پنجشېر هر اوسېدونکی کولای شي ، د ځان لپاره يو کوشنی ځای غوره کړي ، د کرښې په ايستلو يا مېږويو پر ټک وهلو سره يې په نښه کړي ، ټاکلې اندازه پيسې تحويل کړي ، وروسته له دې کولای شي ، د زمردو د را ايستلو لپاره په هماغه خپل ځای کې پر کېندنو پيل وکړي. د ټولو را ايستل شويو زمردو په سلو کې لس سلنه بايد د مسعود دوتر ( دفتر ) ته ورکړي. پاتې زمرد کولای شي ، چې د ځان لپاره وپلوري. د کانونو په کېندونکيو کې داسې کسان ډېر لږ دي ، چې له پولې نه بهر اړېکې ولري. په خينج کې ګڼ شمېر منځګړي سوداګر اوسي ، چې يو يې هم سبحان الله دی. دوی احمد شاه ته ماليه ورکوي. د مسعود له اجازې پرته يو زمرد هم بهر ته نه شي لېږدول کېدای. پخوا دا ډبرې ګاونډي پاکستان ته لېږدول کېدې. اوس چې پاکستان د طالبانو ملاتړ کوي ، په خينج کې د زرغونو ډبرو په بازار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون راغلی ، ځکه چې مسعود پر اسلام اباد باندې د قیمتي ډبرو پلور بند کړ. اوس د دې ډبرو ټول کار و بار کوونکي ، د مسعود په ګډون ، نوي اړیکي او بهر ته د هغوی د لېږد نوې لارې لټوي. سبحان الله پر ما باندې د پوښتنو باران جوړ کړ ، همدا پوښتي ، چې په روسیه کې د زمردو نرخونه څه ډول دي.

د قیمتي ډبرو د کېندنو او پلور کاروبار کوونکي ډېرې کسان چې پیسې وګټي ، بیا نو له هېواده بهر ته ځي. ډېرې یې اوس په امریکا متحده ایالاتو ، لویه بریتانیا ، هالېنډ او نورو هېوادو کې ژوند کوي.

د خینج په سیمه کې د ژوند ځانګړتیاوې پر انسان اغېز ښندي. د کان یو کارکوونکي ماته سر ټکاوه او ویې ویل : " نه شم کولای ، چې واده وکړم. د افغانستان په نورو سیمو کې ولور څلور سوه ډالره دی ، خو دلته په خینج کې څو زرو ته رسیږي. !»

## د زرغونو ډبرو د را ایستنې بې نظمه ډله ییز کار:

ګهیځ وختي په بازار کې کار له جوش او خروش سره پیلیږي. لنډمهاله کورونو او خېمو ته نږدې شور ماشور وي. دلته هاغه د ښکته په څېر زړه تنګې څېرې ، چې له بېکارۍ د خپل کور انګړ ته نږدې ناست وي ، نه لیدل کیږي.

ماته یوه نوي پېژند ګلوي عبدالرحیب ، چې یو مهال یې په مسکو کې د جراحۍ په څانګه کې زده کړې کړې وې ، په روسي ژبه وویل: " کله چې میلیونر شوم نو بیا امریکا ته ځم. " د ده د بریګاد ( ډلې ) ټول کان کېندونکې او کارګران دا ارمان لري ، چې ډېرې پیسې وګټې او له افغانستانه بهر ته ولاړ شي. درې کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي چې عبدالرحیب دلته کار کوي. ما پوښتنه ترې وکړه: "په دې دریو کلونو کې دې ډېرې پیسې ګټلې؟" "تراوسه مې دومره نه دي ګټلې.. "

دود او دستور دلته ډېر وچ او سخت دی. پخپله د کان کارګرانو کیسه وکړه، چې د ښه او ګټور ځای پر سر کوټلي ټکرونه او جګړې هم پېښیږي. ټولې موندل شوې ډبرې سملاسي ښکته لېږدول کیږي: "د دې لپاره، چې هغه د چا خبره د کوم چا زړه خاربښت ورته ونه کړي. دلته هر ډول پېښې پېښیږي.."

کار یې زښت ډېر درووند او سخت دی. کان کېندونکي د لویو څټکونو په واسطه د غره په ډډه کې لومړی سوړه جوړوي، بیا په دغه سوړه کې ډینامیت ږدي او چاودوي یې. له چاودنې وروسته د ماتو شویو ډبرو ټوټې په کره ډول او پام سره ګوري، چې چېرته پکې زرغون پړکی ځلیږي او که نه. کارپوهان د کانې توکیو دا ډول را ایستنه د داړه ماری او بربریت طریقه بولي، ځکه چې چاودنې زمرد خرابوي او ټوټې کوي یې. خو دلته د قیمتي ډبرو د را ایستنې لپاره او سمهاله (عصري) وسایل نشته. د بې خطرۍ او احتیاط کارۍ تخنیک تر تولو ډېر لومړنی (ابتدایي) دی. [...]

مخکې له دې چې کان ته ورښکته شم، د ډلې مشر محمد سلیم زه دې ته اړ ایستلم، چې خپل سر پر افغاني دسمال وتړم، له سره یې راتاو کړم، خوله او پزه هم وتړم (مول ووهم). کان څه د پاسه ۸۰ اتیا متره ژور وو. که یو څوک یو ځلي دغه واټن په خاپوړو ووهي، بیا به زما پر حال هم پوه شي. دا له اره یوه ژوره سوړه وه، چې لاندې په تل کې یې د خاورو تېلي څراغ په رڼا سره څو کسانو هغه ډبرې په کره ډول کتلې، چې له چاودنې وروسته رالوېدلې او له غره څخه راجلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وې . " شورویه ته بختور يې ، تا وکړای شول ، له نږدې يې ووينې ، چې زمرد څه ډول لاس ته راځي ! " د يوه په ورغوي کې ځو زرغونې کوشنۍ ټوټې پرتې وې. لنډه دا چې ماته يې وويل ، چې دا دومره قيمت نه لري. [...]

ېفگېني پاخوموف

تالقان-پنجشېر-خينج

د «يتوگي» اوونيزه مجله، د **۱۹۹۹** ز کال د اکتوبر **۵**، ۴۰ (**۱۷۵**) گڼه، **۴۵-۴۸** مخونه. (**۶۹**)

# د مړينې سوداگر

[...] د ځينو مالوماتو له مخې، د شمالي ټلوالې مشر احمد شاه مسعود د وسلې رانيولو او ده ته د ور رسولو په بدل کې «ويکتور بوت» ته زمرد ورکول. [...]

نادېژدا بانچيک

د «واستوک او زاپد» اوبپاڼه ، **۲۰۰۸/۱۰/۳** ، (**۷۰**)

# «ويکتور اناتولېويچ بوت» د وسلو او مړينې سوداگر

«ويکتور اناتولېويچ بوت» د **۱۹۶۷** ز کال د جنوري پر **۱۳** د تاجکستان په دوشنبې ښار کې زېږېدلی دی. دی [د وسلو . ژ] يو سوداگر او د روسيې تبعه دی . «بوت» په نيويارک کې د نياوتون ( محکمې ) له خوا د وسلې په ناقانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګرۍ ، د امریکا متحده ایالاتو د اتباعو په وژنه ، د کولمبیا د انقلابي وسله والو ځواکونو او د ولسي اردو د ملاتړ له لارې د توغندیو پر پلور او له دې لارې له ترهګرۍ نه د ملاتړ په تور تورن شوی دی. دی په رسنیو کې " د وسلو او مړینې سوداګر " په نامه یادیږي. د ۲۰۱۲ ز کال د اپرېل پر ۵ د نیویارک فدرالي نیاوتون " بوت " پر ۲۵ کاله بند محکوم کړ.

"ویکتور بوت " په ښوونځي کې الماني ژبه زده کوله. وروسته یې د کازان په پوځي ښوونځي کې زده کړې وکړې. پر ۱۹۸۵ ز کال یې هڅه وکړه ، چې د مسکو د نړیوالو اړیکو په انستیتوت کې شامل شي ، خو ویې نه شو کړای. وروسته له دې پوځي خدمت ته جلب شو ، پوځي بېړنی خدمت یې په " زاکارپاتیا" کې ترسره کړ. پر ۱۹۸۷ ز کال له ترخیصېدو وروسته د شوروي اتحاد د دفاع وزارت په سره نښان لرونکي پوځي انستیتوت کې شامل شو. د دغه انستیتوت له پای ته رسولو وروسته یې پر ۱۹۸۹ - ۱۹۹۱ ز کلونو د " ویتېبر " د پوځي هوایي ترانسپورت په غونډ کې د ژباړن په توګه دنده درلوده ؛ څو څو ځله یې د انګولا او نورو افریقایي هېوادو له پاسه الوتنیزې دندې ترسره کړې دي. پر ۱۹۸۹ – ۱۹۹۰ ز کلونو په موزمبیق کې د شوروي پوځي ماموریت ژباړن وو.

پر ۱۹۹۱ ز کال یې خپل لومړنی شرکت پرانیست او د هوایي سامان الاتو د پلور منځګړی وو. پر ۱۹۹۲ ز کال د سویلي افریقا جمهوریت ته ولاړ او هلته د توکیو په هوایي ترانسپورتي چارو کې بوخت شو. ده له ورځپاڼې سره په یوه مرکه کې په دې ټینګار کړی وو ، چې له ۱۹۹۳ ز کاله په عربي متحده اماراتو کې اوسېده ، خو " هیڅ مهال یې دا هڅه نه ده کړې ، چې له روسیې څخه بهر ته کډوال شي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده کمپنۍ د " شارجي " په هوايي ډګر کې د ګلونو ، کور سامان ، پوځي قانوني پېښېو ، همدا راز د پرانسي او بېلجمي سوله ساتو پوځیانو پر لېږدولو بوخته وه . پر ۱۹۹۲ ز کال يې مالېزيا ته روسۍ جګړه ييزې - يرغليزې الوتکې لېږدولې .

د ۱۹۹۰ يمو کلونو په نيمايي کې د لومړي ځل لپاره په رسنيو کې دا خبرونه خپاره شول ، چې " ويکتور بوت " د نورې سوداګرۍ په څنګ کې ، په ناقانونه توګه پر هغو هېوادو وسله پلوري ، چې نړيوال بنديز پرې لګېدلی دی . د وسلو د رانيونکو حکومتونو او چيريکي وسله والو ډلو په شمېر کې دا هېوادونه راغلي ول ، لکه افغانستان ، انګولا ، توګو ، رواندا ، لايبيريا ، سېراليون ، د طالبانو غورځنګ ، او القاعده . د دغو اټکلونو بنه دليل د الوتکو د پيلوټانو شاهدي وه ، چې هغه پېښې چې دوی به لېږداوه تل به په ډېرو کلکو صندقونو کې خوندي شوی وو . په روسي رسنيو کې داسې اټکلونه څرګند بدل ، چې بنايي " بوت " د روسيې د وسلې جوړولو موسسې يو داسې پټ استازی وي ، چې وسله په خپل نامه پر بهرنيو هېوادو پلوري ، او بنايي چې دی د روسيې فدراسيون يو له ډېرو پټو راز لرونکيو کسانو څخه هم وي .

" بوت " پر ۱۹۹۵ ز کال د روسيې د هغې " يل - ۷۶ " ډوله الوتکې او د هغې د پرسونل د راخلاصولو په خبرو اترو کې برخه درلوده ، چې په افغانستان کې نيول شوې وه . [ په دې اړه په دې کتاب کې د ( له کندهاره تېښته ) ليکنه کې مفصل بيان راغلی دی . ژ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ۱۹۹۵-۱۹۹۸ ز کلونو یې له بېلجیم څخه خپله سوداګري کوله، خو لکه څنګه چې پر دې مهال د ده په اړه د حقوق ساتونکو اورګانونو له خوا پلټنې پیل شوې ، نو دی هم دې ته اړوت چې عربی متحده اماراتو ته ولاړ شي . د ده د هوایي کمپنۍ ، چې (Air Cess Liberia ) نومېږي او د نړۍ په بېلابېلو هېوادو کې څه د پاسه ۵۰ الوتکې لري ، دوتر ( دفتر ) په عربي متحده امارتو کې دی.

" ویکتور بوت " د وسلې او مهماتو د ناقانونه سوداګرۍ او د ملګرو ملتو سازمان د بندیزونو د په پام کې نه نیولو په تړاو ، د ملګرو ملتو د امنیت شورا د ۲۰۰۰ ز کال ، د (Amnesty International ) سازمان د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۲ ز کلونو ، او د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په رپوټونو کې یاد شوی دی.

د دې پر څنګ د " ویکتور بوت " کمپنۍ یا هم د ده تر څارنې لاندې کمپنۍ ، له ۲۰۰۳ ز کاله راهیسې په عراق کې امریکایي پوځیان له مادي پلوه سمبالول.

د ۲۰۱۱ ز کال په نوامبر کې ، په ترېپولي کې د لېبیا د کشف او بهرنۍ څارګرۍ په مرکزي دوتر کې داسې لاسوندونه موندل شوي ، چې په هغو کې پر ۲۰۰۳ ز کال د لېبیا له جګپوړیو مامورینو سره د " بوت " اړیکي بربنډوي.

نوموړی پخپله د نړۍ د ډېرو سرو ( تودو ) سیمو ته د وسلې د لېږدولو په اړه منښته ( اعتراف ) کوي ، خو د وسلې سوداګري ردوي. ده پخپله داسې څرګنده کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د هوا له لارې د انګولا ، کانګو ، برازیل او رواندا ، همدا راز په افغانستان کې د رباني حکومت ته هغه مهال، کله چې له طالبانو سره جګړه روانه وه، وسله لیږدولې ده. خو د وسلې د پېر او پلور کار مې نه دی کړی.

پر ۲۰۰۱ ز کال پر ده باندې د خلکو د شکونو د زیاتېدو لامله "بوت" دې ته اړ وت ، چې له عربي متحده اماراتو څخه ووزي . پر ۲۰۰۲ ز کال بېلجیم له لوېدیځو هېوادو څخه لومړنی هېواد وو ، چې دی یې د الماسو پر قاچاق او له ناقانونه لارې څخه د نږدې ۳۰۰ میلونو ډالرو په تر لاسه کولو باندې تورن کړ او دی یې په نړیواله پلټنه کې اعلان کړ. نوموړی په داسې حال کې ، چې له نیول کېدو څخه ډارېده ، پر ۲۰۰۲ ز کال په روسیه کې مېشت شو ؛ هغه یې کوله ، چې بهر ته ولاړ نه شي ، د خلکو پام ځانته راوا نهړوي ، او د ده د مېرمنې په وینا ، له هوایي سوداګرۍ څخه یې لاس واخیست. د بلجیم هېواد له لوري د ده د تورنېدو په پام کې نیولو سره ، ملګرو ملتو پر ۲۰۰۲ ز کال له یو ځایه بل ځای ته د ده پر تګ راتګ بندیز ولګاوه ، او پر ۲۰۰۵ ز کال یې له امریکا متحده ایالاتو سره په ګډه دا غوښتنه وکړه ، چې بانکي حسابونه دې یې کنګل شي . همدا راز د هغو اشخاصو او کمپنیو ، چې له ده سره تړاوونه لري ، بانکي حسابونه دې هم کنګل شي. "بوت" وروسته دا خبره څرګنده کړې وه ، چې د ملګرو ملتو ټولنې له خوا د لګول شویو بندیزونو په پایله کې ده نږدې ۱۷ میلیونه ډالر له لاسه ورکړل.

د ۱۹۹۰ ز کلونو په پای کې د امریکا متحده ایالاتو حکومت د "ویکتور بوت" د کار پلټنه ( تحقیق ) اعلان کړه . پر ۲۰۰۲ ز کال د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر کشر جارج بوش یو فرمان لاسلیک کړ او د هغه په ترځ کې یې د "بوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

«اکتیفونه کنگل اعلان کړل، ځکه چې د ده کار او کارندتیا د کانگو په دموکراتیک جمهوریت کې د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست پلي کېدو ته گوابښ پېښاوه.

پر ۲۰۰۸ ز کال د امریکا متحده ایالاتو له نښه یي توکیو سره د مبارزې د ادارې کارکوونکیو د کولمبیایي پاڅونوالو په نامه " بوت " په چل سره بانکوک ته وروغوښت ، په دې مانا چې دوی غواړي له "بوت" سره ، دوی ته د نوې وسلې د ورکولو په برخه کې یوه معامله وکړي. دوی د " بوت " د نومبدلو لپاره کومه ټایپي ثبتونه هم کړې وه ، چې وروسته یې بیا د امریکا متحده ایالاتو په نیاوتون ( نیاوځي ، محکمه ) کې د یو ثبوت په توگه خدمت وکړ. د ۲۰۰۸ ز کال د مارچ پر ۶ " بوت " د «Sofitel Silom Road» په نامه مېلمستون کې د ټایلېنډ ځارندویو له خوا ونیول شو . د ده د نیولو امرلیک د ټایلېنډ د نیاوتون له خو ورکړ شوی وو . په هغه کې دی له کولمبیایي ترهگرو سره د مرستې په نامه تورن شوی وو ، هغه کولمبیایي ترهگر ، چې له اره امریکایي ځارگران ول ، خو ځانونه یې " بوت " ته د کولمبیایانو په نامه ورپېژندلي ول.

په ټایلېنډ کې له " ویکتور بوت " سره " اندری اینډریو سمولیان " ، چې د لویې بریتانیا تبعه وو ، هم یو ځای ونیول شو ، خو وروسته بیا خوشي کړای شو . د اسې ښکاري ، چې د بریتانیا دغه تبعه د ده مرستندوی وو . اټکل کیږي ، چې " سمولیان " په دغه وخت کې له امریکایي ځانگړیو خدمتونو سره همکاري درلوده ، چې د دوی او " بوت " تر منځ خبرو اترو کې منځگړی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۹ ز کال د اگست پر ۱۱ د تایلېنډ نیاوتون ونه غوښتل ، چې " بوت " له خپل هېواد څخه بهر کړي. لامل یې دا وو ، چې د ده گناه دومره نه وه چې له هېواده پرې بهر و ایستل شي. بله خبره دا چې نیاوتون څرگنده کړه ، هغه کولمبیایي سخت دریځه سازمان ، چې د تورلگوونکو د تعبیر له مخې " بوت " پرې وسله پلورله ، هغه په اصل کې ترهگریز سازمان نه ، بلکې سیاسي سازمان دی. د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۰۱ ز کال پرېکړې سره سم دغه هېواد او وروسته اروپایي ټولنې د خپلې پرېکړې له مخې په دې ټینگار کاوه چې دغه سازمان دې د ترهگریزو سازمانونو په نوملړ کې ونیول شي ، خو د هماغه کال د سیپټمبر پر ۲ د بانکوک جنایي نیاوتون ونه غوښتل ، چې په ضمانت سره یې خوشي کړي.

د ۲۰۱۰ ز کال د فبرورۍ پر ۱۷ ، د نیویارک څارنوالۍ ، د دوو الوتکو په تړاو " بوت " بیا تورن کړ. دغه دوې الوتکې ، چې په امریکا متحده ایالاتو کې وې ، " بوت " غوښتل له خپل امریکایي ملگري " ریچارد چیچاکلي " سره په گډه رانیسي.

د ۲۰۱۰ ز کال د اگست پر ۲۰ ، د ټایلېنډ د تمیز نیاوتون ، د ټایلېنډ څارنوالۍ د غوښتنپاڼې په ځواب کې بیا هم امر ورکړ ، چې د امریکا متحده ایالاتو چارواکیو ته مثبت ځواب ورکړي او له هېواد څخه یې د " بوت " د ایستلو امر ورکړي. د نیاوتون ددغې پرېکړې په ځواب کې ، د " بوت " د مدافع وکیل له خوا پروټیسټ څرگند شو او له دې وروسته څه مهال نورو نیاوتوني پروسو ونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوامبر په نیمايي کې د تایلېنډ چارواکیو وروستۍ پرېکړه وکړه ، چې " ویکتور بوت " امریکا متحده ایالاتو ته وسپاري.

د ۲۰۱۰ ز کال د نوامبر پر ۱۷ سهار هغه الوتکه ، چې " بوت " پکې سپور وو ، د امریکا متحده ایالاتو د " ستیورات " د پوځي هوايي اډې په هوايي ډګر کې راښکته شوه . " بوت " د " منهېټن " نیاوتون ته په زغره وال ګاډي کې ولېږدول شو ، چې د یو کاروان په منځ کې روان وو . [...]

لنډه دا چې د ۲۰۱۱ ز کال د نوامبر پر ۲ د نیاوتون له خوا د امریکايي وګړیو په وژنه ، د امریکايي رسمي چارواکیو د وژنې په هڅه ، د توغندیو په پلور ، د کولمبیايي وسله والو ډلو له لارې د ترهګرۍ پر ملاتړ تورن شو .

د ۲۰۱۲ ز کال د اپرېل پر ۵ " ویکتور بوت " د نیویارک فدرالي نیاوتون له خوا پر ۲۵ کاله بند محکوم شو . د حکم تر اعلانولو وروسته " بوت " د " بروکلین " بندیخانې ته ولېږدول شو .

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د امریکايي نیاوتون د پرېکړې پرضد سخته نیوکه وکړه او ویې ویل ، چې د " بوت " پر ضد دا دوسیه یوه سیاسي او پرمایشي جوړه شوې لوبه ده . وزارت ویلي ، چې دوی به روسیې ته د " بوت " د راستنولو په برخه کې هر ډول ګامونه پورته کړي . [...]

د ۲۰۱۲ ز کال په مې میاشت کې د امریکا متحده ایالاتو د بندیخانو فدرالي بیورو یوه پرېکړه وکړه ، چې د هغې له مخې به " ویکتور بوت " د بند موده ، د کولورادو ایالت د " فلورېنس " ښار په لا سخته بندیخانه کې تېروي . [...]

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسی بربښنايي پوهنغونډ . (۷۱)

د ژباړن يادونه : د «ويکتور بوت» په اړه له دې ليکنې څخه ، چې له روسي بربښنايي پوهنغونډ څخه رااخيستل شوې ، داسې ښکاري چې ځينې خبرې ناويلې پاتې دي . د ده د وسلې د سوداګرۍ ، په تېره بيا په افغانستان کې د شمالي ټلوالې او احمد شاه مسعود سره د وسلې او مهماتو د معاملو اړخونه پکې دومره نه دي بربنډ شوي او په لوی لاس پټ ساتل شوي ، خو زموږ لپاره همدا هم بسنه کوي ، چې ده پخپله منښته کړې ، چې د افغانستان د رباني - مسعود حکومت ته يې وسله او مهمات لېږدول . د دې کتاب په هغه ليکنه کې چې په کندهار کې د طالبانو له خوا پر ۱۹۹۵ ز کال نيول شوې روسۍ الوتکې او له کندهاره د روسي پيلوټانو د تېښتې په اړه ده ، همدا راز په دې کتاب کې له روسي رسنوال سره په يوه مرکه کې د مسعود له څرګندونو ښه مالوميږي ، چې ده ته همدغه " بوت " وسله ورکوله ، مانا دا چې روسيې ده ته وسله ورکوله . اړينه ده وويل شي ، چې په کندهار کې د هماغې نيول شوې روسۍ الوتکې چلوونکې ډلې له منښتې داسې راڅرګنديږي، چې " ويکتور بوت " د روسۍ مافيا سړی دی . بله خبره دا چې ، په همدې کتاب کې د راټولو شويو لاسوندونو پر بنسټ ، پر ۱۹۹۸ زېږدي کال احمد شاه مسعود پخپله په يوه مرکه کې دا منښته ( اعتراف ) کړې وه ، چې روسۍ مافيا ده ته وسله او مهمات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه


1. http://ru.wikipedia.org/wiki/Ахмад_Шах_Масуд

2. http://www.vdv345polk.ru/article.pl?id=444

3. http://www.vdv345polk.ru/article.pl?id=444

4. http://www.kurginyan.ru/publ.shtml?cmd=sch&cat=493&vip=13

5. http://www.continent.kz/1999/04/22.html

6. http://www.kommersant.ru/doc.aspx?DocsID=230030

7. http://www.kommersant.ru/doc.aspx?DocsID=157383&print=true

8. http://www.ng.ru/politics/2000-10-27/1_sindrom.html

9. http://www.vremya.ru/2000/156/5/2780.html

10. http://www.vremya.ru/2000/161/5/3100.html

11. http://www.asia-times.ru/countries/china/rus_china_talibs1.htm

12. http://world.ng.ru/

(c) ketabton.com: The Digital Library

13. http://refugee.memo.ru/For_ALL/COUNTRY.NSF/320becbe0eb62a7ac3256b230053f6be/c6acf69a74b2c597c3256af6002c3b7d!OpenDocument

14. http://kp.ru/daily/22630/12072/

15. http://www.specnaz.ru/archive/11_2001/26.htm

16. http://ru.wikipedia.org/wiki/Захват_самолёта_Ил-76_3_августа_1995_года

17. http://www.argumenti.ru/publications/1308

18. http://www.warlib.ru/index.php?id=000064

19. http://www.afganwar-kino.com/index.php/Geroi-proekta/Ruslan-Aushev.html

20. http://www.ng.ru/world/2001-09-14/1_target.html

21. http://www.agentura.ru/dossier/afghanistan/people/masud/

22. http://www.profile.ru/items/?item=6075

23. http://www.2000.net.ua/print?a=%2Fpaper%2F47427

24. http://i-r-p.ru/page/stream-event/index-7543.html

25. http://top.rbc.ru/politics/18/03/2002/47914.shtml

(c) ketabton.com: The Digital Library

26. http://politkovskaya.novayagazeta.ru/pub/2002/2002-31.shtml

27. http://www.monolithdigest.ru/article_Ochirov_9.html

28. http://religion.ng.ru/printed/88647

29. http://rudocs.exdat.com/docs/index-264393.html#8558121

30. http://www.chekist.ru/article/2564

31. http://forum-msk.org/material/power/759995.html

32. http://www.rossia3.ru/politics/foreign/afganvchera

33. http://www.ishimbay.ru/engine/print.php?newsid=622&news_page=1

34. http://www.itogi.ru/archive/2001/48/109056.html

35. http://ru.wikipedia.org/wiki/Пандшерская_операция

36. http://www.forrum.ru/lofiversion/index.php?t13472.html

37. http://www.nikkolom.ru/article/news_itogi_7_14_09_01.htm

38. http://www.igstab.ru/materials/black/Carfagen2.htm

39. http://www.rubezh.eu/Zeitung/2009/03/06.htm

(c) ketabton.com: The Digital Library

40. http://news.iran.ru/news/2750/

41. http://www.fergananews.com/article.php?id=7081

42. http://www.evro-service.com/files/prik_n_4/p0663.htm

43. http://www.slavmir.ru/arhiv00/smil024.htm

44. http://www.7days.ru/w3s.nsf/Archive/2000_198_crime_text_ukolov1.html

45. http://www.specnaz.ru/archive/10.2000/11.htm

46. http://www.babouchka.net/old.kavkazcenter.com/news/2001/07/09/news1.htm

47. http://www.apn.ru/news/print15212.htm

48. http://www.pravda.info/kompromat/1203.html

49. http://www.polemics.ru/articles/?articleID=4610&hideText=0&itemPage=1

50. http://belta.by/7days.nsf

51. http://exlibris.ng.ru/koncep/2005-04-07/6_drug.html

52. http://mark-edge.ucoz.ru/blog/2009-10-02-6

53. http://www.apn-spb.ru/publications/article6678.htm

(c) ketabton.com: The Digital Library


54. http://www.mk.ru/editions/daily/article/2001/09/17/104110-poslednee-intervyu-masuda.html

55. http://artofwar.ru/m/moskalenko_l_g/text_0060.shtml/

56. http://www.gazeta.ru/2001/11/19/benladenpote.shtml

57. http://www.ferghana.ru/article.php?id=182

58. http://news.iran.ru/news/8734/

59. http://news.bbc.co.uk/hi/russian/russia/newsid_4083000/4083855.stm

60. http://www.ogoniok.com/archive/1996/4478/47-18-23/

61. http://commi.narod.ru/txt/ek/108.htm

62. http://www.wps.ru/ru/pp/happy_russia/2005/04/29.html

63. http://www.vremya.ru/print/20575.html

64. http://supernew.ej.ru/067/world/02/index.html

65. http://army.lv/ru/Zapas-prochnosti/92/4534

66. http://kommersant.ru/doc/283028

67. http://www.specnaz.ru/archive/11_2001/index.htm

68. http://www.kommersant.ru/doc/173550/print

(c) ketabton.com: The Digital Library


69. **Евгений Пахомов, еженедельный журнал Итоги, 5 октября, 1999 года, номер 40 (175) , стр. 45-48**

70. **http://www.westeast.us/11/article/2304.html**

71. **http://ru.wikipedia.org/wiki/Бут,_Виктор_Анатольевич**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځورونه



د نوي یموزېږدي کلونو په نیمایي کې د روسیې د پخواني هېوادمشر باریس یلڅین (۱۹۳۱–۲۰۰۷) د واکمنۍ پر مهال پخپله د ده مرستندوی «یوري میخایلوویچ باتورین» احمد شاه مسعود ته ورلېږل شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«یوري میخایلوویچ باتورین» پر (۱۹۹۳–۱۹۹۸) زکلونو د روسیې د ولسمشر «باریس نیکولایویچ یلڅین» مرستندوی وو. د نوي یمو زېږدي کلونو په نیمایي کې (د ۱۹۹۶ ز کال پر شاوخوا) احمد شاه مسعود ته ورلېږل شوی، له هغه سره یې پټه لیدنه کتنه کړې، د پوځي او سیاسي مرستې ژمنې یې ورسره کړې وې. مسعود پخپله د دغې لیدنې کتنې په اړه په یوه مرکه کې اعتراف کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه مسعود او د روسي ځارګرۍ (کې.جي.بي) ډګروال رينات تيمېرووېچ امينوف، د ۱۹۹۸ز کال د جولای مياشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه مسعود او روسی رسنوال «الېکساندر کنیازېف»، چې همهال د روسيې د کشف او پوځي ځارگرۍ کارمند وو. کنیازېف په یوه مرکه کې ویلي چې ده له مسعود سره ښه پېژندگلوي درلوده، ډېر ځلي يې ورسره ليدنې کتنې کړې، په سفرونو کې او ان په جبهه کې هم ورسره ملگری وو. دا عکس پر ۱۹۹۸ ز کال په تخار ولايت کې اخيستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه مسعود ، امرالله صالح او روسی پوځي څارګر «الېکساندر کنیازېف».
د ۱۹۹۸ز کال د اپرېل میاشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد شاه مسعود او روسي پوځي ځارګر «الېکساندر کنیازېف» یو بل ګډ انځور. ۱۹۹۹ز کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسيې د کشف او پوځي څارگرۍ کارمند «الېکساندر کنيازېف» او د شمالي ټلولي يو بولندوی انجنير محمد عمر تالقانو ته نږدې په جبهه کې، د ۱۹۹۸ ز کال دوبی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ښۍ نه کیڼې خواته: د احمد شاه مسعود نږدې ملګری محمد داود داود، انجنیر محمد عمر او روسی پوځي ځارګر «الېکساندر کنیازېف».

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال «والېنتین یوانوویچ وارېنیکوف» (۱۹۲۳-۲۰۰۹ ز کلونه) یو له هغو جګپوړو شوروي او روسي جنرالانو څخه وو چې له مسعود څخه د شخصیت جوړولو، له مصنوعي لویولو او له هغه سره د پټو اړیکو لرلو ته ډېر لېوال وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




جنرال «وارېنيکوف» په ۲۰۰۸ ز کال له څو نورو کسانو سره کابل ته يو سفر وکړ. د دغه سفر په ترڅ کې يې له برهان الدين رباني، محمد فهيم قسيم، عبدالله عبدالله، او د مسعود له ورور ضيا مسعود سره وکتل. همدا راز پنجشېر ته ولاړ او هلته يې د مسعود ارامځای هم وکوت. په دې عکس کې جنرال «وارېنيکوف» له خپلو څو نورو ملګرو سره ليدل کېږي چې لاس پر سينه د مسعود درناوی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




روسی جنرال وارېنیکوف په کابل کې له عبدالله عبدالله سره، ۲۰۰۸ ز کال. دی د مسعود تر عکس لاندې عکس اخیستل د ځان لپاره یو ویاړ بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارشال «یگر دمیتریویچ سېرګېیف» ( ۱۹۳۸–۲۰۰۶ )، چې پر (۱۹۹۷ – ۲۰۰۱ ) ز کلونو د روسیې د دفاع وزیر وو ، د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبه کې یې څو ځلي له احمد شاه مسعود سره پټې لیدنې کتنې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسیې د بل هېوادمشر ولادیمیر پوتین د واکمنۍ پر مهال له مسعود سره د پوځي او سیاسي مرستې لړۍ نه یوازې چې ادامه ومونده، بلکې لا پیاوړې هم شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د شوروي اتحاد د سمندري پوځ ډگروال «باریس فیودوروویچ برېمبېنکو» پر ۱۹۸۹ ز کال، چې کله شوروي پوځونه له افغانستانه وتل، نو دی مسعود ته ورلېږل شوی وو او له هغه سره یې داسې هوکړه کړې وه چې د شوروي پوځونو د وتلو پر مهال به پر شوروي پوځونو بریدونه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په افغانستان کې د روسيې سفير «ميخاييل الېکسېيويچ کوناروفسکي» (د ۱۹۴۴ ز کال زوکړه)، د روسانو لپاره په افغانستان کې د تر ټولو ستر او پټ ملګري مسعود قبر ته ګلان ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه مسعود د پنجشېر زمردو، چې د هېواد ملي شتمني ده، د را ايستلو او سوداګرۍ له لارې په کال کې په سوونو ميليونه ډالر تر لاسه کول. د قيمتي ډبرو سوداګري د کورنۍ جګړې د ادامې لپاره يوه ډاډمنه سرچينه وه. ځينې روسي سرچينې ليکي چې مسعود په افغانستان کې تر ټولو ډېر شتمن کس وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مصنوعي ډول له مسعود نه د شخصیت جوړولو هڅې، (کارتون).

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**